# قرآني تړونونه

## د الله تعالی او انسانانو ترمنځ د اړیکو قانوني زاویې

لیکوال

احمر بلال صوفي

د مذهبي چارو لپاره د څېړنو نړیواله شوری

اسلام آباد پاکستان



ټول حقوق د لیکوال دي

د کتاب نوم : قرآني تړونونه: د الله تعالی او انسانانو د اړیکو قانوني زاویې

لیکوال : احمر بلال صوفي (د پاکستان د قانون پخوانی وفاقي وزیر)

پښتو ژباړه : زینب سالک

بیا کتونکی او وړاندې کونکی: محمد اسرار مدني

ډیزاین او پښتې : مشتاق دُراني

خپرونکی : کتاب کور پېښور دوکان نمبر ایل جي 8 شېخ

یاسین ټاور ارباب روډ سټاپ یونیورسټي روډ پېښور

ټیلفون شمېره: 03319801600 -03140051546

شمیر : 500

د خپرولو کال : دسمبر 2024ء

چاپ :

ویب سائټ ادرس: Www.Tahqiqaat.pk

# تړون

د قرآني تړونونو لوړ ليکوال، لومړي شاهد،د الله تعالی سفير نبي او
وروروستي پيغمبر محمد مصطفی بن عبدالله صلی الله عليه وسلم په نامه



# ليکلړ

عنوان


| | | |
|---|---|---|
| 1 | سريزه: محمد اسرار مدني ........................................... | 8 |
| 2 | پيژند ګلوي:............................................................ | 16 |
| 3 | تړون څه وي؟.......................................................... | 20 |
| 4 | تړون او د شريعت ژمنه............................................ | 22 |
| 5 | د تړونونو ډول.......................................................... | 24 |
| 6 | لومړی باب: تړونونه د قرآن له مخې.......................... | 29 |
| 7 | د ورځنيو تړونونو پر ځای کول................................... | 29 |
| 8 | د نړيوالو تړونونو پر ځای کول................................. | 32 |
| 9 | د ملکي قوانينو منل................................................... | 34 |
| 10 | دويم باب: له مسلمانانو سره د الله تعالی تړون | 37 |
| 11 | د الله تعالی او هر مسلمان ترمنځ ژمنه....................... | 37 |
| 12 | د کليمې ژمنه........................................................ | 40 |
| 13 | د رسيدو ژمنه........................................................ | 41 |
| 14 | د خبرو اترو ژمنه................................................... | 42 |
| 15 | د دعا ژمنه............................................................ | 43 |
| 16 | د بخښلو ژمنه....................................................... | 45 |
| 17 | د رحم ژمنه.......................................................... | 47 |
| 18 | د شکر ايستلو ژمنه................................................ | 48 |
| 19 | د سخاوت ژمنه..................................................... | 50 |
| 20 | د عبادتونو او شعائرو ژمنه........................................ | 51 |

| | | |
|---|---|---|
| 21 | د لمانځه ژمنه........................................................ | 52 |
| 22 | له خپل ځايناستي سره ژمنه................................ | 55 |
| 23 | د پيرل شوي مومن ژمنه..................................... | 57 |
| 24 | د وکيل ژمنه.............................................................. | 59 |
| 25 | د خالق او مخلوق ژمنه.............................................. | 61 |
| 26 | د پوروړي او پور ورکونکي ژمنه.............................. | 62 |
| 27 | ( څوک چې له ماسره مرسته وکړي، زه به هم له هغه سره مرسته کوم) د دې خبرې ژمنه | 63 |
| 28 | (څوک چې ما هېر کړي، زه به يې هم هېر کړم) د دې خبرې ژمنه | 64 |
| 29 | ( ته ما ياد کړه زه به تا ياد کړم) د دې خبرې ژمنه | 66 |
| 30 | د الله تعالی د مينې د ورګرځېدلو ژمنه....................... | 66 |
| 31 | د پنا ورکولو ژمنه................................................. | 69 |
| 32 | د انعام او اکرام ژمنه............................................... | 70 |
| 33 | د سزا ژمنه............................................................ | 72 |
| 34 | له ستونزې وروسته د اسانۍ ژمنه........................... | 74 |
| 35 | له صبر کونکي نر او ښځې سره ژمنه......................... | 76 |
| 36 | د ميړه او ميرمنې ترمنځ ژمنه................................ | 78 |
| 37 | د دنياوي پوهې د لاسته راوړلو ژمنه........................ | 80 |
| 38 | د دنياوي سيالۍ ژمنه............................................. | 82 |
| 39 | له کاروباري وګړو سره ژمنه................................... | 85 |
| 40 | د رسول د پيروۍ ژمنه.............................................. | 87 |
| 41 | له الله تعالی سره خالصې ژمنې.................................. | 90 |





| | | |
|---|---|---|
| 42 | د اعمالو د ثبت او ريکارډولو ژمنې......................... | 90 |
| 43 | له کافرو او غير مسلمو سره د الله تعالی ژمنه ............. | 92 |
| 44 | له منافقانو سره د الله تعالی ژمنه............................... | 95 |
| 45 | دريم باب: ټولنيز تړونونه........................................ | 96 |
| 46 | د شريعت تړون........................................................ | 96 |
| 47 | د دولت او ملکي کس تر منځ ژمنه.............................. | 98 |
| 48 | د امانت لرونکي ژمنه................................................ | 100 |
| 49 | د ټولنيز ژوند تړون................... ............................. | 102 |
| 50 | د دوديزو قوانينو د برلاسۍ ژمنه ( اولوالامر) ............. | 104 |
| 51 | د چارواکو د پيروۍ ژمنه ( امر بالمعروف)................ | 105 |
| 52 | د جهاد ژمنه............................................................ | 107 |
| 53 | د سوګندونو ژمنه..................................................... | 108 |
| 54 | د مشورې ژمنه........................................................ | 109 |
| 55 | له دريم ګړي سره ژمنه............................................. | 111 |
| 56 | د نيک عمل د مشورې ورکولو ژمنه........................... | 113 |
| 57 | د نيک عمل ژمنه...................................................... | 115 |
| 58 | د انساني درناوي ژمنه.............................................. | 116 |
| 59 | د حقوق العباد( بندګانو د حقونو ) ژمنه......................... | 119 |
| 60 | د مسيحيانو او يهودو اړوند قراني تړونونه .................. | 120 |
| 61 | څلورم باب: پراخه تړونونه...................................... | 123 |
| 62 | د کايناتو چلولو ژمنه................................................ | 123 |
| 63 | له انساني روحونو سره د الله تعالی ژمنه( د الست ژمنه) | 124 |

64 له ابیلس سره ژمنه.................................................... 125
65 د انساني نسل ته د رزق ورکولو ژمنه.............................. 127
66 د واکمنۍ ژمنه.................................................. 129
67 د استونکي او لاسته راوړونکي ژمنه............................. 130
68 د سمبالونکي ژمنه.................................................. 132
69 د پیغمبرانو د درناوي او وقار ژمنه.................................. 133
70 له هر پیغمبر سره ژمنه............................................. 135
71 د وروستني پیغمبر ژمنه.............................................. 136
72 د الله تعالی د خبرتیاوو او ضمانتونو ژمنه ................. 137
73 د جزا د ورځې د راتلو ژمنه................ ............ 137
74 پنځم باب: قراني تړونونه، نور بحث............................ 139
75 د قران ایتونه یا ( )............................................ 139
76 د تړونونو پلي کول............................................... 141
77 د رسۍ ژمنه................................................... 143
78 ایا تړون د الله تعالی واک محدود کولی شي؟................. 145
79 د دې مطالعې کته.................................................. 146
80 لنډیز......................................................................... 149




# سریزه

له ښاغلي محترم استاد احمر بلال صوفي سره مې په لومړي ځل د اسلام اباد د نیشنل ډیفینس پوهنتون په نیشنل سکیورټي ورکشاپ (ملي امنیتي ورکشاپ) درانه کورس کې ولیدل. هغوی د بین المللي قانون او پاکستان ته په دې برخه کې د ورپېښو ستونزو پر اړه یوه عالمانه وینا وکړه. هغه مهال زه د اکوړه خټک په حقانیه دارالعلوم کې د مؤتمر المصنفین څانګې مشر او مرستیال وم. د صوفي صیب د بین المللي قانون پر اړه وینا ډېر اغیزمن کړم. او یو شمیر چارو ته یې له سره په غور کولو اړ کړم. په همغه ځای کې مې پریکړه وکړه چې په راتلونکې کې به د دیني عالمانو. مدرسو د استاذانو او مفتیانو صاحبانو په غونډو او ورکشاپونو کې صوفي صیب ته بلنه ورکوم. چې زما په ګډون نور زده کونکي له بین المللي قانون سره اشنا کړي.

احمر بلال صوفي د سهیلي اسیا مشهور بین المللي وکیل او د پاکستان پخواني د قانون وفاقي وزیر دی. اوس مهال د پاریس ( د منځګړتوب لپاره بین المللي محکمې) غړی دی. د انصاف په بین المللي محکمه او نورو بین المللي محکمو په چوکاټ کې یې استاځولي هم کړې ده. د څو کلونو لپاره یې په پنجاب پوهنتون کې د بین المللي قانون تدریس هم کړی دی. او په ټوله نړۍ کې یې پرې لکچرونه ورکړي دي. د بین المللي قوانینو په چارو کې ورسره د او آی سي ی عمومي سکرتر مشورې هم کړې دي. هغه د یوه مشهور فکري مرکز (تنک ټینک) ( د بین المللي

دومره خوځنده دی چې که ته په کې خپل ځان او ارزښتونه سم وساتې، نو نه یواځې دا چې په خپل مسلک کې به بریالی یې، بلکې د خپلې ټولنې، هیواد او دین لپاره هم یو ښه کردار ادا کولی شې. سربیره پر دې ما له بین المللي قانون سره هم مینه درلوده. ما انګېرله چې پر بین المللي قانون پوهیدو باندې ډیرې چارې سمیدلی شي. ما په دې برخه کې د خپل هیواد او ټولنې د ډیری وګړو او مسلکي دوستانو لارښوونه کړې ده. ما ډیر ځله لیدلي دي، چې کله خلک د پاکستان د مسایلو پر اړه ګړیږي، جذباتي فکر لري. په کیمبرج پوهنتون کې د زده کړو پر مهال ما پر دې د پوهیدلو هڅه وکړه چې د پاکستان ستونزې کومې دي، او تر ټولو بنسټیزې ستونزې یې کومې دي. ځکه چې بین المللي قانون په حکومت پورې اړه نه لري. چې د هیواد چارواکی دی، او څوک د ولایت چارواکی دی. ځکه چې د بین المللي قانون ټولې اړیکې د حکومت له ځانګړو مسایلو سره دي. پر دې اړه په پاکستان کې ډیر سوء تفاهم شتون لري. پر دې پوهیدنه اړینه ده چې بین المللي قانون څه ډول له پاکستان سره مرسته کولی شي، او څه ډول ترې ګټه پورته کیدی شي.) ۱

څه موده وړاندې صوفي صیب ناروغ شو، او د درملنې پر مهال یواځیتوب ته لاړ. هغه ډیر کلونه د بین المللي قانون د پراخې تجربې په تناظر کې د قران کریم مطالعه وکړه. او د قران کریم قانونې کړنلاره ورته څرګنده شوه. خپل قلم یې راپورته کړ او پرله پسې لیکنې یې وکړې، او په انګلیسي ژبه یې یوه رساله (قرآني ترونونه: یوه پیژندګلوي)



قانون د څېړنو ټولنې) ار ایس آی ایل بنسټ هم کیښود. چې د بین المللي قانون د پوهاوي د اړتیا پر اړه دی.(د مذهبي چارو لپاره د څیړنې نړیوالې شورې) تر اهتمام لاندې بیلابیلو جوړو شویو روزنیزو غونډو ته صوفي صیب خپل ارزښتناک وخت ورکړی دی، او په رضاکارانه ډول ورته راغلی دی. له بلابیلو برخو څخه یې لویو علماؤ ګټه پورته کړې ده. یوه پروګرام کې یې د بین المللي قانون له مخې د خپلې پیژندګلوۍ په ترڅ کې داسې وویل:

( له نن څخه ۳۵ کاله وړاندې چې زه له لاهور ګورنمنټ کالج څخه فارغ شوی وم، غوښتل مې چې حقوق ولولم. زما مور او پلار دواړه ډاکټران وو. پلار مې د هري پور و، او مور مې د ډیلي وه. واده یې په کوټه کې کړی و، او زه په لاهور کې نړۍ ته راغلی یم. له لومړیو څخه مې حقوق خوښ وو، او ما فکر کاوه چې یواځې وکالت به کوم. نو ځکه مې د نورو برخو ډیری چانسونه پریښودل. لکه سي ایس ایس، د بانک کار، او داسې نور.زما موخ همدا وه چې زه به وکیل کیږم. او لامل یې داو، چې زه په وړوکوالي کې د قاید اعظم له یوه انځور څخه ډیر اغیزمن شوی وم. ما یو انځور لیدلی و، چې هغه په کې یو دروند لباس اغوستی و. او خپل کتابتون کې ولاړ و. دا انځور ډیر اغیزناک و. د قائد اعظم په څیره کې یو ځانګړی وقار او درناوی و. ما وانګیرله چې دا عظمت او درناوی د هغه له مسلک سره تړلی دی. نو سمدستي مې پریکړه وکړه چې زه به هم وکیل کیږم. بیا مې دا احساس هم وکړ چې دا مسلک

بشپړه او خپره کړه. له دې سره سره یې د کیو سي ار سي( د قراني ترونونو د څیړنو مرکز) په نامه یو مرکز هم په خپل دفتر کې پرانیست. صوفي صیب د دې څیړنو د موخې د بیانولو په ترڅ کې وایي:

(په اسلامي تاریخ کې د قرانکریم اړوند ډیری لیکنې د شریعت د موخو، فقهي اصولو، احکامو او مسایلو پر مدار را څرخي. سره دې هم د قران کریم اړړند د ترون پر اړخ دومره کار نه دی شوی. چې دا ترې روښانه شي، دا کتاب د الله تعالی او په انفرادي او ټولنیزه سطحه د بنده تر منځ د یوې ژمنې او ترون کړنلاره ده. ځینو پوهانو دې چارې ته اشاره کړې ده. دا مقاله د همدې تشې د ډکولو هڅه ده. او په کې روښانه شوې ده چې ژمنیزه کړنلاره د قرانکریم یوه ځانګړنه ده. چې اړوندې لارښوونې، قوانین، پندونه، احتیاطي چارې، باورونه او تنبیهات یا یادونې په کې موندل کیږي. دا مطالعه په ځانکړي ډول د قرانکریم د پیغام د پوهاوي هڅه هم ده. ځکه چې دا پراخ ټولنیز، کلتوري او قانوني اغیز لري. د بیلګې په ډول د قرانکریم پر ژمنیز اړخ غور کول، اسلامي ټولنو ته یوه نوې زاویه وړاندې کوي. او د شونتیا تر کچې پر پالیسۍ او قانون جوړونې اغیز کوي. دغه راز دا څیړنه په علمي دائره کې ډیره مهمه ده،او د حقیقي نړۍ له مسائلو سره اړخ لګوي. سربیره پردې دا مقاله په ځانګړي ډول په قرانکریم کې په شته بیلابیلو ترونونو رڼا اچوي. د قرانکریم اسلوب ، اصطلاحاتو او ټکو ته په کتو سره دا مقاله د الله تعالی او مخلوق ترمنځ د اړیکو بیلابیل اړخونه څرګندوي.) ؟



هغوی چې د دې ځانګړې څیړنې پر اړه لنډ معلومات ورکړل نو ما وعده وکړه چې د دې رسالې اردو ژباړه به زمونږ اداره کوي. د تیرو دریو میاشتو پرله پسې هڅو وروسته د څیړنو د اري ډلې وړ او فاضل غړي ښاغلي شفیق منصور دا ژباړه په ډیر ښه ډول سره بشپړه کړه. د دې کتاب ژباړه له ډیرو ستونزو سره مخ وه. په ځانګړي ډول د قانوني اصطلاحاتو تشریح او تعبیر یوه پیچلې مسئله وه. چې صوفي صیب په کې ښځپله زمونږ لارښوونه وکړه. زمونږ لپاره دا د ډاډ وړ وه، ې انګلیسي ښې ته یې د هیواد سترو پوهانو بیا کتنه وکړه، چې نومونه یې په لاندې ډول دي:

ډاکټر قبله ایاز( د اسلامي نظریاتي شوری پخوانی مشر)ډاکټر خالد مسعود( د سترې محکمې د بیا کتنې د غوښتلو څوکۍ غړی) ) ډاکټر محمد منیر(د اسلام اباد د بین المللي پوهنتون د شریعت اکاډمۍ پخوانی ریس) شیخ اسماعیل موسی( د سهیلي افریقا مفتي) ډاکټر محمد محسن نقوي(د اسلامي نظریاتي شوری پخوانی غړی) ډکټر محمد مشتاق( د اسلام اباد د بین المللي پوهنتون د شریعت اکادمۍ پخوانی ریس) پروفیسر عمران احسن نیازی( د اسلام اباد د اسلامي پوهنتون د بین المللي قانون پروفیسر) ډاکټر سید عاطر رضوي(د لاهور د ګورنمنټ کالج پوهتنون د قانونو د څانګې مشر) سید معاذ شاه (ضیاءالدین پوهنتون) مولانا راشد الحق سمیع( د اکوړه خټک د حقانیه دارالعلوم د الحق میاشتنۍ اعلی مدیر)

زما پر اند د قرانکریم دا ځانګړی او څیړنیز اړخ پر اهل علمو

پور و. چې زمونږ احمر بلال صوفي صيب ادا کړ. که په مسلمانو ټولنو کې په روزنيز نظام کې دا ځانګړی اړخ په پام کې ونيول شي، نو زه سل په سلو کې په دې باوري يم چې بې قانوني به ترې پاکه شي، او خلک به ځان الله تعالی ته ډېر نږدې احساس کړي، د تړونونو په اهميت به وپوهيږي، او په عمومي توګه به له مذهب سره د انسان د اړيکو يوه اسانه او عام فهمه بڼه رامنځته شي.

دا د قراني ايتونو يو قانوني شاليد هم دی. دا قانوني شاليد يواځې هغې چارو ته اړوند نه دی چې د چارواکو د واک په دايره کې راغونډ دی.د قرانکريم له شپږزرو څخه په ډېرو ايتونو کې يواځط سل ايتونه عبادتونو لکه لمونځ، روژه، حج او نورو ته ځانګړې شوي دي. اويا ايتونه د شخصي قانون پر اړه دي. د ټولنيز قانون پر اړه هم نږدې همدومره ايتونه دي. ديرش ايتونه د تعزيراتي قانون پر اړه دي، او شل ايتونه عدليه معاملات او شاهدي رانغاړي. سربيره پر دې نږدې شل ايتونه د انصاف انتظام څيړي. ځينې پوهان يې بل ډول شميري، ګواکې له پنځو سو څخه لږ ايتونه شرعي احکامو سره اړه لري. نو د انسان ذهن ته پوښتنه راځي چېنږدې شپږزره ايتونه څه قانوني حيثيت لري. دا څيړنه مونږ باوري کوي چې ډېری ايتونه د الله تعالی او انسان تر منځ د ژمنو او تړون پر اړه دي. نو ځکه ډېر لږ ايتونه داسې دي چې هغه مهال پلې کيدی شي چې حکومت اسلامي وي. نو بيا د قران د نورو ايتونو ډول څه دی؟ له دې څيړنې څخه څرګنديږي چې ډېر ايتونه د الله تعالی او انسان که



مسلمان وي او که نه، تر منځ د ژمنو او تړون بڼه غوره کوي. ۳

کله چې د اسلامي ليدلورې له مخې د تړون خبره کيږي نو په عام ډول له بيلابيلو قبيلو او ډلو سره د رسول الله ص د کړو تړونونو يادونه کيږي. په دې کې هم ډېر څرګند اړخ عامه اړيکې او په ځانګړي ډول له مسلمانو او نامسلمانو سره د اړيکو شاليد وي. دغه شان په قرانکريم کې هم د تړونونو پر اړه په همدې اړخ خبرې کيږي. او د څو داسې تړونونو پر تفسير تمرکز کيږي چې د موضوع پر اړه يې متن صريح وي. د دې کتاب ليکوال ښاغلي احمر بلال صوفي په قرانکريم کې د تړونونو هغه ځانګړی اړخ بيان کړی دی چې د ډېرو لږو پوهانو پام وراوښتی دی. هغوی روښانه کړې ده چې د تړون (کوونټ) مانا ډېره پراخه ده. او په څوو بڼو دی. په قرانکريم کې چې کوم اسلوب غوره شوی دی، او لکه څنګه چې د ټول انسانيت په ځانګړې توګه له مسلمانانو سره د الله تعالی اړيکه، يا په اسلام کې د ننوتو او ترې د وتو کوم اصول او ضوابط، وعدې او عيدونه او ګټې او تاوانونه بيان شوي دي، په څرګنده توګه تړونيزه لهجه او شاليد لري. د دې کتاب په لوستلو سره د قرانکريم يوه نوې زاويه رامخې ته کيږي، او هر انسان يې له امله ځان الله تعالی ته ډېر نږدې احساسوي. او د کايناتو د خالق خطاب ورته ماورايي او بلاغت له اعجازه په ډک حالت کې ډېر اسان او عام فهمه ښکاره کيږي.

له ديني ادبياتو سره د اړيکو له امله دا ډول موضوعات زړه نږدې شوي دي. او تل دا ليوالتيا شتون لري چې د مذهب او ديني متونو هغه

تعبیرات خلکو ته څرګند شي، چې په لوستلو سره یې خلک دین ته نږدې کیږي، او دین او دیني شعایرو او احکامو باندې پوهیدل ورته اسانیږي. هغه داسې ونه انګیري چې د هغه او الله تر منځ کومه پرده یا بندیز شتون لري. نو ځکه مې چې د دې کتاب انګلیسي بڼه په لومړي ځل ولوسته نو ډیر روحاني سکون مې احساس کړ. د الهي کلام دا اړخ د دین په هکله د یوه مسلمان پوهه په بشپړ ډول رااړوي. او د دین انځور ورته د پیچلتیا پر ځای ډیر ساده او روښانه ښکاروي.همدا د دې کتاب تر ټولو لویه ښیګڼه ده.

د دې کتاب بله ځانګړنه دا ده چې ژبه یې ساده او روانه ده. نو ځکه یواځې د پوهې خاوندان نه بلکې بل هر څوک چې لوستی وي، او له دین سره لږه اړیکه ولري د دې کتاب په مطالبو پوهیږي.

د کتاب اهمیت ته په کتو مې زړه غواړي چې په ښوونیز نصاب کې شامل کړل شي. که د مدرسو څښتنان ورته پاملرنه وکړي. دغه راز که د عصري ښوونیزو ادارو په دیني نصاب کې شامل شي، نو دا به د دین لپاره لوي خدمت وي. نه په کې کومه مسلکي خبره شته، او نه په کې باریکې موضوع ګانې راغلې دي. دا یواځې له الله تعالی سره د یوه انسان د اړیکې د ټینګولو او روښانه کولو هڅه ده. دا به نوي ځوانان په روحاني ډول دین ته لا نږدې کړي.

محمد اسرار مدني

د مذهبي چارو لپاره د بین المللي څیړنو د شورى

مشر او د تحقیقاتو مجلې اعلی مدیر



# پیژندګلوي

د قران کریم پوهان او مفکرین له پیړیو څخه د قراني مطالعې یا علوم القران په مرسته د قرانکریم پیغام تشریح کوي.او په عمومي توګه یې قانوني اړخ په شریعت یا د فقهې په اصولو کې پلټل کیږي. او مومنانو لپاره اخلاقي قوانین په نښه کیږي. او یا یې ډیره پاملرنه هغې برخې ته کیږي چې ډیری وخت احکام القران بلل کیږي. خو بیا هم د خالق او یوه مسلمان ترمنځ د تړون د قانوني اړانې هومره څیړنه نه ده شوې، څومره چې اړینه ده. او پوهانو(٤) دا په اوسمهالي اسلامي چارو کې یوه تشه بللې ده. دا کار د دې تشې د ډکولو یوه هڅه ده.(٥)

دا څیړنه د دوو لاملونو له کبله مهمه ده.

لومړی: قران باید یواځې د مذهبي لیدلورې له مخې مطالعه نه شي، بلکې هغه ټولنیز، کلتوري او قانوني اړخونه هم لري. د نړۍ د نږدې دوه ملیارده وګړو لپاره قرانکریم یواځې یو سپیڅلی کتاب نه دی، بلکې د یوه ټولنیز او کلتوري نظام بنسټ هم دی. نو ځکه د دې په بنسټیز جوړښت او پیغام پوهیدل د مسلمانو ټولنو او د هغوی د قانوني چارچوکاټ لپاره یو غیر معمولي اړخ وړاندې کوي.

دویم: د قرانکریم تفسیر بیلابیل اړخونه لري. دا چې د دې پیغام کې کوم بنسټیزه ځانګړتیا شتون لري که نه؟ او ایا د دې جوړښت کې د تړون تصور شته که نه؟ پر دې اړه ډیره لږه څیړنه شوې ده. د دې اړخ جاج اخستل یو نوی لیدلوری رامنځته کوي. او د قران پر اړه زمونږ

پوهه لا ژوره کوي. د یوه مسلمان لپاره له دې څخه انکار کول ګران دي چې، په قرانکریم څه ډول د بیلابیلو تړونونو څرګندونه شوې ده، چې له امله هغه الله تعالی ته ځان د یوې قانوني زاویې په مرسته ډېر نږدې احساسوي.

سره له دې چې دا څیړنه له علمي پلوه اهمیت لري. خو د ټولنه او حکومت پر نظم ونسق هم ژور اغیز درلودلی شي. که مسلمان تړون ته په درناوي قایلیږي.او د ایمان برخه یې بولي، چې همداسې ده هم، نو نو په ورځني ژوند کې کیدونکې ژمنې او پوره کول یې، او او د قانون جوړونې تړونونه(قوانین) هم د سرته رسولو او حرمت وړ دي. مومنان که په هر ځای او هر حکومت کې اوسیږي، نو د خپل چاپیرچل له خلکو سره د کړو ژمنو پوره کولو ته به قایل وي. او د خپل حکومت له لوري د پلي شوي قانون او تړون لاندې به د خپلو کړنو او فرایضو سرته رسولو ته چمتو وي.څوک چې پر قرانکریم ایمان لري هغوی په دې پوهیږي چې د بین المللي تړونونو او کنوینشنونو درناوی اړین دی. یو ځل چې دا بیانیه د مسلمانو پوهانو، ویناوالو او مذهبي برخې د متخصصینو له لورې خلکو ته وړورسیږي، او خبرې اترې پرې وشي، نو له کبله به یې یو ژور فکري بدلون او له قران سره تړاو رامنځته شي.

د اوسمهال د قانوني لهجې لو لصطلاحاتو په خپلولو سره قراني فرمودات او تړونونه د اوسمهال د ځوانانو لپاره د پوهاوي وړ ګرځول شوي دي. د بیلګې په ډول مونږ وینو چې په اوسمهال کې د تړونونو یو



نوی صنف یو اړخیزه لیکل شوي تړونونه( سټنډرډ ټیرم کنټرکټ) دود شوي دي. چې هیڅوک یې پر اړه دا نه مني چې دا باقاعده تړونونه نه دي. یواځې د دې لپاره چې شرائط یې دواړو خواو په ازادانه ډول نه دي طی کړي. د بیلګې په ډول د بانک له لورې یو اړخیزه جوړ شوی اقتصادي تړون. د بیمې د کمپنیو د پالیسۍ تړون، د الوتکې یا ریل پر ټکټونو لیکل شوي شرائط او نور. چې په اوسمهالي محکمې کې چلنج کیدی نه شي. نو دغه شان که چا پر قران کریم پر همدې بنسټ نیوکه کوله چې دا د یو زورور او ځواکمن لوري له اړخه یو اړخیزه تړون دی، نو اوس باید دا نیوکه له منځه لاړه شي، ځکه چې اوس مونږ قرانکریم د الله تعالی له لوري د یو اړخیزه تړون په بڼه په اسانۍ سره خپلولی شو. دا لیدلوری(٦) یوه پیړۍ مخکې نه وو. دغه شان قرانکریم د الله تعالی له لوري د یوه سمن( بیا رامنځته کیدونکې څیز) په بڼه هم باید ومنل شي. چې موخه پر د هر انسان عمل کول دی. که مسلمان وي او که نه. کوم قوم، خلکو او شخص باندې چې دا بشپړ شي، د قیامت پر ورځ به ترې پوښتنه کیږي. په دې ټول تصور د سمن د لیلورې له مخې پوهیدل اسانه دي. چې ین المللي کنونشن او ملکي قوانین په کې له مونږ سره مرسته کوي.

دغه شان د مامور(٧) او آمر د قانوني تصور له مخې د الله تعالی او د هغه د پیغمبرانو تر منځ اړیکې په ډېر ښه شان سره څیړلی او پیژاندلی شو. او ډېر ژر پرې باور کولی شو.چې الله تعالی ولې خپل نیک

پغام رسونکي د کوم ډول لاربنوونې او د هغې له پایلو څخه پاک کړل. نږدې له دوو سو کالو څخه هم لږه موده کیږي چې د قوانینو پر بڼه دا ډول اړیکې رامنځته شوې او وضع شوې دي.

تر لاس لاندې کار پر ګڼ شمیر اړخونو رڼا اچوي. چې په الله تعالی د یوه خلق په توګه له مسلمان او نامسلمان سره اړیکه ساتي. او هره اړیکه په خپل ځان کې یوه ځانګړې ژمنه ده. دا تړونونه او هوکړه لیکونه مونږ د قرانکریم د ژبې، اصطلاحاتو، او الفاظو څخه اخلو. یا د قرانکریم اسلوب په خپله د تړون پر خدوخال زمونږ باور ټینګوي.



# یو تړون څه وي؟

په قرانکریم کې چې الله تعالی د کوم کار( نیکۍ یا ګناه) په بدل کې د انعام یا سزا ژمنه کړې ده. نو کله چې هم کوم مسلمان په دې نیت کومه نیکي کوي چې د قیامت پر ورځ به الله تعالی هغه ته۹ د دې نیکۍ په بدل کې انعام ورکوي، یا یې نیت د الله تعالی رضا وي، نو ګواکې هغه د خپلې برخې هغه کړې ژمنه بشپړه کړه. دغه شان که یو مسلمان د خپل رب د خوشالۍ لپاره د قرانکریم پر هر حکم عمل کوي، نو دا نیت به یې کانسیډریشن (په پام کې نیول) وبلل شي. او یو تړونیز کاري چوکاټ به رامنځته کړي.

په دې کتاب کې د (تړون) کلیمه په پراخه مانا کارول شوېده. خو په دې کې نه یوازې دنیاوي رسمي تړونونه راځي بلکې هغه ژبنیزې ژمنې هم چې خلک یط یو له بل سره کوي په کې شاملې دي. دغه شان د الله تعالی پر اړه د ځواک، شان او شوکت او قوت پرله پسې وعدې هم باید د یوې ژمنې په بڼه ومنل شي. ځکه چې هر دعوه کونکی د خپې کار پر اړه پخپله ضمانت کوي. او لیکي.

دغه شان د الله تعالی بې شمیره یو اړخیزه(۸) دعوې، او پرله پسې یې د خپل ځواک، عظمت، ستونزو له منځه وړلو او حاجت پوره کولو وړاندیز هم یوه ژمنه بلل کیږي.چې د قانون په ژبه ورته (وارنټي) یا ضمانت ویل کیږي. ځکه چې د دې خلاف کار کول به د عمل کونکي خپله پړه وي، او په غاړه کې به یې لویږي.

دغه راز د الله تعالی له لوري د ټول ټال انحصار وړاندیز ته د اوسني قانون په ژبه(فارمل رپريزنټيشن) وايي. او دا چې له دې څخه سرغړونه هم یو دروند قانوني جرم دی، نو ځکه مونږ هم دې ډول وړاندیز ته د الله تعالی له لوري د تړون نوم ورکوو.

تر دې چې دې ته د پابندیدو په اراده شوې وعدې هم په کې شاملې دي.(۹) او د انسانانو ترمنځ ژمنو ته راځو. په نړۍ کې د ورځنیو چارو تړونونو ته. هغه چې سهار او ماښام تر سره کیږي. د دوو ډلو تر منځ چې هره چاره تر سرهکیږي، که کانټکټ وي، که کانوننټ وي، او تریټي (۱۰) وي. په دې ټولو کې ډېر توپیر نه لیدل کیږي.( دې ټولو ته په پښتو کې ژمنه ویل شو). ځکه چې دا د ژمنې بیلابیلې بڼې دي. چې په ملکي او بین المللي قانون کې دود دي. په سرسري نظر سره خو نړیوالې ژمنې د دوو کسانو یا ډلو ترمنځ معامله ښکاري خو په حقیقت کې دا چاره نیغ په نیغه د قرانکریم تر قانون لاندې راځي. ځکه چې الله تعالی د هرې ژمنې څارنه په خپله کوي. او د بشپړیدو او نه بشپړیدو په حالت کې به یې پوښتنه ګرویږنه او سزا یا انعام هم ورکول کیږي. دا خبر هم باید په پام کېونیول شي چې ژبنیزې ژمنې هم په همدې لړ کې راځي.

کله چې مونږ د قرانکریم بیلابیلو ایتونو ته ګورو. نو د دواړو ډلو تر منځ د شوي تړون او یو له بل سره کړنچاره (۱۱)یې د لیکلو له اسلوب څخه پیژنو. هغه تړونونه چې الله تعالی یې له مسلمان سره کوي،



که د ځواک د دعوې په ډول وي، او که د ضمانت په ډول وي. یا د پیغمبرانو د بیانونو په مرسته وي. دې ټولو ته د قرانکریم په اصطلاح کې عهدالله یا د الله ژمنه ویل کیږي. ۱۲

نو د ژمنې دا پراخه تعریف نه یواځې دا چې د دې مطالعې لمن پراخوي بلکې قرانکریم د یو جامع لاسوند په توګه مونږ ته راپیژني.له دې سره سره دا تشریح قرانکریم نیغ په نیغه زمونږ له ژوند او ورځینو کړنچارو سره تړي. ځکه چې ژمنې او باورونه هغه څه دي چې انسان یې له سهاره تر ماښامه پرته له دې چې پام ورته وکړي، بې شمیره ځلې له بیلابیلو اړخونو سره سرته رسوي، او کوي. دا څیړنه هر کس ته دا باور ورکوي، چې هره ژمنه، خبره، دعوه، باور او ډاډ یو قانوني درناوی لري. او په ډېر احتیاط سره باید وکارول شي.

## تړون او د شریعت ژمنه:

د شریعت مانا د ژغورنې د لټون لار ده. یا هغه لاره چې د اوبو خواته دې بیایي. دا کلیمه په قران پاک کې یواځې یو ځل راغلې ده. د شریعت (۱۳) موخه څه ده. په دې اړه بیلابیل اندونه شتون لري. د ځینو خلکو لپاره دا د قانوني اډانې نوم دی. چې موخه یې د مومنانو لپاره په شخصي او حکومتي( یا عمومي) معاملو او کړنچارو کې پلي کول دي. (١٤) د دې اطلاق پر عبادتونو هم کیږي. او پر ځمکه د نیاو راوستلو طریقې او کړنلارې ته هم شریعت ویل کیږي.ځینې خلک یې د ژوند د

ډول په نامه هم يادوي. حال دا چې اسلامي قانوني پيژندګلوي يواځې د انصاف او نياو له راوستلو سره تړاو لري.

قرآني خطاب د شارع په حيث د حکم درجه هم لري. اسلافو عالمانو پر دې اړه قراني ايتونه په پنځو برخو ويشلي دي. او دا د بيلابيلو درجو له مخې د وضع شوي حکم ډولونه دي. (١٥) خو دا معرکة الاراء ( د اراؤ له مخې لانجمنه موضوع) پر خپل ځای خو پوښتنه دا ده چې کوم ايتونه چې د حکم حيثيت لري، نو ايا هغه پر يو وخت ژمنه او تړون دواړه کيدلی شي؟ هو! او د دې لامل ډير ساده دی. کله چې يو مسلمان يو حکم د دې لپاره پر ځای کوي، چې رب يې ترې خوشاله او راضي شي. نو ګواکې دا پاملرنه او نيت چې کله مخې ته راشي، نو د رب د رضا او وعده شوي ثواب په نيت د حکم پيروي يو ځانګړی قانوني تشخص او پيژاندګلوي رامنځته کوي. او دا پيژاندګلوي د الله تعالی او د هغه د منونکي بنده تر منځ د باقاعده ژمنې په توګه رامنځته کيږي.

اصول فقه هغه پوهه ده چې بې شميره پوهانو پرې خولې تويې کړې دي، او زيار يې ويستلی دی چې د قرانکريم د تشريح له لارې يې اصول وټاکي. او د پيړيو د دې زيار په مرسته داسې اصول رامنځته شوي دي چې د نړۍ په هر ګوټ کې چې د کوم مسلمان يوه ژمنه يا کاروباري معامله کوم قاضي، محکمې، يا منصف ته وړاندې شي نو اصول فقه کې د کومو کومو حوالو له مخې ثابتيدی شي. او د سموالي ګواهي يې رامخې ته کيږي. نو ځکه اصول فقه زمونږ د له منځه تلونکې نړۍ د قانوني او



عدالتي نظام لپاره اړينه او اغيزناکه پوهه ده. خو په دې کې چې کومې کړنچارې را نغښتې او پيژاندل شوي، هغه پر يو وخت د نيا او اخرت دواړو لپاره دي. دا کړنچارې له کوم بل ځای څخه نه دي راغلي، بلکې په خپله په قرانکريم کې راغلي دي. نو ځکه به د د دې پوهانو د اصولو اطلاق د دې ډول تړونونو لپاره وړ نه وي. ځکه چې د ژمنې پر بنسټ شوې کړنه د نړۍ په هيڅ محکمه کې نه شي تجربه کيدلی. بلکې د قيامت پر ورځ به د هغې تفصيل د لمر غوندې روښانه راڅرګند شي. او په هغې وخت کې د هيڅ کومې خبرې، قول، ان تردې چې د خيال او نيت د ثابتولو اړتيا به هم پاتې نه شي.

پورته بحث پر خپل ځای خو دا هم بايد ومنل شي، چې په شرعي قانون بايد د دې لپاره پل شي، چې په اخرت کې د الله تعالی د رضا او انعامونو د لاسته راوړلو
لامل ګرځي. ګواکې هر شرعي حکم به د يوې ژمنې بڼه غوره کړي. نو په دې توګه ورته مونږ د شريعت يا الهي ژمنې نوم هم ورکولی شو.

## د تړونونو ډولونه:

دا مطالعه د قرانکريم د قانوني او تړونيزو چارو ښکارندويي کوي. الله تعالی له خپل مخلوق سره ذاتي او مخامخ تړون کوي. چې له هر ډول لاسوهنې څخه پاک دی. دا اړيکه لکه څنګه مو چې وړاندې وويل نيغ په نيغه ده. له هر ډول کړليچونو څخه پاکه او په ښکاره ډول

ده. تر ټولو لویه خبره دا چې د دې اعلان په خپله الله تعالی کړی دی. په خپله پیدا کړې ده او ټول جزئیات یې په خپله ارزولي دي. په فطري ډول دا ژمنه او تړون غیر متوازن او ناانډوله ښکاري. دا نامساوي ښکاري. ځکه چې یو اړخ ته خالق دی او بل لوري د هغه مخلوق. یو ډیر ځواکمن او غالب او بل ډیر کمزوری او مغلوب. یو تلپاتې او لازوال، او بل فاني او له منځه تلونکی. نو ځکه مونږ هر یو یواځې د الله تعالی له لورې په را کړل شویو باورونو تکیه کوو. او په دې باوري یو چې الله تعالی خپله وعده او ژمنه هرومرو پوره کوي.(١٦)

د (ژمنې) په پراخه مانا کې د غور په کولو سره مونږ په قرانکریم کې بې شمیره تړونونه په نښه کولی شو. ځینې خو یې ان د قرانکریم له نلزلیدو څخه هم مخکې شوې دي، لکه د الست تړون، چې له ټولو انساني روحونو سره شوی دی. سربیره پر دې د ټولو کایناتو د چلولو یو اړخیز تړون. دغه شان د ټول انساني نسل( مومن او غیر مومن) د پالنې یو اړخیز تړون. له ابلیس سره شوې یوه ژمنه هم په دې کې راځي. له دې ژمنې سره سم الله تعالی انسان ته د رایې ازادي، د فکر او سوچ ورتیا او ازاده اراده وروښوده.او پریکړه پر دې وشوه چې ابلیس به د خپلو وسوسو او تیرویستو پر مټ له الله تعالی څخه د انسان د لیرې کولو هڅه کوي. او الله تعالی به د خپلو پیغمبرانو، نبیانو او کتابونو په مرسته انسان ته د ورکړې پوهې ازمیښت کوي. او وروستی کتاب قرانکریم به د ژوند د قانون یو تړون ګرځي.



تر ټولو څرګند تړون له مسلمانانو سره دی، او نیغ په نیغه دی. یا به داسې ووایو چې قران کرین له هر مسلمان سره د یوه تړون لاسوند دی. الله تعالی د دې تړون ټکي پخپله وټاکل. له هغې سره سم یې هر یو حکم ولیکه، او له حکم سره سم یې یو یو ایت جوړ کړ. او بیا یې د دې زرین تړون لاسوند د هر مسلمان مخې ته کیښود. چې ویې لولي، ځان پرې پوه کړي، او پر بیلابیلو برخو یې عمل وکړي. نو دا د اوسمهالې قانوني اصطلاح له مخې د یو سټنډرډ ټیرم کانټرکټ ( د ټاکلې مودې قرارداد ) په توګه مخې ته راځي.لکه څنګه مو چې مخکې ولیکل، د تړونونو نوی قانون دې ډول لاسوند ته په قانوني ډول د تړون درجه ورکوي.(١٧)

کله چې یو کس د قرانکریم دا ژمنه ومني. او د منلو طریقه یې کلیمه طیبه ویل او پرې باور کول. او ورسره ورسره د تړون پر متن، برخو، ایتونو مانا، حقایقو، او هر هر ټکي چې د قرانکریم په تړون کې شتون لري د زړه له کومې ایمان راوړل دي.او دا کومه د تعجب خبره هم نه ده.ځکه چې په اوس مهال کې چې څوک په سټنډرډ ټرم یا یو طرفه تړون لاسلیک کوي، یا ورته د (زه همغږی یم) په ویلو سره هو کوي. نو په حقیقت کې ټولې تفصیلي او باریکې برخې بې له هغې دغې مني .

له منلو وروسته د قران کریم په لاسوند کې لاندې ژمنې رامخې ته کیږي.چې په تدریجي ډول ورسره مومن په ورځني ژوند کې مخامخ کیږي. مونږ د دې څیړنط په یاده برخه کې لږترلږه ٤٠ تړونونه لوستلی

شو.

که د قرانکریم یو اړخیزه رامنځته شوي شرائط ونه منل شي. نو له بده مرغه دغسې انسان ته کافر ویل کیږي. الله تعالی د قران په مرسته له کافر سره یو مفصل مخاصمانه ژمنه اعلانوي. او له راروانو پایلو څخه یې خبروي. چې د تفصیلي سزاګانو بشپړه څرګندونه یې کړې ده.

سربیره پر دې قرانکریم د ځینو ټولنیزو تړونونو د ټولګې په توګه هم رامخې ته کیږي. د تړونونو یوه بله ټولګه د مسلمان د ټولنیز او سیاسي ګډون سره اړیکه لري. که هغه د کورنۍ واده، یا په سیاسي چارو کې ګډون، وي، که د کمپنۍ قانوني ادارې، حکومتي چارواکو نظم ونسق وي، که د ښار نظم وي او که حکومتي چارې پر مخ بیول وي. قرانکریم بیا بیا له خپل منونکي څخه ژمنه اخلي چې خپلې ورځنۍ چارې به د قرانکریم له اصولو سره سمې پر مخ وړي. او په بدل کې به اتعامونه ورکول کیږي.

د قران کریم له مخې دا د یوه مسلمان فریضه ده چې د تړونونو ساتنه به کوي. که هغه د دندې، راکړې ورکړې، د پلور غوښتنې، پانګه اچونې، اجارې، کرایې، رهن یا ګانې او یا نورو اړوند ژمنې وي. ورته ژمن کیدل د مسلمان دنده ده. دا پایله هم ترې راوځي چې دا چې په هر حکومت کې قوانین د یوه داسې ځانګړي آیین په مټ جوړیږي، چې په بنسټیزه توګه یوه ژمنه وي. نو ځکه ټول قوانین د قانون جوړونې ژمنې دي. چې د قراني تصور له مخې یې درناوی د فرائضو په توګه اړین او



واجب دی. د پووهې لاسته راوړل او دنیوي لوړوالی ترلاسه کول یوه دیني وجیبه ده. د یوه غوره مسلمان او یوه ښه قانون منونکي او مسؤلیت منونکي ښاري ځانګړنې یو ډول دي.

بیا هم هغه مرکزي موضوع چې په دې ټوله څیړنه کې بیا بیا تکرار شوې ده، هغه اړیکه ده چې الله تعالی یې له خپل منونکي بنده سره ټینګوي. دا اړیکه نیغ په نیغه ده، او څو اړخونه لري. ځیني حقونه باوري کوي، او دې ته هیڅ پام نه کوي چې مسلمان په کومه دنیوي اراده او دایره کې دی. نو ځکه که یو مسلمان په داسې ځای کې وي چې هلته حکومت د قراني احکامو پلي کولو مسؤلیت نه وي اخستی، نو د هغه لپاره اخلاقي بندیزونه د حکومت لخوا په ټاکل شویو قوانینو پروې منحصرې نه دي. هغه به له الله تعالی سره د کړې نیغ په نیغه ژمنې پابند او منونکی وي. د بیلګې په توګه که یو مسلمان په سعودي عربستان کې اوسیږي، نو د هغې هیواد په قانون کې د شرابو د ممانعت له کبله به شراب نه څښي. خو که یو مسلمان په امریکا، هسپانیه، یا بل داسې هیواد کې اوسیږي، چې د قانون له مخې په کې د شرابو کارول او سوداګري منع نه ده، نو په دې وخت کې به مسلمان دا فکر کوي چې پر دې اړه الله تعالی له ما څخه څه ډول ژمنه اخستې ده. او د هماغې ژمنې ساتنه به کوي.

❋ …… ❋ …… ❋ …… ❋ …… ❋

## لومړی باب:

# تړونونه د قران له مخې

د شخصي او ټولنيزو تړونونو له پيژاندګلوۍ څخه وړاندې وړ بريښي چې لومړی د نړۍ او عام ورځنی ژوند د رسمي تړنونو په ترسره کولو کې د قرانکريم ټينګار وارزوو.هر مسلمان به د اخرت پر ورځ د خپلو کړو تړونونو ځواب وايي. په دې د جاج اخستنې او ټولو باريکيو ته پاملرنه اړينه ده.ځکه چې هر انسان په رضاکارانه ډول په دې تړونونو کې د ګډون واک لري، او انتخابوي يې. او داسې فرض کيږي چې هغه د خپلې ژمنې درناوی کوي. که چيرې دوکه ورکوي، يا دا ډول نيت لري نو پايلو سره به يې هم هرومرو مخامخ کيږي.

### د ورځنيو تړونونو پر ځای کول:

ټولې ژمنې او وعدې چې يو کس يې له بل سره په دنيوي چارو د خپل ژوند په ترڅ کې کوي، رسمې ژمنې يا تړونونه کڼل کيږي. په دې کې ليکنې او شفاهي دواړه ډوله ژمنې راځي. قرانکريم دې ډول ژمنو ته په اشارې سره لارښوونه کوي چې دا ژمنې بايد پوره شي، او پر دوه اړخيزو شرطونو يې عمل وشي. نو له همدې کبله دا ټولې ژمنې په اغيزناک ډول د قرانکريم د حکم پر بنسټ باقاعده تړونونه دي. انسان د خپل ورځني ژوند د چارو پر اړه په پرله پسې ډول تړونونه تر سره کوي.لکه د جائداد د پير او پلور تړون، د کرايې تړون، د سامان د



پيراو پلور تړون، د شرکت تړون، د بيمې تړون، د سامان د وړلو راوړلو تړون، د جايداد د اجارې تړون، د دندې تړون، او دا ډول بې شميره تړونونه. د يوه مسلمان لپاره دا ټول تړونونه د قرانکريم تر حکم لاندې تړونونه دي. او د هر تړونو پر مهال بايد مسلمان دا فکر وکړي چې که هغه هر ډول تړون کوي، لکه د پيسو ورکړه، يا کوم ځای ته د مال وړلو او نورو کارونو د ترسره کولو ژمنه کوي، نو د الله تعالی په حضور کې به يې يوه ورځ ځواب وايي. ځکه هر تړون چې د قرانکريم تر څار لاندې وي،( چې هر ډول او ټولې دنيوي ژمنې او تړونونه، تر دې چې ژبنۍ ژمنې هم په کې راځي) دا له الله تعالی سره د مخامخ تړون حيثيت غوره کوي. د اوس مهال لوی قانون پوه او مفکر( ای کی بروهي) ويلي دي چې، هره دنيوي ژمنه په حقيقت کې يوه درې اړخيزه ژمنه ده. ياني ښايي د اوسمهال مسلمان په دې حيران شي، په هره دنيوي ژمنه او تړون کې د الله تعالی ذات نيغ په نيغه دخيل او ورګډ دی.

نو ځکه الله تعالی په قرانکريم کې د خپلو تړونونو د ساتلو او پر ځای کولو ټينګار کړی دی. (۱۸) د ناخوښۍ په حالت کې هم د خپل تړون بشپړونکې د الله تعالی له لوري د لوی انعام ورکولو اعلان شوی دی.(۱۹) دا په ډيرو ځايونو کې راغلي دي.(۲۰)

د مسمانانو او غير مسلمانانو تر منځ د اوس مهال په تړونونو کې بيلا بيل ډول تړونونه راځي. هغه د بل هيواد له ساختماني شرکتونو سره تړونونه هم کيدی شي. د ښارونو او حکومتونو تر منځ د سامان پير

او پلور تړون هم کیدی شي، د ترانسپورت او موټرو تړونونه هم کیدی شي. نو په دې کې که د اصول فقه د عقد پر اړه بیان شوي اصول په پام کې و نیول شي، کومه ستونزه به و نه لري. خو دا هم په پام کې ولرئ چې پر تړون اطلاق کیدونکی قانون د دواړو لوریو په خوښه بدلون هم موندلی شي.

د دې ټولو تړونونو درناوی په کار دی. یو مسلمانه ته دا څرګندونه هم اړینه ده چې، اوس مهال بې شمیره بین المللي کنونشنونه، اګریمنټونه اوټریټونه( دې ټولو ته په پښتو کې د ژمنې کلیمه کارولی شو) کیږي. ښکاره ده چې په بې پامۍ او ناخبرۍ کې باید په دې ډول ژمنو کې ښکیل نه شو، او ټولې برخې او اړوندې خبرې یې باید په غور سره وپیژنو، خو که یو ځل مو کومه بین المللي ژمنه او تړون لاسلیک کړ، هغه مو ومانه، نو بیا یې د قران کریم او رسول الله ص د سنتو له مخې درناوی پر مونږ لازم او اړین ګرځي.نو هم د اوسمهالیز تړونیز قانون له مخې او هم د قران او سنتو له مخې هغې ت ژمنتیا زمونږ وجیبه ګرځي. مونږ دلته پر هغې لیکل شویو رسمي تړونونو بحث کوو، چې یو کس یې له بل سره کوي. خو د حیرانۍ خبره دا ده چې زمونږ ژبنیو او شفاهي تړونونو ته هم قرانکریم همدومره په جدیت سره پاملرنه کوي.فرمایي( یا ایها الذین امنو........... سورة الصف ۲ او ۳ ایتونه)

ژباړه: ای مومنانو هغه څه ولې وایاست چې نه یې کوئ. دا د الله تعالی پر اند لویه ناخوښه چاره ده چې هغه څه ووایاست چې نه یې کوئ.)



له دې څخه څرګنده شوه چې هره شفاهي او ژبنۍ ژمنه یا پرامیس او وهده که د اصول فقه او اوسمهالي تړونیز قانون له اصولو سره برابره وي او که نه، د قرانکریم د قانون لاندې یو باقاعده تړون دی، او باید ساتنه یې وشي.

## د نړیوالو تړونونو پر ځای کول:

له نورو حکومتونو یا نړیوالو تنظیمونو سره د یو مسلمان حکومت کړي تړونونه هم د قراني حکم پر بنسټ د تړونونو په ډله کې راځي.

په قرانکریم کې د تړونونو د اصولو او شرطونو د رعایت او پاملرنې پر اړه ډیر ټینګار شوی دی.په پخوا او اوسمهال کې تړونونهد نړیوالو اړیکو مهم توکي دي. ځکه مونږ وینو چې د هر تړون لپاره الله تعالی خپل ذات ګواه او شاهد بولي.او په حقیقت کې هغه د هر هغه تړون دریم لوری دی چې مؤمنین یې کوي.(۲۱) له همدې امله د یوه تړون ماتول نه یوازې دا چې د قانون خلاف کار دی بلکې ګناه هم ده.(۲۲) هر څوک چې دا ماتوي په خپله یې د پایلو مسؤلیت پر غاړه اخلي.

د قومونو ترمنځ کیدونکي تړونونه هم د ډیر اهمیت وړ دي. (۲۳) د دې په مرسته د مسلمانانو او غیر مسلمانانو ترمنځ د اړیکو پر بنسټ ولاړ حکومتونه جوړیږي. (۲٤) له قران څخه وروسته د رسول

الله ص د حکومت له بنې څخه مونږ د ترونونو پر ځای کول زده کوو. (۲۵) چې هغه څنګه د حکومت د مشر، لوی قوماندان او د قبیلې د مشر په توګه بې شمیره نړیوال ترونونه کړي او سرته رسولي دي. هغه یې بشپړ کړي هم دي، او په پوره حکمت سره یې له هغې څخه ټولنیزې او اقتصادي ګټې هم ترلاسه کړي دي.

دغه شان د څلورو راشده خلیفه ګانو له لورې له غیر مسلمانو ټولنو سره شویو ترونونو د اسلام د نړیوال قانون(سیر) په جوړښت کې مهم رول ترسره کړی دی.

(۲٦)په مدینه منوره کې د یووالي او سمون راوستلو په موخه رسول الله ص له بیلابیلو ګاونډیو قبیلو سره ترونونه کړې وو،(۲۷) هغوی ص د مدینې پر ترون عمل کړی دی چې ډیر اغیزناک او څو اړخیزه وو.ځکه چې هغه د مؤمنانو ، غیرمؤمنانو او نورو عربې قبیلو ترمنځ سوله او سمون راوستی و. ۲۸) د ترون موخه د سیمې د ټولو اوسیدونکو د سر او مال ساتنه، او د اړودوړ په مقابل کې د امن او سمون راوستل دي. یوه بله بیلګه یې هغه ترون دی چې رسول الله ص له یوې ځواکمنې قبیلې سره کړی و. (۲۹) دا ترون د رسول الله ص د اغیز او رسوخ لپاره یو مهم بنسټ وګرځیده.

د اوسمهالو ترونونو توثیق او سرته رسونه د حکومتونو پر غاړه وي. چې نړیوال چارتر، د ټولنې او سیاسي حقوقو لپارهنړیوال ترون (آی، سي، پي ار) سوداګریز ترونونه، سرحدي چارې، د نړیوالې



سوداګریزې ټولنې ترونونه ( ډبلیو ټي او)، چاپیریالیز او موسمي ترونونه په کې راځي. دا ټول سلګونه او څو اړخیزه اصول لري. چې مسلمانو حکومتونو پرې په خپله خوښه لاسلیک کړی دی. د دې ټولو درناوی په کار دی، او عمل کول پرې اړین دي. ځکه چې په دې کې ډیر ترونونه د ځمکې، فضا او اوبو د چارو د اصولو د غوره کیدو لپاره دي. هو که یو لوری چې که مسلمان وي، او که نه، وغواړي، چې د دې ترونونو یوه برخه له پامه وغورځوي، یا یې له خپله اړخه بې اغیزې کړي، نو بیا حالت بدلون مومي. او یو قانوني، او جایز جواز به رامنځته کیږي. د ځان د پاک ښودلو اړتیا به رامنځته کیږي. د ځینو حالتونو لپاره د همدې ترونونو په ترڅ کې ځینې چارې، اشخاص یا فورمونه هم ټاکل شوي دي. چې د اړتیا پر وخت شکایتونه واوري او ویې ارزوي. نو په داسې حالاتو کې وړاندې تر دې چې کوم اقدام وشي. لومړی هغې فورمونو سره اړیکه نیول اړین دی.

## د ملکي قوانینو منل:

اوسمهالی قانون او آیین د هیواد او وګړو تر منځ په پراخه توګه د یو ترون په بڼه منل کیږي. که د هیواد اوسیدونکي مسلمانان وي، او که نه. قانون وګړو ته د خوښې او نمایندګۍ ضمانت ورکوي. او په بدل کې ترې غوښتنه لري چې له ایین سره سم د هیواد د اساسي قانون ترحاکمیت لاندې ژوند وکړي. د هر هیواد وګړي په خپله خوښه د

همغې هلیواد له لوري پر جوړ شویو زرګونو قانونو راضي او خوشاله وي.حکومت د قانون جوړونې پر مټ تنظیموونکې ادارې رامنځته کوي، چې وګړې ورته باید درناوی ولري.دا ادارې د دې لپاره رامنځته کیږي چې پر سیالۍ ولاړې ګټې متوازنې کړي، او ټولنیز سم سمکی رامنځته کړي. نو ځکه په هر هیواد کې اوسیدونکي وګړې د همغې هیواد پر هغې قوانینو عمل کوي، چې د قانون جوړونې د تړون له مخې ټاکل شوي وي. د هر هیواد د هر قانون هره برخه او ماده د یوې ژمنې او میثاق حیثیت لري.

سربیره پر دې که کوم مسلمان په کوم بل هیواد کې اوسیږي.لکه شمالي امریکا، یا اروپا، نو د اوسیدونکې د شرطونو په منلو سره په پله خوښه د همغې هیواد د قانون منونکی دی. هغه بل ملک د اوسیدونکي په توګه د قرانکریم د لارښوونو له مخې د همغې هیواد د قانون پابند وي. د هیواد او یوه کس ترمنځ یوه ژمنه رامنځته کیږي. چې د اوسیدونکي له لوري د هغې هیواد قانون ته ژمن کیدل په د دې کس په مسئولیتونو کې راځي. خو دا هم د یادونې وړ ده، چې د یاد هیواد د قانون کومې مادې چې له اسلام سره په ټکر کې راځي، له دې څخه مستثنی دي. او مسلمان د هغې مادو په منلو مکلف نه دی.

دا خبره هم په پام کې وساتۍ چې، ملکي قوانین د شوری او مشورو له لارې د پارلمان له خوا منظوریږي. اود یوې ټولنې، څیزونه، کارونه او کړنې،( معروف) په کې منل کیږي، او شاهدي پرې ویل



کیږي. نو ځکه کله چې مونږ وایو چې حرام باید ونه خورو او حلاله ګټه باید لاسته راوړو، نو په حقیقت کې مونږ د یوه قانون لاندې د ګټې خبره کوو.نو په دې ډول سره په حقیقت کې د قانون منل او نه منل زمونږ د نیکو او بدو اعمالو ښکارندويي هم کوي. دا خبره هم په پام کې ساتل په کار دي چې د نړۍ ټول قوانین په یو نه یو ډول د الله تعالی له لورې د رالیږل شویو جلیل القدرو پیغمبرانو له لارښوونو له خوځښت څخه راخستل شوي دي. که تاسو د مزدور د حقونو نړیوال قانون او د آي ایل او کنوینشن ته فکر وکړۍ، نو مزودر ته د درناوی احکام یې د قرانکریم، تورات او انجیل له لارښوونو څخه اغیزمن ښکاري. دغه شان د ښارونو قوانین یا د ځایي حکومتونو قوانین، چې ګاونډیانو لپاره په کې د پنځه یا لس فوټو په کچه ځای پریښودل، یا په عامه لار او سړک د ضرر رسولو څخهه ممانعت راغلی دی، دا هم د قران کریم لارښوونې دي. بلکې په په ګڼ شمیر قوانینو کې خو د خدای یادونه هم شوې ده. په هر حال که یو مسلمان د کوم قانون پیروي کوي، او نیت یې دا وي چې د قران پر لارښوونو عمل کوي، نو هغه به هرومرو د دې چارې انعام تر لاسه کړي.

❋ …… ❋ …… ❋ …… ❋

## دویم باب:

# له مسلمانانو سره د الله تعالی تړون

په دې برخه کې پر هغه مهمه ژمنه بحث کیږي چې الله تعالی له مسلمانانو سره کړې ده، او اعلان کړې ده. له دې سره به مونږ په ډیرو نورو اړوندو تړونونو هم بحث وکړو.او په هغو باندې به فکر هم وکړو چې له مومنانو سره د قراني بنسټیز میثاق له مخې تړاو ولري.

## د الله تعالی او هر مسلمان ترمنځ ژمنه:

سره له دې چې قران مجید د الله تعالی کلام دی، ورسره ورسره د یو جامع تړون لاسوند یا (ماسټر کانونټ) هم دی. چې په معیاري شرطونه، بې شمیره مادې او لاندینۍ ژمنې شاملې دي. په دې هره یوه یې د الله تعالی له لورې چمتو او ټولو انسانانو ته وړاندې شوې ده. که د دې ژمنې وړاندیز ومنل شي، نو انسان ته مسلمان ویل کیږي. او د قرانکریم د ټولو تړونونو ټول شرطونه به پر ځای کوي. ځکه چې دا الله تعالی نیغ په نیغه په خپله چمتو کړي دي. منونکی د قرانکریم په دې چمتو شویو شرطونو کې بدلون، بیا کتنه او غور نه شي کولی. په بشپړه توګه به یې مني. په دې لړ کې لس ځانګړي مسئلیتونه شتون لري، چې د تړون د بنسټیزو شرطونو په سترګه ورته کتل کیږي. په دې کې د ایمان پنځه اصول راځي:

- د الله تعالی پر یووالي ایمان او له هغه څخه مرسته غوښتل



- پر اسماني کتابونوایمان راوړل.
- د الله تعالی پر رسولانو ایمان راوړل.
- پر پرښتو ایمان راوړل.
- او د قیامت په راتللو ایمان راوړل.

دغه شان له مومن څخه د پنځو شعائرو د پوره کولو غوښتنه هم کیږي. هغه پنځه شعائر توحید باندې باور، لمونځ، روژه، زکوة او په ژوند کې به هغه څوک یو ځل حج کوي، چې وس یې ولري.

که یو څوک په یوه مسلمانه کورنۍ کې پیدا شوی وي، خو دا قراني تړون یې نه وي لوستی، نو د داسې ډول مورزادي مسلمان لپاره هم اړینه ده چې د دې ژمنې د منلو اعاده وکړي. ویې لولي او ټول عمر پرې عمل وکړي، په باوري توګه سره دا یوه ګټوره راکړه ورکړه ده. (۳۰)

هر مسلمان باید دا خبره په خپل ذهن کې وساتي چې، د یوه ځایناستي او خلیفه په توګه په دنیوي چارو کې خپلواک دی، خو پرته له الله څخه له بل چا څخه په مرسته غوښتلو کې باید ډیره پاملرنه او احتیاط وکړي، ځکه چې له بل چا څخه مرسته غوښتل د قراني تړون له بنسټیز شرط څخه سرغړونه ده. د همدې له امله د وفات شوي بزرګ، ولي او نیک انسان د روح درناوی جایز دی، خو له دې وراخوا باید له احتیاط څخه کار واخستل شي.

داسې فکر هم باید ونه شي چې کوم انسان د الله تعالی درجې ته رسیدی شي. او هغه ځواک چې الله تعالی خپل ذات ته ځانګړی کړی

دی، بل چا ته په منسوبولو کې یې باید له ډیر احتیاط څخه کار واخستل شي. ټول عمر د الله تعالی پر توحید ایمان لرل او منل د دې ژمنې تر ټولو مهم شرط دی. او د دې ژمنې درناوی نه کول د نه منلو په ډله کې راځي.

که هر څوک مسلمانیږي، نو سمدستي به د الله تعالی پر شتون د ایمان پریکړه کوي. خو د هغه د یووالي د پیژاندلو عمل به ټول عمر روان ساتي.د الله تعالی د یووالي په منلو او پیژاندلو کې ډیر توپیر شته. د یووالي پیژاندل یا منل یو شعوري او د ټول عمر پرله پسې عمل دی. یو ځل چې څوک د هغه پر یووالي باور وکړي، نو داسې پړاو پیلیږي چې ټول عمر انسان په کې انسان داسې بیلابیلې تجربې کوي، چې ترې د الله تعالی ځواک او قدرت پیژني.

هره پیښه، هره ورځ، هر سفر، هر پړاو، هر غم مسلمان ته دا روښانه کوي، چې د الله تعالی پر ځواک، قدرت او عظمت درجه پر درجه ایمان او باور پیدا کړي.

دا څرګنده ده چې الله تعالی له مسلمانانو سره جامع او مفصله ژمنه کړې ده. چې په اخرت او نړۍ ورسره د ډیرو ګټو وعده شوې ده.(۳۱) بیا له دې څخه وروسته بې شمیره اړوندې ژمنې او تړونونه راځي. د یادو تړونونو مادې او برخې په ټول قران کې خورې ورې دي. د قرانکریم د وړادیز منونکی هغه څوک دی چې ایمان ولري. او د قرانکریم د تړون د لیکلو برخو او شرطونو له مخې خپل ورځنی ژوند،



غوراوي او پریکړې پر مخ یوسي.

اوس به مونږ د دې تړونونو له ډلې پر ځینو هغو خبرې وکړو، سره له دې چې هر یو یې پر خپل ځای یو تړون او ژمنه ده.

## د کلیمې ژمنه:

لکه مخکې مو چې وویل قرانکریم د لاسوند په توګه یوه بنسټیزه او د جامع متن درلودونکې ژمنه ده. چې د الله تعالی له لوري انسان ته وړاندې شوې ده. کوم خلک چې دا وړاندیز ومني هغوی مومنان ویل کیږي. ځکه چې په قرانکریم کې په یادو شویو شرطونو او ضمانتونو باور کوي. د یاد وړاندیز منل ډیر ساده دي. او څرګندونه یې هغه مهال کیږي چې څوک دا اقرار وکړي: زه شاهدي ورکوم چې پرته له الله تعالی څخه بل پرحق معبود نه شته. او شاهدي ورکوم چې محمد ص د الله تعالی رسول دی،( اشهد ان لا اله الله وحده لا شریک له و اشهد ان محمدا عبده ورسوله) دا کلیمه په خپله خوښه منل اثبات دی. چې منونکی کس به یې پرته له الله تعالی څخه بل څوک د تقدیر څښتن، خالق یا پر پیښو واکمن او اغیزناک نه ګڼي. دا له الله تعالی سره یو ځانګړی تړاو دی. په دې توګه دا یوه داسې ژمنه ګرځي چې ژمن کس به پرته له الله څخه بل څوک مړ یا ژوندی انسان، ښاپیرۍ، ماورايي مخلوق، پرښته یا پیری یا بل هر مخلوق په دنیا او اخرت کې د ځان یا بل چا لپاره مرسته کونکی نه ګڼي. مونږ دې د کلیمې ژمنه یا شهادت ویلی شو.

## د رسیدوژمنه:

کله چې یو څوک چاته د رسیدو هڅه وکړي، نو هغه کس یې منلی یا ردولی شي. قرانکریم مونږ ته پر دې اړه دا راښیي چې که یو کس الله تعالی ته د رسیدو هیله ولري، نو د قران ژمنه داسې ده چې دا کس به هرومرو الله تعالی ته رسیږي. (۳۲) په دې ډول سره په باوري توګه د رسیدو ژمنه له هغه کس سره شوې ده چې دې لوی ذات ته د رسیدو هیله لري. د رسیدو هیلې پوره کیدو لپاره په قرانکریم کې هیڅ کوم دفتر او څوکیدار ته اړتیا نه شته. په دې لاره کې هیح مانع، او بندیز نه لیدل کیږي. او د هیڅ لوري له پلوه مه او نه ، نه لیدل کیږي.

د رسیدو لاسته راوړل یوه یا څو موخې درلودلی شي، لکه د مرستې غوښتنه، د توبې قبلیدو غوښتنه، یا د دنیوي مرستې غوښتنه، کله چې هم د رسیدو غوښتنه وشي، نو لکه د خپل حق ورکول کیږي. (۳۳) الله تعالی په باقاعده توګه په قرانکریم کې یوه خبرتیا ورکړې ده. چې( هغه د خپل بلونکي غږ او غوښتنه اوري) هر څوک چې ترې څه وغواړي ورکوي یې. ډیری وخت خلک پوښتنه کوی چې له الله تعالی سره کوم وخت او ځای کې مخامخ کیدی شي، نو دا تصور سم نه دی، چې الله تعالی په رسیدو کې کلونه لګیږي. مسلمان خو لا څه کوې چې که کافر هم وغواړي چې الله تعالی ته ورسیږي، نو په اسانۍ سره ورته رسیدی شي. (۳٤) په بنسټیزه توګه هر پیدا کیدونکي انسان دوه حقونه لري، یو الله تعالی ته د رسیدو هیله، او کله چې وغواړي ورسره اړیکه ونیسي.



## د خبرواتروژمنه:

کله چې مونږ الله تعالی ته د رسیدو ضمانت ترلاسه کړو. نو راتلونکی پړاو له الله تعالی سره د خبرواترو پړاو دی.ایا دا خبرې اترې د بنده له لورې یو اړخیزه کړنه ده، او که د دې اړیکې ځواب به د الله تعالی له لوري د (اوریدو) په ډول ورکول کیږي؟ د دې خبرې ځواب بالکل کره دی.( ۳۵) نو د همدې لپاره د خبرو اترو ژمنه په جلا جلا توګه پیژاندل کیږي.

ښکاره خبره ده چې خبرې اترې په بنسټیزه توګه دوه اړخیزه کړنه ده. چې د لومړي لوري له خوا د خبرې (پیل) کیږي، او د دویم لوري له خوا په (اوریدو) سره ځوابیږي. که یو څوک په تصور کې له الله تعالی سره خبرې کوي، نو هغه یې اوري. الله تعالی مونږ ته فرمایي چې هر څومره مو وس وي، باید هغه یاد کړو. له دې څخه څرګندیږي چې زمونږ رب له مونږ څخه د رسیدو لپاره د لومړي ګام پورته کولو غوښتنه کوي، او بیا د مانا لرونکو خبرواترو امر کوي.که په رسمي توګه وي او که په غیر رسمي توګه، او د اړیکې لپاره، وخت، ځای او ځانګړي رسمیات نه دې ټاکلي. په بله وینا هغه مونږ د اړیکې ټینګولو ته هڅوي. او د ځواب لپاره مو باوري کوو، تر دې چې هغه زمونږ د دعاګانو قبلولو لپاره چمتو دی.(۳٦)

د رسیدو او خبرواترو ژمنې یوه په بله پسې کیږي. یا داسې ووایو چې په ترتیب سره سرته رسیږي. توپیر یې داسې بیانولی شو.

رسیدنه خو یواځې الله تعالی ته تر رسیدلو پورې محدوده ده، خو د خبرواترو مانا دا ده چې یوځل الله تعالی ته ورسیدې، نو بیا ورسره یو بل ګام هم پورته کړه او پر کومه داسې موضوع له الله تعالی سره خبرې اترې پیل کړه. یوه اجنډا یا موخه په کې هغه ته وړاندې کړی شي. په بله مانا د رسیدو ژمنه د دې خبرې ضمانت کوي، چې کله هم کړکۍ وټکول شي، نو بیرته کیږي. خو د خبرواترو ژمنه د غوښتونکې د غوښتنې د اوریدو ضمانت باوري کوي.

مونږ له حکومتي مامورینو یا بوختو مشرانو سره د اړیکو لپاره تر ټولو لومړی د رسیدو غوښتنه کوو، یو ځل ورسره د مخامخ کیدو(میټینګ) وخت ټاکو، او د مخامخ کیدو پر مهال د خبرواترو په لړ کې ورته خپله موخه بیانوو. د دې پر خلاف الله تعالی ته هر څوک د رسیدو حق لري. او د دې ژمنه یې کړې ده. او له رسیدو وروسته ورسره د خبرواترو ژمنه په قران کریم کې راغلې ده.

الله تعالی هره ورځ د لمانځه پر مهال له هر مسلمان سره په باقاعده توګه د خبرواترو لپاره وخت ټاکلی دی. الله تعالی هر وخت د هر چا لپاره نیغ په نیغه د لاس رسي وړ دی. د هر مسلمان او غیر مسلمان ژوندي لباره یو ډول دی، خو ښکاره خبره ده چې د قبولیت کچه به د ایمان والو لوړه وي.

## د دعا ژمنه:

د دعا ژمنه د الله تعالی رضا او ځواب باوري کوي. یا دعا قبلوي،



یا تر هغې غوره ځیز ورکوي، او یا سمدستي او یا وروسته همغه ځیز ورکوي. د دعا ژمنې پیل د مسلمان له لوري کیږي، او د قرانکریم له لارښوونې سره سم الله تعالی دا خپل مسؤلیت جوړوي، چې دعا کونکي ته ډاډ ورکړي، چې په دنیا او اخرت کې به د دې دعا نیک بدل ورکوي. (۳۷) الله تعالی د دعا ژمنه له پامه نه غورځوي. (۳۸) په بله وینا کله چې د دعا غوښتنه د الله تعالی مخې ته اینښودل کیږي، نو د قبولیت په لیست کې شاملوي.(۳۸) که دعاګانې په زړه کې وي او که پر ژبه.(۳۹) دا داسې ده لکه په اوسمهالي قانون کې څوک کومه غوښتنه ثبت کړي، نو اوریدل کیږي. د الله تعالی قانون هم هم د همدې چارې رینښتینولي کوي، یانې هر کله چې ترې څوک دعا وغواړي نو قبلوي یې.د بیلګې په توګه یو پیغمبر چې ناروغ و، دعا یې وکړه او روغتیا یې ومونده.(٤٠) یو بل پیغمبر د کب په خیټه کې و، چې د ژغورنې غوښتنه یې وکړه نو ومنل شوه. (٤١) ځکه کوم قاوني روایت چې الله تعالی ټاکلی دی، هغه دا دی چې الله تعالی دعاګانې قبلوي.

ځینې دعاګانې الله تعالی په خپله ټاکلې دي، او په قرانکریم کې د خپلو پیغمبرانو له خولې لیکلې دي. ځینې مشهورې دعا ګانې چې خلک یې یو بل ته وړاندیز کوي دا دي:

د ابراهیم ع دعا،د موسی ع دعا، د نوح ع دعا، د عمران ع دعا او نورې دعاګانې. له چا څخه د شکایت په موخه دعا کولو څخه وړاندې باید د دې دعاګانو تلاوت وشي، دا د قبولیت یوه کړنلاره ده. چې الله

تعالی زمونږ د اسانتیا لپاره په قرانکریم کې راوړي دي.(٤٢)

دا خبره هم په پام کې ساتل په کار دي چې د الله تعالی پر اند زمونږ عمر یواځې د دې نړۍ ژوند نه دی، بلکې ټل پاتې ژوند هم په کې شامل دی. چې د قیامت څخه وروسته به پیلیږي. په قرانکریم کې الله تعالی د دعا د قبلیدو ترون کړی دی، خو دا چې دا به په کوم ژوند کې وي، هغه یې په خپله ازلي پوهه کې ساتلی دی. یانې داسې هم کیدی شي چې زمونږ دعا په همدې دنیوي ژوند یا طبیعي ژوند کې قبوله شي. او د ځینو دعا ګانو په بدل کې مونږ ته په تلپاتې ژوند کې لوړ او نادر انعامونه راکړل شي. او داسط څه راکړل شي چې زمونږ له ذعا څخه ډیر لوړ او زیات وي.

الله تعالی د دعا د ژمنې ساتنه ځکه هم کوي چې دا کړنه د الله تعالی خوښه ده. ځکه چې په یو مهال کې هم دعا ده، او هم عبادت. له هغه څخه هر څه غوښتل د هغه د لامحدود ذات د لویوالی اعتراف هم دی.

## دبخښلوژمنه:

د الله تعالی د بخښنې دایره د هغه د انصاف د واک پر دایرې پراخه او غالبه ده. چې یواځې د پیښیدونکو حقایقو له مخې پریکړه کوي. (٤٤) الله تعالی نه یواځې دا چې بخښنه خوښوي،(٤٥) بلکې په دواړو نړیو کې ځان ته تر ټولو لوی بخوښنکی وایي.(٤٦) او خپله دا کړنه



خوښوي.(٤٧) یواځې دا نه بلکې هغه په قرانکریم کې په ځانګړې توګه دا صراحت کړی دی، (٤٨) چې هغه پر ځان دا فرض کړې ده چې مهربان او احسان( نیکي) کونکی به وي.(٤٩) دا له خپل ځان سره د الله تعالی ژمنه ده. الله تعالی دا یو اړخیزه ژمنه په قرانکریم کې دوه ځایه بیان کړې ده. (٥٠) دا ژمنه د هغه له لورې د دې لپاره تکرار شوې ده چې د رحم صفت یې څرګند شي، او ښکارندویې یې وکړی شي. (٥١) بخښنه د هغه شوق دی، او لږ ترلږه په دریو طریقو سره یې د دې خبرې باور راکړی دی، او ثابته کړې یې ده.(٥٢) تر ټولو لومړی الله تعالی خپل دا صفت د انبیاؤ په مرسته بیانوي، چې د دې خبرې څرګندونه په کې شوې، چې هرکله یو بنده د هغه لورې ته وروګرځي نو هغه یې بخښي.(٥٣) دویم په خپله الله تعالی دا خبره په قرانکریم کې بیانوي، او تکراوي، چې هغه د لاسرسي وړ ذات دی، او بخښونکی دی.(٥٤) دریم داسې بیلګې او ځایونه یادوي چې الله تعالی په کې وګړو او ان قبیلو ته بخښنه کړې ده، او ان پر انبیاؤ یې خپل ځانګړی رحم کړی او بخښلي یې دي.(٥٥)

لبې له شکه چې الله تعالی تر ټولو لوی او لوړ بخښونکی دی.پر دې اړه رسول الله ص یوه ډیره مهمه خبره کړې ده،(٥٦) یواځې د همدې خبرې د تکرار پر ځای چې الله تعالی لوی بخښونکی، هغه ص درې حقیقتونه بیان کړي دي: د الله تعالی د ترټولو بخوښنکي کیدو لپاره درې دلایل دي. الف: الله تعالی د انساني نسل له پیداکولو څخه ډیر وړاندې

لیکلي وو، چې د هغه رحم د هغه پر غضب غالب دی. (۵۷)
ب: دا یاد بیان یوه تل پاتې پریکړه ده، او په لیکلي بڼه شتون لري.
ج: په دې لیکنه کې د هیڅ ډول بدلون شونتیا نه شته.

## د رحم ژمنه:

د رحم د ژمنې په ترڅ کې الله تعالی د خپل رحمت وعده کړې ده. کله چې د انسان له لوري
الف: غوښتنه وشي.
ب: کله چې په قرانکریم یو ځانګړی یاد شوی معیار پوره شي.
او ج: کله چې د الله تعالی له حکمت سره سم وي

د رحمت ځانګړنه د الله تعالی د یوه خپلواک صفت په توګه هم پیژاندل کیږي. دا په عمومي توګه د الله تعالی لهرضا او حکمت سره تړلی دی. او د وړاندیني شرط له مخې په کې کوم قید نه شته. خو بیا هم د رحم د وړ کیدلو لپاره قرانکریم یو حو ګامونه بیان کړي دي. چې مونږ ورته هوکړه لیک ویلی شو.

د رحم صفت د بخښنې له ژمنې سره یو ځای دی.او د خینو صفتونو له مخې په څرګنده توګه غوره شوی هم دی. الله تعالی له هغو خلکو سره د بخښنې ژمنه کړې ده، چې غوښتنه یې کوي، او توبه کوي. له بل پلوه د الله تعالی د رحم ژمنه یواځې د بخښنې له غوښتلو سره تړاو نه لري، بلکې د هغې کارونه د الله تعالی د خپلواک حکمت او رضا پورې تړلې ده.(۵۸) هغه د رحم لپاره بندګان غوره کوي. د رحمت یا رحم



د ژمنې پراخوالی د بخښنې تر ژمنې ډیر دی. ځکه چې دا ژمنه په ټول هغه مخلوق پورې تړلې ده، چې شتون لري. یواځې انساني نسل ته ځانګړې شوې نه ده. او نه یواځې له مسلمانانو سره تړاو لري.

## د شکر ایستلو ژمنه:

قرانکریم پر مسلمان ټینګار کوي چې پر هغې ژوند شکر وباسي چې ده د الله تعالی له لوري ورکول شوی دی. سربیره پر دې نور ګټور توکي، لکه مال، روغتیا فکري وړتیا او داسې نور هم د شکر ایستلو غوښتنه کوي. (۵۹) په ګڼ شمیر ځایونو کې ژمنه شوې چې د شکر ایستلو عمل به په انعامونو او ګټورو څیزونو بدرګه کیږي.او په دې نړۍ کې به هم ګڼ شمیر اجرونه ورکول کیږي. په دې توګه له بنده سره د الله تعالی اړیکه د ژمنې د یوه لوري په توګه ټینګیږي. یانې له هر شکر ایستونکي مسلمان سره تړون. په پله وینا الله تعالی ځان پر دې پابند بولي چې که یو څوک وخت پر وخت د الله تعالی د نعمتونو شکرګزاري وکړي، نو الله تعالی به ورته نور هم ورکړي.

زمونږ په بدنونو او شخصیتونو کې د الله تعالی د ورکړې څرګند ثبوت شتون لري.(۶۰) مونږ دا اړتیا نه لرو چې د هغه د رحمت د لاسته راوړلو لپاره لیرې ځای ته لاړ شو. مونږ یواځې باید خپل باطن ته وروګرځ،. مونږ ټول نښې یو. چې مانا یې ثبوت ده. یانې همدا زمونږ شتون د الله تعالی د حاکمیت ثبوت دی. په مونږ کې هر یو د ثبتونو یا

ښښو یوه لویه زیرمه ده. خپلو لاسونو او سترګو ته د نعمتونو د ښښې په توګه وګورئ. فکر وکړئ چې زموږ د لاسونو ګوتې او بندونه څومره پیچلې چارې تر سره کوي. زموږ بانه څومره ګټور دي، او سترګې مو د بهر نړۍ انځورونه څه ډول ګوري، د نعمت د جاج اخستو تر ټولو اسانه طریقه دا ده چې په تصور کې ستر ګې جلا کړو او پایله یې وارزوو.د نعمتونو د ارزولو او لیدلو ګټه به درته بیخي څرګنده شي. یانې سترګې جلا کړئ او غور وکړئ. ګوتې، لاسونه، پښې او پنډس جلا کړئ او فکر وکړئ. راځئ خپل چاپیریال ته ورشو، او لمر ترې بیل کړو، نور څه نه خو، که وریځې او باران لیرې شي، نو د ښاغلي انسان حالت به څنګه وي؟ ایا زه او تاسو به په پرله پسې تیاره، او سړه هوا کې د ساه اخستو وړ پاتې شو؟

شکر ایستل هم د الله تعالی د یادولو یوه بڼه ده. او دا خبره په قرانکریم کې بیان شوې ده چې الله تعالی ډیر ډیر یادول په کار دي.(٦١) ټولې ستاینې الله تعالی لره دي.(٦٢) دا په قرانکریم کې یو په زړه پورې ترکیب دی. موږ چې د ټولو شاعرانو، ادیبانو، مفکرینو، لوبغاړو، سندرغاړو، هنرمندانو، انجینرانو او نورو ستاینې کوو، نو په اصل کې دا د هغه د وړتیا ستاینه نه کوو، بلکې په حقیقت کې د الله تعالی د ذات ستاینه کوو چې دا وړتیا پیداکړې ده. او دې انسان ته یې ورکړې ده چې په دنیوي ژوند کې پرې پر نورو لوړتیا ترلاسهکړي. ټول مؤمنان د الله تعالی پر اند غوره دي، ځکه چې هغوی ټول د الله تعالی پر



یووالي ایمان او باور لري. خو بیا هم ځینې خلک خپل دوستان ګرځوي، ښکاره خبره ده چې د دوستۍ وړ به وي. په قرانکریم کې الله تعالی په یو ځانګړې ترتیب سره دا خبره بیان کړې ده چې شکر نه ایستونکي خلک هیڅکله د هغه دوستان کیدلی نه شي.(٦٣)

## د سخاوت ژمنه:

د الله تعالی له لوري مسلمانان په څرګنده توګه ځینو کړنو ته هڅول شوي دي، چې تر مهمه هڅونه په کې د سخاوت ده.(٦٤)د دې په بدل کې الله تعالی په دنیا او اخرت کې له هر سخي کس سره د انعامونو ژمنه کوي. څوک چې سخیان نه دي الله تعالی له هغوی څخه د ناراضګۍ څرکندونه کړې ده.(٦٥) سخاوت نه کونکي په هغه ډله کې نه راځي چې د الله تعالی خوښ دي.(٦٦) د سخاوت کونکو انعامونه به څوبرابره ډیریږي. او بیلګه یې په قرانکریم کې د وږي د دانې بڼه راغلې ده. کله چې دانه زړی شین شي، نو اووه(٧) وږي ترې رازرغون شي، او په هر یوه کې سل دانې وي.(٦٧) د انعام بڼه یې هر څه کیدی شي. د بیلګې په توګه مادي مرسته هم کیدی شي، په دنیوي ژوند کې بل ډول هم زیاتولی شي. زموږ د باورکولو لپاره الله تعالی د سخاوت د انعام بڼه په باوري توګه د بیا ترلاسه کولو په ډول ښودلې ده.(٦٨) په قرانکریم کې څوځایه دا ژمنه کوي چې د سخاوت انعام به په دنیا او اخرت کې سخي بنده ته د هغه له سوچ او تمې څخه څو ځلې ډیر ورکول

کیږي.(۶۹)

خلکو سره د مرستې کولو عمل په قرانکریم کې په بیلابیلو نومونو نومول شوی دی. ډالۍ، خیرات، صدقه، پور، د عامو ځیزونو ویش او نور. له دې ټولو څخه هر یو عمل که په ښکاره ترسره شي، او که په پټه ، له الله تعالی سره پر یوه تړون بدلیږي. یانې هر خیرات، صدقه، ډالس، پور او یا یو چا ته د ورځنې ژوند د اړتیا وړ کوم ځیز ورکول، بنده له الله تعالی د یوه تړون په تار تړي. چې له مخې یې الله تعالی د انعام ورکول پر ځان لازم کړي دي.(۷۰) په قرانکریم کې یو ځای راځي چې صدقه کونکي ته به د الله تعالی له لري اجر ورکول کیږي، او نه به پرې ویره وي، او نه به غمجن شي.(۷۱) دغه شان د هغه چا لپاره د سزا یادونه شوې ده چې د قران د ښودل شوې طریقې سره سم لګښت نه کوي.(۷۲)

## د عبادتونو او شعائرو ژمنه:

مسلمانان باید د زړه له کومې په نیک نیت سره د الله تعالی له لوري وړاندیز شوی یو اړخیز تفصیلي تړون ومنې. چې په اوسمهالیز قانون کې ورته (په ښه عقیده سره منل) وایي. په قران حکیم کې د تړون د ځینو مادو مظاهر بیان شوي دي. لکه د ځینو ځانګړو بدني عبادتونو یا ځانګړو دیني دودونو څرګندونکي اعمال او کړنې ترسره کول. په دې پنځه وخته لمونځ، دیرش روژې، په ټول عمر کې یو ځل د هغه چا لپاره حج کول چې وس یې ولري، او په کال کې یو وار د ځاروي قرباني



کول او داسې نور راځي. د دې کړنو په ترسره کولو باندې له هر مسلمان سره د ثواب ژمنه شوې ده. او که کومه تیروتنه وکړي نو سزا به ګالي. نو ځکه د شعائرو پر اړه ژمنه ترسره شوې ده. یوه بیلګه یې د لوی اختر پر مهال د ځاروي قرباني ده، دلته یو کس د ځاروي ارزښت هم ورکولی شي، خو الله تعالی د حاروي پر حلالولو د ثواب ژمنه کړې ده. دا یوه ځواکمنه نښه ده. چې مونږ د مخلوق په ښه د هغه د امر پرځای کولو لپاره د اړتیا پر مهال د هر څه ځارولو ته چمتو یو. یانې هر مسلمان په یو وخت کې د عبادت او شعائرو ژمنې منې. او ورسره ورسره د حقوق العباد ژمنه هم منې.په دې دواړو کې د الله تعالی پر وړاندې د یوې ژمنې پر ځای کول بسنه نه کوي. دا هم په پام کې ساتل په کار دي چې مسلمان به په عبادتونو کې توازن او منځلاریتوب کوي. له فرض عبادتونو سره نور نیک اعمال هم تړلي او لازم دي. دغه شان له خپلو خپلوانو، دوستانو او د کارځای له ملګرو سره د نیک چال چلندو کولو پرته یواځې پر عبادت تمرکز کول هم ګټور نه ثابتیږي. ځکه په خپله الله تعالی فرمایي چې هغه د هیچا عبادت ته اړتیا نه لري، چې یو څوک دې لویدیځ او ختیځ ته مخ اړوي او لمونځونه دې کوي. (۷۳)

## د لمانځه ژمنه:

لمونځ د خپل ځانګړي جوړښت او اهمیت له مخې د لوړ عبادت د ځانګړي تړون پیژاندنې څرګندونکی دی. سره له دې چې مونږ په

لنډو سره د لمونځ یادونه د عبادتونو او شعائرو د ژمنې په بحث کې کړې ده. خو په دنیا او اخرت کې د مسلمان په ژوند کې د لمانځه د اهمیت له مخې دا د یوې ځانګړې ژمنې په توګه هم د یادولو وړ دی. له ادا کونکې سره یې الله تعالی ژمنه کوي، چې نیغ په نیغه به له الله تعالی سره اړیکه پیدا کوي، او ور رسیږي به، او له داسې کارونو څخه به یې ژغوري، او موانع به ورته پیدا کوي چې بد وي. لکه د قواعدو څخه سرغړونه وي، یا له دودیزو نیکو او معروفو چارو سره په ټکر کې وي، چې یو عام انسان یې په کولو سره د شرم او خجالت احساس کوي. بل دا چې له مرګ وروسته سختۍ به ورته اسانوي، په برزخ یا قبر کې به کرار وي، او او د قیامت پر ورځ به ورسره ځانګړې رعایت کوي، دا ټولې خبرې د لمانځه په ترون کې راغلي دي.

سربیره پر دې چې لمونځ یوه ژمنه ده، بیلابیلې برخې یې د مسلمان له لوري الله تعالی لوري ته ډیر مانا لرونکي پیغامونه لري. او په ډیر پام او غور سره یې پیژاندل اړین دي، لکه داسې څرګندونې په کې کیږي:

الف: ټول صفتونه او ښیګڼې د هغه دي،

ب: هغه تر ټولو ډیر مهربان او رحم کونکی او ګټه رسونکی دی. ځکه چې هغه یو پراخ نړیوال ګډ ژوند حشرات، چاپیریال، سمندر،هوا، رڼا او نور په اهتمام سره پیداکړي دي.

ج: د بدلې د ورځې څښتن دی، او د انساني ژوند د ټول حساب کتاب



ریکارډ او ثبت ورسره دی.

د: یواځې د همغه عبادت کول حق دي،او له همغه څخه د مرستې غوښتل روا دي، سربیره پر دې د ټولو انبیاؤ پیروانو ته د سلامتۍ ورکول، او ځینې نورې ځانګړې او انفرادي دعا ګانې، او څو مهم ارکان او اعمال د لمانځه برخه ده، چې پر ټرلو یې ډیرې خبرې کیدی شي.

د لمانځه پیل د مشهور سورت( الفاتحې) له تلاوت څخه کیږي. په مستند ډول دا بیان شوي دي چې که څوک له فاتحې سرهه د نورو ایتونو تلاوت هم وکړي نو الله تعالی یې ځواب پخپله وایي. نو دا چاره په خپله د یوې ژمنې د باوري کولو څرګندونه ده.(٧٤) سورت فاتحه د ژوند د عملي موخو د پوره کولو لپاره د مسلمان له لوري له الله تعالی څخه یوه چمتو شوې غوښتنه(دعا) ده. یوه عریضه ده چې د وړاندې کولو لپاره تلاوت بسنه کوي. په دې کې د قرانکریم لنډیز دی. یو معیاري لاسوند دی، چې پهخپله الله تعالی چمتو کړی دی. نو ځکه یې په کې داسې مضامین او مطالب ځای پر ځای کړي دي چې د الله تعالی پر وړاندې ډیر مهم او اړین دي. د سورت الفاتحې پیل په داسې یو ایت سره کیږي چې د مانا ژوروالی یې څرګند دی. ویل شوي دي ( چې ټول صفتونه او ښیګڼې الله لره دي) (٧٥) د هر لوبغاړي، شاعر، لیکوال، سوداګر او بل هر وړ کس وړتیا په حقیقت له الله تعالی څخه سرچینه اخلي. نو د حقیقي ستاینې اصلي حقدار همغه( الله) دی. ګواکې کومې چکچکې چې د یوه لوبغاړي، شاعر لیکوال یا بل کس د وړتیا په موخه

کیږي، په اصل کې یې ملکیتي حقح له الله تعالی سره خوندي دي.

له رکوع او سجدو څخه وروسته لمونځ کونکی د تشهد په موخه کیني، نو داسې وانګیرئ چې هغه د شاهدۍ پر تخته ولاړ دی. او د شهادت د ګوتې په پورته کولو سره شاهدي ورکوي. چې ښايي د لمانځه په احکامو کې تر ټولو مهم بیان وي. یانې (زه د دې خبرې شاهدي ورکوم چې الله تعالی یواځې د عبادت وړ دی، او محمد ص د هغه رسول او بنده دی.) څرګنده دې وي چې دلته مسلمان ته د خپلې رايې د څرګندولو نه ویل کیږي، بلکې هر شاهدي ویونکي مسلمان ته ویل کیږي چې د یوه ازاد، عاقل، بالغ او هوش او شعور د پابنبت په توګه داسې ګواهي ورکړي چې( الله یو دی او محمد ص د هغه رسول دی). په بله وینا د الله تعالی یووالی د هر انسان له خیالاتو څخه لوړ او مبراء منل شوی حقیقت دی. او بې جنجاله حقیقت دی. او مسلمان ته ویل کیږي چې په ازاد او بې بندوباره ډول د دې حقیقت شاهدي ورکړي. او که شونې وي، نو په بشپړ غور او فکر سره دې ووايي چې(اشهد ان لا اله الله اشهد ان محمد رسول الله)

## له خپل ځايناستي سره ژمنه:

د کايناتو خالق انسان پر ځمکه خپل ځايناستی او خليفه ګرځولی دی. دا رتبه ورته د واک، وړتيا او اهليت پر بنسټ د الله تعالی د مندوب يا ځايناستي په توګه ورکول شوې ده.(۷۶) نو ځکه له هر ځايناستي سره الله تعالی په رتبې د نازولو تړون کړی دی. او په دې تړون



کې يې حدونه او قيدونه هم ټاکلي دي. خليفه ته يې هر هغه څه ورښودلي دي چې هغه ته څرګند نه وو.(۷۷) انسانانو ته يې يو څه ښيګڼې ورکړي دي. خو دا نازول د درنښت او ورکړې په توګه دي، نه دا چې انسان يې له ځان سره په واک او وړ ځواک کې شريک کړی دی. یانې مونږ هر يوه ته په قرانکريم کې د خلافت (يا ډيپيوټي) دا اعزاز راکول، يو لوی پرمختګ دی. له خليفه سره د تړون له مخې په ازادانه توګه د پريکړې کولو وړتيا او د ياد اهليت پر کارولو بندبزونه دواړه څرګنديږي. مونږ ټولو ته د خالق کاينات له لوري د دې رتبې راکول ځينو بنديزونو او ځان ساتنې پورې مشروطه ده. او دا ټول يو ځای کيږي او يو کاري چوکاټ جوړوي.

بيا هم کله کله داسې انګيرل کيږي، چې لوړ مقام څخه ځايناستي ته ډير واک ورکول شوی دی. دا ناسم فکر دی. حقيقي حاکميت او واک له الله تعالی سره دی. د الله تعالی واک او ځواک د ويش وړ نه دی. هغه خپل ځايناستي ته يواځې يو څو وړتياوې ورکړي دي. يا يې د پوهې د ځينو برخو د لاسته راوړلو وړ ګرځولی دی. که هر څوک له لوی واکمن سره په واک کې د شريکيدو دعوی کوي، نو دعوی يې باطله ده. او داسې کس د شرک مرتکب ګرځي. ( یانې مشرک بلل کيږي)

مونږ ټول د الله تعالی پر ځمکه نائب، خليفه او ځايناستي يو.(۷۸) او ځانګړی کورنی او ټولنيز شاليد راکول شوی دی.په بيلابيلو

موسمونو او ځایونو کې یې پاللي یو، بیلابیل هوادیز او ټولنیز کاري چوکاټ راکول شوی دی، او د ځمکې پر بیلابیلو هیوادونو، ښارونو او کلیو کې یې استوګن کړي یو. د لوی واکمن یانې الله تعالی له لوري رنګارنګ مسئولیتونه زمونږ کړنې او افعال چلنج کوي، او ننګوي یې.مونږ هر یو یې په ازادۍ نازولي یو،او د پریکړې وړتیا یې هم راکړې ده. مونږ حق لرو چې یوه کړنه پر بله غوره کړو. ښې او کیڼ لوري ته اوښتی شو،دښمني هم کولیشو، او دوستي هم، په غوسه هم خبرې کولی شو، او په نرمه هم، په ادب هم غږیدلی شو، او د بې ادبۍ واک هم لرو. مطلب مونږ ته چې د ځایناستي په توګه کومه ازادي راکول شوې ده، د هغې له مخې مونږ خپلې وړتیاوې په غوره توګه هم کارولی شو، او له بده مرغه کله کله یې په ناسم ډول هم کارولی شو. حال دا دی چې قرانکریم چې چې زمونږ د خلیفه توب لاسوند دی، په خپله خلیفه ته د هغه د واک او وړتیا د سم کارولو تفصیلات ورښودلي دي. سربېره پردې د مهدې ژمنې له مخې زمونږ د مرغ یا بخت پریکړه کیږي، چا چې خپل مسئلیتونه په هره بڼه سرته ورسول، هماغه ډول اجر او بدل به ورکول کیږي.

## د پیرل شوي مؤمن ژمنه:

له الله تعالی سره چې د مسلمان کومه غیمعملي اړیکه ده، د هغې یوه څرګندونه داسې هم کیدی شي، چې الله تعالی هغه (اخیستی یا



پیرلی) دی.

که د پیروپلور نوی قانون په پام کې ونیول شي، نو دا تعبیر د یوې غیرمعمولي قانوني اړیکې لنډیز دی. (۷۹) دا یو ډول ژمنه ده، چې مسلمان یې پ جلا توګه د ترسره کولو اړتیا نه لري، بلکې کله چې یو کس مسلمانیږي، نو دا ژمنه په خپله تر سره کیږي. مسلمان د ناخبرۍ او غفلت له امله خپل ځان له دې ژمنې څخه ایستلی شي. مسلمان باید خپلو تړونونو ته ژمن واوسي، او داسې کارونه او نیت وکړي چې د خپل هرڅه سر، مال، جایداد، شتهمنۍاو هر څه د الله تعالی په لاره کې ورکولو ته چمتو دی، بیشکه الله تعالی له مؤمنانو څخه په جنت کې د تلپاتې ژوند په بدل کې له هغوي څخه د هغوي سر، مال او هر څه اخیستي دي.(۸۰)

د هر اخیستونکي فرائض دا دي چې، هغه چې هر څه اخلي او بیري، نو د هغه په ملکیت او شتمنۍ کې شاملیږي. او ساتنه او پاملرنه یې د هغه مسؤلیت ګرځي. که یو څوک یو څیز لکه موټر، ساعت یا لیپ ټاپ یا داسې بل کوم مادي څیز یا جایداد پیري نو د دې مانا دا شوه چې نوموړی کس د دې څیز د ساتلو او پاملرنې لپاره هر وخت چمتو دی.

دغه راز زمونږ اخیستونکی( که په باوري توګه مونږ پر دې باور یو چې مونږ اخستل شوی یو) هم په باوري توګه زمونږ ساتونکی دی. او لکه څنګه چې د سامان د پلورلو له اصولو سره سم ملکیت

لیږدول کیږي، بلکې پر سامان هر افت(۸۱) د راتللو مسؤلیت هم پیریدونکي ته لیږدول کیږي، نو بیریدونکی په بشپړه توګه د سامان د ساتنې مسؤل ګرځي.

که چیرې مونږ د زړه له کومې دا خبره خپل ذهن ته ښکته کړو چې د کایناتو تر ټولو شتمن، اغیزناک او ستر پیریدونکي مونږ پیرلي یو، نو د اوسمهال دا قانون مونږ باوري کوي چې الله تعالی د یوه پیریدونکې په توګه زمونږ بې شمیره حقونه، غمونه او ازمیښتونه پر خپله ذمه اخیستې دي.

## د وکیل ژمنه:

الله تعالی خپل ذات زمونږ لپاره د وکیل( اتارټي) په توګه وړاندیز کړی دی. او ویلي یې دي چې مسلمان باید هر څه پریږدي، او الله تعالی خپل وکیل وټاکي.( ۸۲) په بله وینا، هغه په خپلواکه توګه یو وړلندیز کړی دی، یا د اوسمهالیز لیدلوري له مخې یې وکالت لیک زمونږ مخې ته ایښی دی. مونږ به په بشپړه نیکنیتۍ سره پرې لاسلیک کوو. او الله تعالی مو باوري کوي چې هغه به زمونږ ټولې چارې په پاملرنه سره پر مخ بيایي. او د دې وړاندیز سره سم د مسلمان او الله تعالی تر منځ یوه بله ژمنه تر سره کیږي. د کفیل یا وکیل یلدونه په قرانکریم کې نږدې اتلس وارې شوې ده.(۸۳) خو په پرله پسې توګه د یوه امانت لرونکي، سرپرست او د چارو د سنبالونکي په توګه.

مونږ پوهیږو چې په اوسمهال کې د وکیل دنده دا ده چې د مؤکل



د ټولو ګټورو چارو نمایندګي وکړي. موکل پر وکیل اود هغه پر وړتیا باور لري. او هره مشوره او لارښوونه یې مني. الله تعالی هم له مونږ څخه همدا غوښتنه لري. چې مونږ یې د موکلینو په توګه پر لارښوونو عمل وکړو. دا د هر مسلمان د چارو د پر مخ بیولو لپاره یوه بشپړه نمایندګي ده. هغه غیر معمولي چارواکی دی. ځکه چې مسلمانانو ته وړاندیز شوې ساتنه له ضمانت سره ورکول کیږي. کله چې لګښت کونکی پر خپل چارواکي پوره باور ولري، نو په مستنده توګه ورکول شوی باور د غوره پایلې ضمانت کونکی وي.(۸٤) تر ټولو بارسوخه ذات زمونږ د دفاع لپاره چمتو کیږي. د قرانکریم د ژمنې له مخې د کفیل او لګښت کونکي په تړون کې له موکل څخهغوښتنه کیږي، چې د دنیا او اخرت د بریالیتوب لپاره باید د چارواکي پر ورکړل شویو لارښوونو په بشپړه توګه عمل وکړي.

د یوه وکیل په بڼه الله تعالی دا څرګندوي چې یواځې بسنه کوي. او موکل یې د بل چا مرستې ته اړتیا نه لري. موکل باید له هیڅ مړي یا ژوندي څخه نوره مرسته ونه غواړي. الله تعالی دا نه خوښوي چې موکل یې د مرستې او لارښوونې په موخه له بل چا سره اړیکه ټینګه کړي. ځکه چې د دې مانا به داشي چې د یوه وکیل په توګه د الله تعالی پر ذات باور شتون نه لري. او د دې مانا دا هم نه ده چې د الله تعالی له وکیل کیدو وروسته موکل بې فکره شي. د نوې زمانې د هر موکل په توګه له مؤمن څخه هم دا هیله کیږي چې ویښ واوسي، او د خپل وکیل له

مشورې سره سم کار وکړي، او خپله کړنلاره بدله کړي. تر څو د خپلې بې پروایۍ، ناخبرۍ او بې عقلۍ له کبله د خپل جلیل القدر وکیل موخې او پلانونه خراب نه کړي.

## د خالق او مخلوق ژمنه:

یوه بله اړیکه چې انسان یې له الله تعالی سره لري، هغه د خالق او مخلوق تر منځ ژمنه ده. هغه هم یوه قانوني اړیکه جوړوي چې د الله تعالی او مخلوق ترمنځ ټینګیږي. (۸۵) دا اړیکه هم د ژمنو په لړ کې راځي. الله تعالی اعلان کوي چې، مونږ یانې انسانان د هغه بندګان یو. (۸٦) د دې شالید له مخې هغه دعوی کوي چې هیڅکله به له خپلو بندګانو سره نا انصافي ونه کړي.(۸۷) د الله تعالی د بندګانو اصطلاح د نبیانو لپاره هم کارول شوې ده. او د مسلمانانو لپاره هم.(۸۸) نبیانو ته دوه ګونی خطاب یانې عبد او رسول کارول شوی دی، عبد هغه چاته ویل کیږي چې د مرئي په توګه کار کوي، یا په رضاکارانه توګه ځان د الله تعالی مرئي بولي، د الله تعالی د مرئي کیدو لپاره اړینه ده چې لمونځونه وکړي، په پټه او ښکاره صدقه ورکړي، او پر الله تعالی ایمان راوړي.( ۸۹) الله تعالی پر خپلو بندګانو ځانګړې نظر لري، او ګوري یې.

د الله تعالی بنده چې ځان د الله تعالی مرئي وګڼي، له دې څخه د خالق او مخلوق تر منځ یوه نوې ژمنه ترسره کیږي. هر مخلوق د تخلیق له مخې د خپل ښځتن غوښتنو ته سر ټیټوي. د ښځتن او مرئي د اړیکې



مانا دا ده چې بنده یا مرئي د الله تعالی ماتحت یا ترلاس لاندې دی، او انسان د هر هغه کار پر کولو مکلف دی چې ښځتن یې ورته حکم کوي. د الله تعالی هر بنده دا حق لري چې په خپله خوښه د( ښځتن او مرئي) یا (اقا او غلام) په ژمنه کې ځان شامل کړي.

## د پوروړي او پورورکونکي ژمنه:

الله تعالی په قرانکریم کې د یوې داسې ژمنې یادونه هم کړې ده چې په کې مسلمان ته یو ډول غوره والی ورکړل شوی دی. د پوروړي او پور ورکونکي ژمنه. (۹۰) دا کومه قانوني افسانه نه ده، بلکې دا نیغ په نیغ لعلان شوی تړون پخپله الله تعالی له هر هغه مسلمان سره ترسره کړی دی چې صدقه او خیرات ورکوي.

په نورو تړونونو کې چې الله تعالی له خپلو بندګانو سره کړي دي، الله تعالی یو برلاسی لوری دی، چې یوه نامساوي راکړه ورکړه برینښي. په نورو ټولو قانوني اړیکو کې انسان د الله تعالی تابع او پیرو دی، لکه د الله تعالی بنده کیدل، د الله تعالی رعیت، د الله تعالی مخلوق، د الله تعالی خلیفه او نور. خو دلته الله تعالی خپل عظیم ذات د خپل مخلوق پوروړی ګڼي. او په خپله خوښه د پوروړي کیدو شرطونه وړاندې کوي، او داسې اعلان کوي چې څوک الله تعالی ته قرض حسنه( صدقه) ورکولو ته چمتو دی؟(۹۱)

په دې تړون کې تر ټولو د داډ وړ لویه خبره دا ده چې، پوروړی ذات د

کايناتو تر ټولو شتمن او د هر ډول وسايلو درلودونکی ذات دی.نو ځکه کولی شي چې خپل پور څو برابره زيات او په ښه ډول پرى کړي، او دا مسئوليت په ښه شان سره ادا کړي.

لکه څنګه مو چې مخکې وويل دا ښايي يواځينۍ دا سې قانوني قاعده وي چې قادر مطلق ذات په کې مخلوق ته واک ورکړى دى چې يو څه مسئوليت پرې واچوي. او خالق د هغې د منلو لپاره د خپلې رضا اعلان کړى دى.الله تعالى د خپل ځان لپاره هيڅ څيز ته اړتيا نه لري، د خپلې بشپړې ځواکمنتيا اعلان کوي. خو له دې سره سره د داسې غير معمولي تړون وړانديز کوي، چې( ايا څوک شته چې الله تعالى ته د قرض حسنه ورکولو لپاره چمتو وي.) او د بيرته ورکولو شرطونه او ژمنې هم ورسره بيانوي، چې( الله تعالى به يې څو برابره زيات بيرته درپرې کړي) (۹۲)

## ( څوک چې له ما سره مرسته کوي زه به ورسره مرسته کوم ) د دې خبرې ژمنه:

الله تعالى فرمايي که تاسو له ما سره مرسته وکړئ، نو ستاسو مرسته پر ما فرض ګرځي. د دې مانا دا هم کيدى شي، چې که تاسو له ما سره کمرسته ونه کړئ نو تاسو سره د مرستې کولو لپاره له ما سره هيڅ دليل نه شته.(۹۳) دلته د الله تعالى د مرستې کولو مانا دا ده چې د هغه د پيغام عملي کول، نيک کارونه کول، او هغې ټولو خبرو ته درناوی



درلودل دي چې يو مسلمان يې له الله تعالى سره د ژمنې د معياري شرطونو په ډول مني. لکه څنګه چې قرانکريم کې راغلي دي، د يوه مسلمان مسئوليت دا دى چې نيغ په نيغه يا په غير مستقيم ډول د الله تعالى د وحدانيت، حاکميت او ځواکمنتيا د دعوې حمايت او تقويت وکړي. يو مسلمان د خپل قول، عمل او دعا په مرسته د الله تعالى په لاره کې مرسته کولى شي. څومره چې ډير هغه دا کارونه کوي، په هماغهه کچه د خپلو تعميل کيدونکو او نه تعميل کيدونکو اعمالو له کبله الله تعالى سره خپلمنځي مسئوليتونه پيدا کوي.

د انشورنس يا بيمې د تړون بيلګه راوړو. مونږ په مياشتني يا کلني فيسسره د بيمې د کمپنۍ مرسته پيلوو، او هغه د پيښو له امله مونږ ته د رارسيدلي زيان د جبران لپاره د مرستې کولو ضمانت راکوي. دلته ضمانت د الله تعالى له لوري دى. او مونږ وخت پر وخت د نيکو اعمالو پريميم يا ادراينه کوو، هغه له مونږ څخه په قرانکريم کې د همدې غوښتنه کوي. بيا الله تعالى د ستونزو پر مهال د تړون د مسئوليت په توګه له مسلمان سره مرسته کوي.

## (څوک چې ما هير کړي، زه به يې هم هير کړم ) د دې خبرې ژمنه:

قرانکريم دا ژمنه په څرګنده توګه بيانوي، چې که يو مسلمان الله تعالى هير کړي، نو د قيامت پر ورځ به الله تعالى هغه هير کړي. الله تعالى دا خبره په ډيره اسانه ژبه بيان کړې ده: ( دغه شان زمونږ ايتونه

تاته درغلي وو، خو تا هغه هیر کړل، نو نن ته هم هماغسې هیر کړل شوې.)(٩٤) د الله تعالی د هیرولو مانا دا هم ده چې د الله تعالی اپیغامونه ورته رسیدلي وي، خو عمل یې پرې نه وي کړی.(٩٥)

د الله تعالی هیرول تیروتنه هم کیدی شي، او بخښنه یې ترې غوښتل شي.(٩٦) د الله تعالی د هیرولو مانا دا هم کیدی شي چې، هغه په خپلو فکرونو یا د دنیا او اخرت په چارو کې د پلان او عمل په برخه الهي لارښوونو ته کومه ترجیح ورنه کړل شي.

تاسو ازموینه په برلیالیتوب سره پای ته رسوئ، خو مننه مو له یاده وځي. یا تاسو له روغتون څخه رخصت کیږئ، د وینې راپور مو منفي وي، خو مننه مو هیریږي. کوم سمسور او ښکلي ځای ته ځئ، خو د الله تعالی یادول مو هیریږي. کومه دنیوي سیالۍ کې ګټه او بریالیتوب لاس ته راوړئ، خو دا د خپلې وړتیا او زیار پایله ګڼئ. دا د الله تعالی د هیرولو وړې وړې بیلګې دي، چې ښايي هغه مو وبخښي. خو که د هغه د هیرولو چاره ډیره زیاته شي، او پرله پسې شي. یانې که څوک ظلم کوي، او د هغه ویره له زړه وباسي، او احکام یې هم له یاده وباسي، نو له بده مرغه هیرول به ورته ووایو.

دا درنه او سخته چاره ده. ځکه د الله پیغام دا دی چې که هغه د هیرولو پریکړه وکړه، نو پایله یې هم خطرناکه ده.بیا به دقیامت پر ورځ زمونږ لپاره د خپل د رحم واک کارول هیر کړي. او بې له شکه د اخرت پر ورځ یو کس یواځې د هغه نیکو او بدو کړنو پایلو ته پاتې کیدل یو درنه او ګرانه معامله ده.



## ته ما یاد کړه زه به تا یاد کړم، د دې خبرې ژمنه:

( که ته ما هیر کړې، زه به تا هیر کړم) ژمنه کې د الله تعالی له لورې له خپلو یادوونکو سره هم ژمنه شته. چې له مخې یې خپلو یادونکو ته د هغوی د یادولو ضمانت ورکوي،(٩٧) په یوه حدیث کې راځي چې که یو کس په خپل زړه کې الله تعالی یادوي، نو هغه به یې هم په چوپتیا کې یاد کړي، او که څوک یې په ښکاره توګه یاد کړي، یا یې له خپلو ملګرو سره په مجلس کې ذکر وکړي، نو الله تعالی به یې د پرښتو په مجلس کې یادونه وکړي. سره له دې چې دا ژمنه له دوو نورو تړونونو سره ورته ښکاري، خو د قانوني لیدلوري له مخې یې ځانګړنې بدلې دي.(٩٨) نو ځکه یې مونږ یو ځانګړي تړونپه توګه منو.( تاسو ما یاد کړئ، زه به تاسو یاد کړم) او (ته له ماسره مرسته وکړه زه به تاسره مرسته وکړم) او د ( که ته ما هیر کړې نو زه به تا هیر کړم) ژمنو ترمنځ ظاهرا ورته والی لیدل کیږي. خو په هر حال دا له نورو څلور ژمنو( رسیدنه، ختبرې اترې، دعا او بخښنې) سره ورته والی لري. چې په شکاره سره تکرار شکاري. خو په حقیقت هره یوه جلا جلا قانوني ځانګړتیاوې لري. نو ځکه مونږ هم د بیلو بیلو تړونونو تر بحث لاندې راوستې دي.

## د الله تعالی د مینې د ورکړ ځیدلو ژمنه:

د ځینو مسلمانانو پر اړه الله تعالی د مینې یوه ځانګړې ژمنه کړې ده. او د هغوی پر اړه یې د خپلې ځانګړې خوښې او درناوي

څرګندونه کړې ده. پر دې له پوهیدو وروسته بنده دا ډاډ ترلاسه کوي چې الله تعالی د هر یوه لپاره یو مساوي معیار ټاکلی دی.که هر مسلمان وي، لوستی وي، نالوستی وي، عام کس وي،که خاص، ځوان وي او که زوړ، ښه وي او که بد، د دې ژمنې د وړتیا لپاره هغه یواځې یو څوو اعمالو ته اړتیا لري، چې په ترسره کولو سره یې د دې تړون له مخې الله تعالی د خپلې مینې وړ ګرځوي.

دا کوم خلک دي چې الله تعالی ورسره مینه کوي، یا هغه کوم خلک دي چې الله تعالی ورسره مینه نه کوي؟ الله تعالی فرمایي: ( نیکي وکړئ، ځکه الله تعالی نیکي کونکي خوښوي.) (۹۹) نیکي یوه پراخه اصطلاح ده. چې بې شمیره هغه دندې او مسئولیتونه په کې راځي، چې یو مسلمان یې بید ترسره کړي. الله تعالی له هغو خلکو سره هم مینه کوي، چې الله تعالی لوري ته ورکرځي.(۱۰۰) په دې کې بیا بیا د توبې په مرسته الله تعالی ته رسیدل، له هغه څخه د لارښوونې غوښتنه کول، بخښنه ترې غوښتل، او شکر ایستل راځي.

الله تعالی ناشکري کونکي نه خوښوي. (۱۰۱) او نافرماني کونکي هم نه خوښوي. (۱۰۲) او هغه خلک چې د هغه لارښوونې له پامه غورځوي، او بدکاره خلک هم نه خوښوي.(۱۰۳) خیانت کونکي هم نه خوښوي،(۱۰٤) او هغه څوک هم نه خوښوي ې د هغه له حدودو څخه تیری کوی.(۱۰۵) دا په ښکاره توګه یو ساده بیان دی، خو مانا یې ډیره پراخه ده. که یو څوک له حدودو څخه تیری ونه کړي، لکه په



قرانکریم کې پر شته لارښوونو په اغیزناکه توکه عمل کول، په قرانکریم کې د راغلي حدونو ساتنه کول، د خپل چاپیریال د خلکو حقونه ورکول، د شخصي شتمنیو خیال ساتل، له عباداتو او شعائرو سره په تړاو د ژمنو درناوی کول،او نور نیک کارونه کوي، نو په نیکي کونکو کې شمیرل کیږي. د مسلمانانو یوه ځانګړې ډله چې د الله تعالی ځانګړې مینه به ترلاسه کوي، هغه څوک دي چې د خپلو وعدو او ژمنو ساتنه کوي. او خیال یې ساتي. (۱۰٦) د دې مانا دا شوه چې د مسلمانانو له لوري د ژمنو په ساتنه د الله تعالی نظر وي. نو د دې لپاره دا په پام کې ساتل په کار دي چې د ورځنیو تړونونو او ژمنو ترسره کول باید په شعوري احساس سره وشي، ځکه چې الله تعالی پرې راضي کیږي. داسې وانګیرئ چې هر هغه مسلمان سره الله تعالی د مینې ژمنه کړې ده چې خپلې دنیوي ژمنې هم په اماتنداری‌ سره تر سره کوي.

مونږ چې کومه خبره کوو او بیا پرې عمل نه کوو، نو دا کار د الله تعالی نه خوښیږي.(۱۰۷) یوه بله ډله خلک چې د الله تعالی خوښیږي، هغه څوک دي چې ثابت قدمه اوسي.(۱۰۸) او دا هغې مسلمانانو ته اشاره ده چې د ازمیښتونو او هڅونو پر مهال ثابته قدم او باعزمه وي. هغوی د بې شمیره مسئولیتونو او فرائضو په یړ کې د الله تعالی هغو ژمنو ته ژمن وي، چې د ایمان راوړلو په حالت کې یې ( وړاندیز منلی وي). د مسلمانانو بله ډله چې د الله تعالی د مینې لاسته راوړونکي ګڼل کیږي، هغه خلک دي چې پر الله تعالی تکیه او باور کوي.(۱۰۹)

## د پناه ورکولو ژمنه:

د پناه لاسته راوړلو موخه د انسان د نیک عمل او ابلیس د شیطاني کړنو تر منځ د دیوال جوړول دي.دا چې ابلیس له الله تعالی سره ژمنه کړې وه چې له مخې هغه مهلت ورکول شوی دی چې انسان له الله تعالی او د هغه له لارې څخه لیرې کړي، له همدې امله هغه انسان په پیلابیلو لارو تیرباسي، او دوکه ورکوي.(۱۱۰) د دې ستونزې یوائینی مخنیوی دا دی چې انسان الله تعالی ته مخه کړي اوله هغه څخه پنا وغواړي. یانې له ابلیس سره د اللتعالی د ژمنې له منځه وړل په خپله له انسان سره د الله تعالی بله ژمنه رامنځته کوي.

د همدې لپاره (اعوذبالله من الشیطان الرجیم) هغه جمله ده چې یا هغه نوې ژمنه ده چې ابلیس ته د انسان د دوکه کولو اجازې پر ضد یوه نوې استثنی رامنځته کوي.(۱۱۱) د الله تعالی د پنا پر اړه تر ټولو ښه خبره دا ده چې له غوښتلو وروسته نه رد کیږي. (۱۱۲) نو څکه هغه ازادي چې ابلیس ته د یوې ژمنې په پایله کې ورکول شوې ده، لږ ترلږه د پنا غوښتلو د ژمنې په پایله کې د لږ وخت لپاره له منځه تللی شي. قرانکریم له مسلماناو سره ژمنه کوي چې د ژوندانه پر مهال به ورته ساتنه او پنا ورکوي. خو څرګنده خبره ده، چې دا چاره به هغه مهال ترسره کیږي چې مسلمان خپل ژوند د قرانکریم له مادو سره سم تیر کړي. دا تصور د قرانکریم په وروستیو دوو لنډو خو مهمو سورتونو بیان شوی دی.(۱۱۳)



## د انعام او اکرام ژمنه:

هر مسلمان چې نیک عمل کوي، د عمل په ترسره کولو سره د هغه او الله تعالی ترمنځ د انعام او اکرام ژمنه ترسره کیږي. له هر نیکې کونکې کس سره الله تعالی دا ډول ژمنه نیغ په نیغه کوي. څکه نو هر مسلمان یانې زه، ته او بل هر څوک باید دا باور ولري چې د الله تعالی عظیم ذات به یې په خپله په انعام ونازوي.

قرانکریم د مسلمان لپاره د نیک عمل د اجر او ثواب ژمنه دومره ډیره کړې ده چې په قرانکریم کې په بیشمیره توګه د دې یادونه شوې ده. تر دې چې مسلمان ته یوائې پر الله تعالی د ایمان راوړلو په بدل کې هم اجر ورکول کیږي. (۱۱٤) د انعامونو یوه لویه زیرمه یوائې د دې لپاره ځانګړې شوې ده چې مسلمان پر دې خبره ایمان ولري چې الله تعالی یو دی، او د هغه هیڅ رسول دروغجن ونه ګڼي.(۱۱٥) بې کچې اجر(۱۱٦) هغه چاته ورکول کیږي چې له ایمان سره سره لمونځونه کوي،او صدقې ورکوي. ګواکې له هر لمونځ کونکې سره بیل تړون ترسره کیږي. دغه شان الله تعالی له هغې کسانو سره ژمنه کوي چې پر الله تعالی ایمان راوړي، او نیک عملونه کوي، چې ستر اجر او انعام به ورکوي.(۱۱۷) دا انعامونه چې څومره ډیریږي، د مسلمان د نیکۍ زیرمه هم لوییږي. الله تعالی مونږ باوري کوي چې دا ټول عملونه به له منځه نه وړي.(۱۱۸)

بنده چې له الله تعالی څخه ویریږي، دا کار د الله تعالی

خوښيږي. او د هغې نفس لپاره يې چې ويره احساسوي او له الله تعالی څخه ويريږي، د بيلو انعامونو ژمنه کړې ده.(۱۱۹) انعام به لرېږي نه.(۱۲۰) او د ځينو لپاره به لامحدود ثواب وي. (۱۲۱) تلپاتې باغونه او له حورو سره تلپاتې ژوند همدا انعامونه دي.(۱۲۲)

دا دومره لوی انعامونه دي، چې د انسان له تصور څخه بهر دي. الله تعالی په بشپړه توګه د خپل ذات او بنده تر منځ ننګونه باندې پوهيږي، خو له خپل ځواک او بنده له کمزورۍ څخه ناوړه ګټه نه پورته کوي.(۱۲۳) رسول الله ص بيا بيا دا تائيد کړې ده چې، د بنده له لوري د الله تعالی د هرې ژمنې د ساتنې په بدل کې د ورکول کيدونکي انعام کچه ډيره لويه ده.(۱۲٤)

په ښکاره سره خو دا چاره عامه ښکاري خو که د قانوني ليدلوري له مخې ورته وکتل شي، دا ډيره غيرمعمولي چاره بريښي. يانې د هر نيک عمل په ترسره کولو باندې له الله تعالی سره نيغ په نيغه تړون؟په يوه ورځ کې د لسو نيکيو په کولو سره لس تړونونه؟ يا د شلو نيکيو په کولو سره شل تړونونه؟ د باور وړ نه ده خو دا چاره همداسې ده.

پوښتنه کيږي چې د دې ډول تړونونو او غير معمولي انعامو لامل څه کيدی شي؟ لامل يې ډير ساده دی.هره نيکي د الله تعالی د لارښوونې اعتراف دی. هر نيک کار د هغه د حکم د پيروۍ شاهدي ده. هر نيک عمل له ابليس سره سره په کړې ژمنه کې د الله تعالی لوری نيول دي. يانې زمونږ نيک عمل د ابليس د ناکامۍ وړ ګرځي. او د الله



تعالی د ازلي موقف يانې اشرف المخلوقات برياليتوب دی. نو ځکه الله تعالی هره نيکي ډيره خوښوي، او له هر نيکي کونکي سره نيغ په نيغه ژمنه کوي، او د دومره ډيرو انعامونو د ورکړې ژمنه کوي چې له هيڅ وړوکي عمل سره نه جوړيږي.

## د سزا ژمنه:

الله تعالی له هغو کسانو سره د انعام ژمنه کړې چې ايمان پرې راوړي او د قراني لارښوونو پر مادو عمل کوي، برعکس له هغو کسانو سره يې د سزا ژمنه کړې ده چې له هغه څخه انکار کوي.د سزا دا ژمنه له هغو مسلمانانو سره هم شوې ده چې د ايمان راوړلو سره سره د قرانکريم پر لارښوونو عمل نه کوي. ( هغه کتاب چې دوی يې ريښتينی ګڼي)يوه بله خبره هم د غور وړ ده چې د سزا دا ژمنه له يو لړ تنبيهاتو او امکاناتو پرته نه ترسره کيږي. يانې وړاندې تر دې چې ناوخته شي، هر انسان ته په نړۍ کې د کړنو پر اړه د غور او فکر او اصلاحاتو لپاره وخت ورکول کيږي. دې چارې ته مونږ د اوسمهال قانوني تشريح له مخې (ډو پراسيز) يانې د پروسې پر اړه د غور د وخت غوښتنه ويلی شو. يو ځل چې يو کس مړ شي، نو داسې انګيرل کيږي چې هغه ته د خپلو اعمالو او کړنو د سمون لپاره ورکول شوی وخت پای ته ورسيده. نو بيا د سزا دا ژمنه پلې کيږي. په سزاګانو کې د درد او تکليف بيلابيل پړاوونه شتون لري. مونږ ته د ځينو سزاګانو بڼې او اشارې د قرانکريم په ژبه بيان شوي دي. د بيلابيلو ګناهونو سزاګانې به بيلابيل

ډوله وي، او سخت والی به يې هم د ګناه په کچه وي.

په ځينو ځايونو کې ګناهګار ته شرمونکې سزا،(١٢٥) په ځينو ځايونو کې ذلت ورکونکې سزا،(١٢٦) يا ويرونکې سزا (١٢٧) ياده شوې ده. په بل ايت کې ورته دردونکې سزا ويل شوې ده،(١٢٨) په بل ځای کې دوه برابره عذاب ياد شوی دی. (١٢٩) د سزاګانو د سختوالي د پوهاوي لپاره مونږ بايد دا خبره په ياد ولرو چې د ابليس او الله تعالی ترمنځ انسان ته د وسوسو او تيرايستنې ژمنه هم شوې ده. نو هره بدي سربېره پر بدوالي د ابليس د بريا مانا هم لري. او ښکاره ده چې دا کار د الله تعالی نه خوښېږي، چې د هغه هاغه مخلوق چې د رايې ازادي يې وربخښلې، عقل يې ورکړی او خپل پيغام يې ورته راليږلی دی د ښو او بد توپير ونه کړي. نو ځکه سخته سزا او عذاب يواځې د بې عقله کس د بدۍ لپاره نه دی، بلکې د الله تعالی په عزت کې په کمه سترګه د کتو له کبله هم سزا ورکول کېږي.

يوه بله خبره چې د غور وړ ده او خلک پرې فکر کولی شي، دا ده چې ولې د قران لوستونکي د جهنم، سزاګانو او نورو دردونکو علاجونو پر اړه د دومره تفصيلي خبرو له کبله ويرول کېږي. دا سم کار دی، او ان تر دې چې د نوې فقهي اصولو کې يو مشهور اصل هم دا دی چې د جرم سزا بايد له ارتکاب څخه مخکې اعلان شي. يانې پلورونکيه هوښيار اوسه. د همدې لپاره په قرانکريم کې د سزاګانو تفصيل مخکې له مخکې راغلی دی. قرانکريم بيا بيا د بديو او جرمونو



پېژاندګلوي کوي. او بيا يې اړوند سزا بيانوي. د سزا، د ډول، د کچې او بڼې څرګندونه يوه قانوني مجبوري ده. د همدې غوښتنې له مخې په اسانۍ سره پر دې خبره پوهيدی شو، چې ولې الله تعالی د قيامت د ورځې او د اوږدوالي، او دوزخ د ويرونکي حالت انځورګري کړې ده. تر دې چې د قرانکريم د وروستۍ برخې لږترلږه شل سورتونه د حساب کتاب، دوزخ او سزاګانو د زړه بوږنوونکو تفصيلاتو پر اړه راغلي دي.

## له ستونزې وروسته د اسانۍ ژمنه:

يوه بله ژمنه چې الله تعالی زما او ستا په ګډون له خلکو سره کړې ده هغه د ژوند د مدوجزر ژمنه ده. يا د ژوند په هر پړاو کې له ستونزو او ازميښتونو سره مخامخ کيدل دي. نو ځکه مونږ وينو چې زمونږ په چاپيرچل کې خلک ښه خوشاله ژوند تيروي، خو يو ناڅاپه په يوه ستونزه او تکليف اخته کيږي. ځينو ته ناڅاپي پيښه پيښيږي، د چا دنده له لاسه وځي، د چا خپلوان وفات کيږي، د شتمنۍ زوال پرې راځي، ناروغي راځي، او داسې نور. د ستونزو رامنځته کيدل د دې تړون د مادو ښکارندوی دي. د ستونزو پر مهال د الله تعالی يادول ښه کار دی. څه پته ده که همدا يادول تاسو له کوم بل لوري څخه الله تعالی ته نږدې کړي.

قرانکريم دې خبرې ته د حيرانتيا په سترګه ګوري، چې خلک ولې داسې انګيري چې يواځې د کليمې په ويلو او ايمانراوړلو به پرېښودل شي، حال داچې پر قرانکريم ايمان د ستونزې پروخت

څرګندیږي. هر مسلمان د خپل ژوند په اوږدو کې له یوه ځانګړې تکلیف څخه تیریږي. په دې سره به د هغوی د ایمان او باور ازموینه اخستل کیږي. دا ازموینه د ستونزو، ویرې، لوږې، ځاني او مالي زیان او نورو په بڼه راځي. (۱۳۰) دا حالت پر هر مسلمان راځي. خو هر څوک چې د ستونزو دا وخت په ثابت قدمۍ سره پای ته ورسوي، او له الله تعالی سره په کې خپله اړیکه نوې کړي، نو همدا چاره به یې اسانۍ لوري ته بوځي. دا هغه خلک دي چې لاره یې موندلې ده.(۱۳۱) له داسې خلکو سره د انعام او اسانۍژمنه شوې ده.(۱۳۲)

الله تعالی په یو ځای کې فرمايي، هغه به هغې خلکو لپاره اسانیرامنځته کړي چې په ستونزو کې ګیر دي.دا مضمون په قرانکریم کې په دوو بیلابیلو ځایونو کې راغلی دی. یو ځای فرمايي: چې مسلمان ته به له ستونزو څخه وروسته سکون او ارامي ورکړي. (۱۳۳) په بل ایت (۱۳٤) کې دا باوري کوي چې له ستونزو وروسته اساني هرومرو راځي. او دا په پرلهپسې دوو ایتونو کې راغلي دي. نو اهمیت یې هم دوه برابره دی.(۱۳۵)

ستونزې تر اونیو او میاشتو اوږدیږي. او هیڅ قطعي اصول نه شته چې کره کړي چې ستونزې به تر کومه دوام پیدا کوي. که مالي بحران راشي، نو یو څه وخت به اخلي چېبیرته له منځه ځي. د محمد رسول الله ص په مبارک ژوند کې هم کلونه کلونه ستونزې راغلي دي. د طایف د سفر پر مهال په ډبرو ویشتل شوی دی.په مکه کې پرې ظلمونه وشول،



او له کلونو ظلم او ستم تیرولو وروسته یې په چوپتیا کې د مدینې پر لوري هجرت وکړ. بني اسراییلو په مصر کې ظلمونه وزغمل، او کلونه کلونه پرې ستمونه وشول. تر دې چې زامن به یې وژل کیدل، او دا شمیر سلګونو ته ورسیده، یوسف ع څو کلونه په زندان کې تیر کړل. او بل پیغمبر موسی ع کلونه کلونه په دښته کې تیر کړل. (۱۳٦) د مسلمانانو تر کمزوري کیدو روسته د ایمانلرونکو خلکو په کلیو کې د کافرانو نسل راپیدا شو. (۱۳۷) بیشکه الله تعالی مخکې له مخکې خلکو ته اساني پیدا کړې ده، خو د قراني لارښوونو له مخې د ستونزو د وخت څرګندول او ټاکل ګران دي.

د ستونزو پر مهال له صبر سره سره لمونځ ته هم باید ډیره پاملرنه وشي. د لمانځه پر هر توري تمرکز وشي، او له دې مسلې سره باید تړاو ورکړل شي.(۱۳۸) کله چې تنګ ستونزمن شي، او د ستونزو پیتی پر اوږو بار شي، بیا هم ډاډ درلوردل اړین دي. الله تعالی له دې ډول خلکو سره د ملګرتیا ژمنه کوي. (۱۳۹) په دنیا او اخرت کې له بیلابیلو قومونو سره تر انعامونو مخکې ستونزې ملګرې شوې دي. (۱٤۰) بیا هم ځینې قومونه له اسانۍ راتللو وروسته د الله تعالی پر ضد دریدلي دي.(۱٤۱)

## له صبر کونکي نر او ښځې سره ژمنه:

په قرانکریم کې له هر قهرکونکي نارینه او ښځې سره د الله تعالی لیکلې ضمانت شتون لري چې، که هغوی پر خپل قهر برلاسي شو، نو اجر به یې له نورو نیکي کونکو خلکو څخه ډیر وي.(۱٤۲) دا هم په

یاد ولرئ، چې الله تعالی په انډولیزه توګه د بدل اخستو اجازه هم کړې ده.(۱٤۳) خو ورسره ورسره دا هم وایي چې زغم یو لوی عظمت او نیکي ده، چې یواځې الله تعالی پرې ډیر ښه پوهیږي، چې انسان ته د عکس العمل لپاره پارونکي احساس د غلي کولو لپاره څومره صبر او زغم په کار دی. د همدې لپاره هغه له هر غصه او قهریدونکي نر او ښځې سره داسې ژمنه کړې ده چې که هغوی خپل قهر اړ غصه وزغمي، او له صبر څخه کار واخلي، نو په دې دنیا او له مرګ څخه وروسته ژوند کې به د ډیرو انعامونو وړ وګرځي.(۱٤٤)

که له زغم څخه له کار اخیستو سره سره تکلیف او درد رسونکی کس هم وبخښل شي، نو دا په خپله د الله تعالی کار او طریقه ده. او ډیره یې خوښه ده.(۱٤٥) ځکه چې په بخښنې سره د مسئولیت پیتی سپکیږي. دا له الله تعالی سره احسن لیکل کیږي، او بخښنه کونکي سره د ډیر اجر او ثواب ژمنه شوې ده. بخښل د الله تعالی د کړنې د پیروۍ سره سمون خوري، ځکه نو په قرانکریم کې دا کار یو له هغو کارونو څخه دی چې ډیر اجر پرې ورکول کیږي.

ډیری وخت خلک په داسې وخت کې هم غصه کیږي چې له جایزو بندیزونو سره مخ شي. د بیلګې په توګه، د ترافیک پولیسو له خوا درول کیدل، د قانوني مالیې ورکول، یا د کورجوړونې پر مهال د ښاري قوانینو له مخې ځینې بندیزونه راتلل. زمونږ پر شخصي ازادۍ دا ډول بندیزونه لږ درانه دي، خو په باوري توګه په کې ډیرې ښیګڼې هم



نغښتې دي. په داسې حالت کې ستاسو غلي پاتې کیدل او بیا خپل غوسه پر کورنۍ یا دفتر کې پر بل چا سړول سم کار نه دی. زمونږ په ورځني ژوند کې د دا ډول بندیزونو سره په مخامخ کیدو کې د زغم او صبر کول ګټور ثابتیږي.

دلته دا څرګندونه اړینه ده چې صبر په خپله پراخه مانا کې د نصیحت حیثیت هم لري، چې مونږ پر خپل اصولي دریځ ثابت ولاړ پاتې شو. ځکه چې د اصولي دریځ لپاره له ډیرو څیزونو څخه تیریدل اړین وي، خو خلک له دې دریځ څخه شاته ځغلي. نو ځکه صبر دا مانا هم لري چې که چیرې مونږ کوم تړون کړی وي، او په ښکاره په کې زمونږ تاوان وي، نو بیا هم باید دې تړون ته ژمن پاتې شو. د ژبنیو ژمنو او تړونونو هم هم دا حالت دی. هر تړون او ژمنه تاسو په دنیوي توګه سربیره پر ګټو له ځینو ستونزو سره مخ هم کوي. د ځینو څیزونو د لاسته راوړلو لپاره ځینې څیزونه له لاسه ورکول اړین وي. نو د صبر یوه مانا دا هم ده چې که مونږ له چا سره ژمنه کوو، باید په بشپړ نینیت او اهتمام سره یې سرته ورسوو.

## د میړه او میرمنې ترمنځ ژمنه:

د انسانانو ترمنځ تړونونو کې یو تر ټولو مهم تړون د میړه اومیرمنې ترمنځ د واده تړون دی. چې جزئیات یې الله تعالی نیغ په نیغه په ډیر تفصیل سره بیان کړي دي، او په قرانکریم کې یې پرې ډیرې خبرې اترې کړې دي.(۱٤٦) د نسل پداکولو پر جوازسربیره واده ډیرې

ټولنيزې ګټې لري. که دا ترون په غوره توګه پر مخ لاړ شي، نو پر اولاد او راروان نسل باندې ډېرې ښه اغيز غورځيږي. اوسنی روانشناسي او اروا پوهنه وايي چې که په اړيکو کې ستونزه پر راروان نسل منفي اغيز پريباسي. (۱۴۷) قرانکريم مونږ ته وړانديز کوي چې ميړه او ميرمن بايد په اړيکو کې د لوی زړه څښتنان وي، وفاراد، ريښتيني، صبرکونکي، پراخ لاسي او سخيان وي، روژه نيونکي وي، او له نامشروع اړيکو څخه بايد ځانونه وساتي. (۱۴۸)

الله تعالى غواړي چې کله دوو کسانو ترون وکړ نو بيا يې باد سرته ورسوي. که کومه ستونزه رامنځته شي، نو بايد له کورنۍ او خپلو خپلوانو څخه غوښتنه وشي چې د ستونزې د هوارولو هڅې وکړي. (۱۴۹)

د عقد دترون د له منځه وړل بد بلل شوي دي، ځکه چې د دې ترون په له منځه تللو سره ټولنيزې ستونزې ډېريږي. دغه شان ميړه او ميرمنې دواړو ته دا ويل شوي دي چې خپل خويونه او عادتونه سم کړي.

د سوچونو رنګارنګي، او بدلون د انسان فطري ځانګړنه ده. او ټول عمر خپل خيالونه او فکرونه بدلوي. نو ځکه کله چې دوه کسان نکاح کوي، او وروسته پوهيږي چې د فکرونو بدلون شتون لري، نو د خپلمنځي جوړجاړي لپاره بايد خپل فکرونه بدل کړي، يو بل ته تيريدنه وکړي. او ترون په خپل فطري ډول پر مخ بوځي. خو که بيا هم ترون د پر مخ بيولو وړ نه و، نو جلا کيدلی هم شي.



## د د نيوي پوهې لاسته راوړلو ژمنه:

الله تعالى ژمنه کوی چې هغه خلک به د خپل ذات او قدرت په اړه د حيرانتيا او خبرونې وخت او ډاډ ورکوی چې د پوهې لاسته راوړونکی دي. (۱۵۰) او د پوهې په هر ډګر کې چې سيالي کوي. کوم خلک چې د الله تعالى ويره لټوي، هغوی په حقيقت کې د پوهې لاسته راوړنې ژمنه کوي. له ويرې څخه موخه له ځان څخه د تيريدو حالت دی. چې انسان يې له پوهې لاسته راوړلو څخه وروسته مومي. پوها ن وايي چې يو کس تر هغې مهاله سم مومن کيدی نه شي، تر څو چې عالم، لوستی او پوه نه وي.ځکه چې قرانکريم خپل پيغام تر هغې چاته نه روښانه کوي، تر څو چې قاري يې د پوهې پلټونکی نه وي.(۱۵۱) بيا کومه پوهه چې لاسته راځي بايد وکارول شي، ځکه چې يواځې لوستل بسنه نه کوي، دا خبره د تعجب وړ نه ده چې رسول الله ص فرمايي( چې د پوه کس د مشوانۍ رنګ د شهيد له وينې څخه سپيڅلی دی.) کوم کس چې د پوهې په لټون له کورهه وځي، د جنت له پاسه ګرځي. (۱۵۲) په يوه بل روايت کې دي چې رسول الله ص وفرمايل چې د قرانکريم د يوه ايت په ژورتيا او پراختيا کې غور او فکر کول ستاسو لپاره له سل رکعته لمونځ کولو څخه غوره دي، او له کوره د پوهې لاسته راوړلو په نيت راوتل که عمل پرې وکړئ، او که نه له زر رکعته لمونځ څخه غوره دي.(۱۵۳)

د الهي کلام عملي څرګندونې د الله تعالى کار دی. پر دې غور په

کار دی، او ستاینه یې په کار ده. (۱۵٤) او پرې ځان پوهول په کار دي. د ژوندانه د پیدا کولو پر الهي ځواکونو چې هر څومره غور وشي، یا په کې څیړنه وشي، هماغه هومره ډیر انسان پر الهي کلام باوري کیږي.(۱۵۵) مونږ باید وګرځو او د الله تعالی په قدرتونو غور وکړو.(۱۵٦)

مونږ یو لیکوال یا هنرمند څنګه خوشاله کولی شو؟ داسې چې لیکنې یې ولولو یا یې هنر وګورو او خپله بنسټیزه رایه ورته څرګنده کړ. کله چې یو کس د کوم هنرمند د هنر ستاینه کوي، نو زړه یې د غوړه مالۍ پر ځای په دلیل او منطق ډیر خوشالیږي. الله تعالی د نړۍ ماهر جوړونکی او انځورګر دی. نو که منونکي یې په کړنو غور وکړي، او په ساینسي توګه یې ستاینه وکړي، نو رضا او پاملرنه لاسته راوړي. الله تعالی دا هم خوښوي چې که په کوم ځای کې د هغه ذکر او عبادت کیږي، نو باید یو مسلمان یې پر کړنو ساینسي، جغرافیایي او نورې بنسټیزې علمې څیړنې هم وکړي. خوند ترې واخلي، او له هغو رازونو څخه د پردې پورته کولو هڅه وکړي، چې له بلیک هول څخه نیولې تر ګاډ پارټیکل پورې یې پوښلي دي، د تخلیق ستاینه یې وکړي، او هغې مهارت ته شابسی ووایي چې یواځې او یواځې الله یې لري.

دا هم په یاد ساتل په کار دي چې په دنیوي پوهو کې سیالي کول په اوسمهال کې د غلبې او برلاسي کیدو یوه لاره چاره ده. په ۱۹٤۵ زیږدیز کال کې نړیوال قانون بدل شو. او په ټوله نړۍ کې دا خبره ومنل شوه چې هیڅ هیواد په زور سره په ولکه کیدلی نه شي. او لکه څنګه



چې محمد بن قاسم، عقبه بن نافع یا سکندر اعظم او چنګیز خان په زور ولکه نیولې وه، له ۱۹٤۵ کال څخه وروسته دا چاره شونې نه ده. نو ځکه اوسمهال د ولکې یواځینۍ لاره پر نړیوالو ترونونو ځان پوهول او ترې اقتصادي ګټه پورته کول دي. او دا چاره هغه وخت شونې کیږي چې مسلمان ځان پر پوهه سنبال او پرمختګ وکړي.د سټلایټ ترونونه، بحري او سمندري ترونونه، پر معدني زیرمو د کمپنیو پانګونه، دا ټولې چارې د پوهې په بیلابیلو څانګو کې له پرمختګ پرته ناشونې دي. اوسمهال مونږ ګورو چې چین په ۱۹۹۳ زیږدیز کال کې یو نړیوال ترون (ډبلیو ټي او) ولوست او خپلې ټولې اقتصادي پالیسۍ یې له همغې سره همغږې کړې، او دادی اوس چینایي توکي ټولې نړۍ ته له رسیدو څخه هیڅوک هم نه شي راګرځولی.

تر ټولو پورته مونږ باید پر دې غور وکړو چې رسول الله ص د یوه نړیوال قانون پوه په توګه د ترونونو پوهه ترلاسه کړې وه، او داسې ترونونه یې کړي وو، چې ګټه یې مسلمانانو ته رسیده.

## د دنیوي سیالۍ ژمنه:

د اخرت نصاب د هر مسلمان دنیوي کړنې دي. نو دا کړنې په سیالۍ او غوره توګه ترسره کول په کار دي. هر انسان په ځانګړې توګه مسلمان باید په د ژوند په ټولو برخو کې د برلاسي کیدو او وړاندې تللو هڅه وکړي. د دې بنسټیزلامل دا دی چې دنیوي غوراوی او فضیلت د دې خبرې لوی ثبوت دی چې انسان د الله تعالی غوره مخلوق

دی. مونږ هر یو پر ځمکه د الله تعالی نایب او ځایناستي یو. (۱۵۷) که یو کس د دې لپاره پې دنیا کې د خپلې کړنو د نظم او ضبط په موخه د سیالۍ او پرمختګ هیله لري، چې د الله تعالی دا دعوه لا ځواکمنه کړي چې انسان د الله تعالی اشرف مخلوق دی، نو باوري ده چې دې کس ته به ډېر زیات اجر ورکړل شي. ځکه چې په دې چارې سره د الله تعالی د دعوې درناوی ډېرېږي، او په دې ډول سره به سیالي او پرمختګ یوه ژمنه شي.

په ټولو دنیوي کړنو کې وړاندې والی اسان نه دی. او مونږ باید له پر ټولو اړخونو له غور او فکر کولو وروسته خپلې کړنې وټاکو. د ګڼ شمیر معیارونو له مخې رسول الله ص له شک پرته یو بریالی دنیا دار انسان و. د کاروباري لیډلوري له پلوه هغه د بریالیتوب نمونه وه. د سوداګریزو معیاري کړنو له کبله هغه خپلو ګاونډیانو د خوښې وړ سوداګریز ملګری کړ. د یوه جنګیالي، سیاستپوهه او مفکر په توګه د هغه دنیاوي غوره والي له هغه څخه وروسته د هغه د ملګرو په پرمختګ کې لویه ونډه درلوده. په قرانکریم کې چې د څومره انبیاؤ یادونه شوې ده، د خپل وخت ترټولو لوی او غوره مشران وو. ځیني خو یې پاچایان هم وو. او ټولو د سوداګرۍ په برخو کې د پرمختګ او سیالۍ درجې لاسته راوړط دي، او ځواکمن او واکمن انتظامي کردارونه یې ادا کړي دي. مونږ ته ویل شوي دي چې د رسول الله ص پیروي وکړو، او مونږ باید له اخرت سره سره د دنیوي غوره والي د لاسته راوړلو لپاره هم د



رسول الله ص پر پل پل کیدو.

په دنیوي چارو بوختیدو سره سره چې د اخرت لوري ته پاملرنې لپاره کوم انډول اړین دی، د مومن لپاره اسان نه دی. یوه لوري ته د هغوی غوره والی د دنیوي بریالیتوب لاسته راوړلو کې دی، بل پلو باید روحاني لیوالتیا هم ولري. سره له چې په بشپړ ډاډ سره د دنیوي چارو سرته رسول اړین دي، خو الله تعالی وایي چې څوک یواځې دا غوره کوي، او په شان او شوکت سره ژوند تیروي، (۱۵۸) د هغوی له ملګرتیا څخه ځانونه وژغورئ.(۱٦۰) قرانکریم مسلمانان د دنیا او اخرت دواړو د غوره توبونو لاسته راوړلو دعا ته هڅوي.(۱٦۱) او لامل یې دادی چې هغه مومن خپل خلیفه بولي. له دوه ګونو مسئولیتونو سره ژوند کول، او د غوره کړنو څرګندونو لپاره پرمختلل فضیلت او غوره والی دی.

یوه مقوله ده چې وایي بحري بیړۍ په خپل بندر کې په امن ده، خو بیړۍ د دې کار لپاره نه جوړېږي. په پراخ سمندر کې سفر، د روانو اوبو د څپو مقابله، له څپو او توپانونو سره تلل، د پوهې او انسانانو نوې نړۍ موندل د هغې د جوړولو موخه ده. دغه شان یو مسلمان په نړۍ له کوم کار کولو او لاس پښو وهلو پرته هم ژوندی پاتې کیږي، خو ایا د هغه د ارشف کیدو، نایب او ځایناستي یدو موخه همدا ده؟ الله تعالی غواړي چې د هغه ترټولو هوښیار مخلوق په نړۍ کې پرمختګ وکړي. کومه ځانګه خپله کړي، یو څه پوهه ترلاسه کړي، او په دنیوي ننګونو کې د ځان لپاره کومه لاره چاره پیدا کړي، له ستونزو سره مخ شي، او په

میرانه ورسره وجنګیږي. یانې له مسلمان څخه سیالي، لوړوالی، انتظامي برلاسی، په کاروبار کې بریالیتوب او پرمختګ له مسلمان څخه غوښتل کیدونکي دي. که مسلمان دا ټول کارونه د دې لپاره کوي چې د الله تعالی د تر ټولو غوره مخلوق په حیث خپله دنده اداکړي، نو ځان د الله تعالی د نعمتونو وړ او حقدار وګرځوي.

## له کاروباري وګړو سره ژمنه:

پورته مو وویل چې انسانان د فرد په توګه د سیالۍ او خپل شخصیت د پرمخ بیولو مسئولیت لري، په ځانګړې توګه مسلمانان. اوس مونږ پر داسې قراني تړونونو خبرې اترې کوو چې هغو مسلمانانو ته مسئولیت سپاري چې له بل لوري سره که مسلمان وي، او که نه، کاروبار کوي. د قرانکریم له مخې که کاروباري وګړي د الله تعالی له لوري ټاکل شوي تړونونه سرته رسوي، نو ګټه به وکړي. او په ټولیزه توګه به د ګروپ یا کمیو نټۍ په ټولیزو چارو کې ښه والی راشي. سره له دې چې دا په ځانګړې توګه د مسلمانانو لپاره دي، خو غیر مساما‌ن یې هم د (منصفانه معیار) په توګه خپلولی شي. او د سوداګرۍ لپاره یې د یوې اخلاقي قاعدې په توګه کاورلی شي.

قرانکریم تر ټولو وړاندې له مسلمانانو څخه غوښتنه کوي چې د خوشالۍ لټون وکړي. یانې د فضل (رزق) د لټون حکم ورته کوي.(١٦٢) د دې مانا د اقتصادي مواقعو لټون، نوي خیالونه او مصنوعات دودول، د ارزښتمنو او ګران بیه توکو د ورلو راوړلو لپاره د



سمندر کارول، اړین بلل دي. سربیره پر دې قرانکریم وایي( د هغې ژمنې درناوی وکړئ چې کوئ یې)(١٦٣) په دې کې د دود سوداګرۍ ټول تړونه او ژمنې راځي، که په لیکلې ډول وي، او که شفاهي، یا رسمي وي او که غیر رسمي. ( چې د ایمیل او واټس اپ له لارې ترسره کیږي). قرانکریم دا لارښوونه هم کوي چې مومن باید پر کاروباري معیارونو عمل وکړي. او د صنعت دودیزو لارو چارو ته پاملرنه وکړي.(١٦٤) نو له هر مسلمان سوداګر سره د الله تعالی ژمنه نیغ په نیغه ده. چې خپله سوداګري به د سوداګرۍ د دودیزو معیارونو او سټنډرډ سره سمه پر مخ بوځي. یانې که هغه یو قرارداي وي، نو وداني به د هغې معیارونو له مخې ودانوي چې د هیواد د انجینیرۍ ادارې ورته ټاکلي دي. دغه شان که هغه د خوراکې توکو لکه غوړي، اوړو،مسالو یا نورو توکو د جوړولو او کڅوړه کولو کارخانه جوړوي، نو په هیواد کې د کوالټۍ سټنډرډ ادارې له ټاکلو معیارونو سره سم به دا توکي جوړوي او کڅوړه کوي. که مسلمان کاروباری وګړی روغتون لري، نو د چوپړ لپاره به په کې هغه ډاکټران او نرسان ګوماري، چې په هیواد کې د طبي معیاري ادارو له خوا روزل شوي وي، او لایسنس شوي وي. که کوم مسلمان د خوراک لپاره هوټل او رسټورانټ جوړوي، نو له هغه سره الله تعالی نیغ په نیغه ژمنه کوي، چې د خوړو د چارو او روغتیایي چارو د مسئلینو له خوا جوړ شویو قوانینو سره سم به خپل کاروبار کوي. همدغه شان که کوم مسلمان د ټوکر جوړول کارخانه لري، نو که له کوم کس څخه د ټوکر

جوړولو فرمایش اخلي، ټوکر به ورته له معیار سره سم جوړوي.

خلک ډېری وخت په مینه کې الله تعالی د خپل کاروبار ونډه وال ګڼي، اواراده کوي چې د خپلې ګټې یو څه برخه به د الله تعالی په لاره کې لګوي، نیت بیل څیز دی، خو یاد ولرۍ چې الله تعالی د هرې چارې ګډون وال دی. او په هره دنیوي ژمنه کې یو لوری دی. او که چیرې مونږ د هغه دریم ګړتوب ته پام وکړو او خپلې ژمنې پوره کړو نو نه یواځې دا چې د هغه ګډون به مو ترلاسه کړی وي، بلکې بشپړه مرسته، رضا او تائید لاسته راوړل یې باوري دي.

هر کاروباري کس د بل د مرستې تاکید ته اړ دی. د یوه ځوان کاروباري د کاروبار د پیل لپاره د پانګونې مالي ملاتړ مهم دی. د یوې هوډمنې کونډې یا مستحق ځوان کس لپاره یوه کاروبارته هڅونه اړینه ده.(۱۶۵) قرانکریم هغه کس هڅوي چې پر کومه نوې پروژه یا مفکوره باندې کار کوي، یا د کاروبار هڅه کوي. او الله تعالی یې د دې هڅو اجر ورکوي. کوم کس چې په ټولنیزو چارو او د دنیوي پرمختګ د کوم تدبیر لپاره زیار ګالي، هغه د الله تعالی دوست دی.(۱۶۶)

## د رسول د پیروۍ ژمنه:

قران کریم له مسلمانانو څخه ژمنه اخلي چې د محمد ص او قران پیروي وکړي، نو په بدل کې بهه ورته اجر ورکول کیږي. او بریالي به ګرځي.(۱۶۷) د دې حکم نه منل د قراني تړون د یوې مهمې مادې تر پښو لاندې کولو سره برابر دي.



قرانکریم یواځې پر محمد ص نازل شوی نه دی، بلکې هغوی ص په خپل مبارک ژوند کې پلی کړی هم دی. او د الهي کلام ژوندی مفسر و. د ایماندرلودونکي له لوري ټول ابنیاء په بشپړه توګه د درناوي وړ دي. هر نبي له بل څخه د غوراوي بیلې ځانګړنې درلودې. او قرانکریم خلکو ته د محمد ص د پیروۍ حکم کوي، او دا خبره یې بیا بیا کړې ده.(۱۶۸) الله تعالی ته د خپل پیغمبر ارزښت دومره ډیر وو، چې خلکو ته یې د هغه د مخالفت په اړه ګوتڅنډنه کړې ده. (۱۶۹) د محمد ص یو څو ځانګړنې په لاندې ډول دي:

هغوی ص یې وروستی نبي ګرځولی دی، او د نبوت لړۍ یې پرې بشپړه کړې ده. یو جامع پیغام یې ورکړی دی چې تفصیلات یې په ساینسي ډول، د موخې په توګه، اړوند تاریخي پیښو، د اوسمهال د غوښتنو او قیامت د ورځې په انځورونه کې څرګند او ښکاره دي.

د رسول الله ص راوړی او وړاندې کړی قران اوسمهال تر ټولو ډیر خپریدونکی پیغام دی. د هغه پیغام پر نړیوال تاریخ او اوسمهال پر پیښو ژور اغیز کړی دی. تر ټولو ستر پیغام دا دی چې الله تعالی پخپله اعلان کوي چې محمد ص یې له یوې نړۍ سربیره ډیرو ته د رحمت په بڼه رالیږلی دی.(۱۷۰) د هیڅ پخواني نبي پر اړه یې دا ډول اعلان نه دی کړی.

هغوی ص په نوې مانا سره یو حکومت جوړ کړ، او د قرانکریم د پلي کولو لپاره یې یوه ټولنیزه او انتظامي اډانه جوړه کړه. دا حکومت د جمهوري اصولو له مخې ستایل کیږي. هغوی ص د ژوند د ایین

جوړونکي درجه لاسته راوړې ده. (۱۷۱) قرانکریم مسلمانانو ته وایي چې د نبي کریم ص پیروي وکړي.(۱۷۲) کوم کارونه چې هغه کړي، او څه یې چې ویلي دي، هغې ته د قراني اسوه حسنې په سترګه کتل کیږي.(۱۷۳)

الله تعالی ورسره ژمنه کړې ده چې نوم به یې لوړ ساتي.(۱۷٤) یواځې د خپلو پیروانو په نظر نه بلکې د مؤرخینو او فلسفیانو په نظر هم هغه د لوی شخصیت درلودونکی دی. د رسول الله ص نوم د عبادت په بڼه او همداسې هم تر ټولو نورو نومو ډیر کارول کیږي.

محمد ص ته د ( رحمة اللعلمین)(۱۷۵) په ژوند کې د امن، سکون او کرار راوستونکي کس لقب او عزت ورکول شوی دی. دا یو غیرمعملي لقب دی، ځکه چې دا د پیغمبر پراخه او هر اړخیز کار ته اشاره ده. الله تعالی پرښتې پر دې ګومارلې دي، چې پر محمد ص درود او سلام وایي.(۱۷٦) الله تعالی په څرګنده توګه وایي چې هغه پر محمد ص سلام وایي.او مساملنانو ته هم د همدې کار لارښوونه کوي، چې کهھرچیرته وي، پر محمد ص دې درود او سلام وایي.(۱۷۷) دا سلام یواځې د رسول الله ص د ذات لپاره نه دی،(۱۷۸) بلکې د هغه د پیروانو لپاره هم دی. رسول الله ص چې څه فرمایلي دي، هغه د امام بخاري، امام مالک، امام حنبل او امام شافعي رح په څېر سترو عالمانو راټول کړي دي. پر حدیث او سنت د هغوی خپاره شوي کتابونه د رسول الله ص د ژوند او کارونو معتبر او د باور وړ لاسوندونه دي.



## له الله تعالی سره خالصې ژمنې:

د تړون یو ډول له الله تعالی سره نیغ په نیغه ذاتي تړونونه دي. چې په کې په عمومي ډول د کومې صدقې، یا د ځانګړي عبادت، یا د کوم بل نیک عمل ژمنه وي. د بیلګې په توګه زده کونکي له ځان سره په چوپتیا کې ژمنه کوي، چې که په امتحانونو کې بریالي شي، نو نوافل به ادا کوي. نو کله چې په ازموینو کې بریالیشي، د نوافلو اداکولو مسئولیت پرې لازمیږي. او ادا کول یې اړین ګرځي. دغه شان دا تړون چې که یو کس وایي چې که دنده مې ومونده نو د لومړۍ تنخوا پنځوس یا لس سلنه به کوم بې وزلي خپلوان ته ورکوي. دا د صدقې لپاره یوتړون دی، چې ترسره کول یې اړین دي. له الله تعالی سره د خالص تړون لپاره هیڅ ممانعت نه شته. د بیلګې په توګه ځیني خلک د کعبې د زیارت د موکې لاسته راوړلو پر مهال له الله تعالی سره خالصې ژمنې تر سره کوي.( ۱۷۹) دا له خالق سره د ذاتي تړون یو ډول دی چې خپل ځاني شرطونه لري.(۱۸۰)

## د اعمالو د ثبت او ریکارډولو ژمنه:

قران ژمنه کوي چې د ښو او بدو کړنو لیک لړ به چمتو کیږي. د هر چا د ټول ژوند د اعمالو او افعالو ان د سوچ او فکر ډیټا او ثبت به راټولیږي. د دې ریکارډ د ترتیبولو اطلاع ته ځکه د ژمنې په سترګه کتل اړین دي، چې د قیامت پر ورځ د خلکو پر حالاتو د هغوی عملونه

نیغ په نیغه اغیز لري. که کوم مسلمان نیک کارونه کوي، نو د د اعامونو د ژمنې له مخې به اجر ورکول کیږي. برعکس که یو څوک داسې کار کوي چې قران غیر قانوني اعلان کړی وي، یا یې په سختۍ سره غندنه کوي، نو دا کړنې به په منفي لست کې شاملیږي، او بدله به ترې اخستل کیږي.

ټولې کړنې په سمه توګه ریکاډیږي، ځکه چې الله تعالی فرمایلي چې د د هغه له ریکارډ څخه د کوم کار، فکر یا نیت له مځه تلل ناشوني شوي دي.(۱۸۱) د هر چا د ژوند د مثبتو او منفي کارونو سوچ او نیت د ریکارډولو لپاره یوه کړنلاره وضع شوې ده. د ښو او بدو کړنو د ریکارډ اهتمام دومره سخت دی، چې زمونږ کارونو ته د پاملرنې په موخه پرښتې ګومارل شوي دي. (۱۸۲) پر هر حال پر ځمکه د کیدونکو ټولو چارو حساب کتاب به کیږي. که یو کس د الله تعالی په لاره کې لږ یا ډیرلګښت کوي نو عمل به یې ثبتیږي. د مدینې د اوسیدنوکو د یادونې په حالت کې الله تعالی په قران کې وایي: چې د هغوی ټولې هڅې او کړنې، چې ستړیا، لوږه، او نورې نیکۍ په کې راځي، ریکارډ کیږي.۱۸۳)

په قرانکریم کې چې د اعمالو د ثبت او ریکارډ په هکله څومره ایتونه راغلي دي، که د اوسمهال له نظره ورته وکتل شي، نو د (فارنزک رپورټ) یانې طبي قانوني راپور په توګه به وي. یانې هره ماده او څیز لکه ډبره، ونه، ودانۍ، دیوال، موټر او بل هر څیز تل یو فارنزک



ریکارډ ترتیبوي. سربیره پر دې پرښتې خپل ریکارډ جوړوي. او کله چې دا ټول د ثبوت او شهادت په توګه وړاندې کیږي، نو هره کړن، پیښه، او خیال او نیت به لکه د لمر روښانه کیږي، او هیڅوک به ترې انکار نه شي کولی.

## له کافرو او غیر مسلمو سره د الله تعالی ژمنه:

قرانکریم څرګندونه کوي چې پیغام یې په خپل ذات کې د یو اړخیز تړون یا (سټنډرډ ټیرم کانټرکټ) په څیر دی. د رایې ښنتن یې په خپله خوښه منې، او له الله تعالی په یوه تفصیلي تړون کې تړل کیږي او ټول ژوند په کې تیروي. دغه شان قران کریم مسلمانانو ته د الله تعالی پر یووالي او ټولو نبیانو د ایمان راوړلو بلنه ورکوي.(۱۸٤)

خو که وړاندیز ونه منل شي، نو پوښتنه پیدا کیږي چې له غیر مسلمو سره څنګه تړون کیدلی شي. ځکه چې د تړون د کاري چوکاټ د وضع کولو لپاره د وړاندیز منل اړین دي. که وړاندیز ونه منل شي، نو مسلمانانولپاره یې پایلې خطرناکې دي، چې نیغ په نیغه د وړاندیز له انکار سره تړلې دي. د دې لیدلوري له مخې د الله او د هغه د نه منونکي ترمنځ یوه دښمنانه اړیکه څرګندیږي. چې ویرونکې ژمنې او پایلې لري.(۱۸۵)

د دې پایلو او اغیزو څرګندونه او باوري توب په څرګنده توګه په قرانکریم کې بیان شوی دي. د دې پایلو د عذاب راتللو باور(۱۸٦)

د دې دښمنانه تړون غوندې قانوني حیثیت لاسته راوړي. د اوسمهال په قوانینو کې هم مونږ وینو چې مخالفو اړیکو ته هم یو ډول قانوني بڼه ورکول کیږي. د بیلګې په توګه د نوې مهال د قانون له مخې چې څوک د یو چا ښکاره دښمن یا جنګیالی وي، نو داسې معامله ورسره کیږي چې د جنګ د اړیکې کره وړه ورته ویل کیږي.(۱۸۷)

د کافرانو لپاره د قرانکریم ځینې برخې او ایتونه بیخي داسې دي، چې د اوسمهال د قانوني یادښتونو سره پرتله کیدلیشي. قرانکریم هغوی ت وایي چې خپل لاره سمه کړي، او قرانکریم ته مخه کړي، او د دې کار لپاره ورسره ترمرګه محدود وخت شته دی.او که داسې ونه کړي نو د قیامت پر ورځ به له سختې سزا سره مخ شي.

له دې وروسته د قرانکریم په ګڼ شمیر ایتونو کې د سزاګانو بشپړه څرګندونه شوې ده. تر څو څوک د بشپړې خبرتیا له نه شتون څخه شکایت ونه کړي.د غیر مسلمو لپاره د سزاګانو انځورونه د ویرې پیدا کولو په موخه شوې ده.(۱۸۸) نبي ص ته هم دا حکم شوی و، چې د ویرې پیدا کولو په موخه د عذابونو یادونه وکړي. تر غیر مسلم وویریږي، ځکه چې دا انساني فطرت دی، او خپله رایه د فرانکریم په حق کې وکاروي. او د شیطان وسوسې له منځه یوسي، تر څو غیر مسلم د قرانکریم د حقیقو په رڼا کې خپله لاره څرګنده کړي.

دا کره شوې ده چې الله تعالی د ویرولو واک د رسول الله ص او قران کریم په مرسته کارولی دی. خو مونږ یاني مسلمانانو ته یې دا واک



نه دی راکړی چې غیر مسلم خلک وویروو. یا که واک او ځواک ترلاسه کړو نو هغوی په زور مسلمانان کړو. د دې لیدلوري له مخې ویل شوي دي چې په دین کې زور او جبر نه شته دی. (۱۸۹)

له ابلیس سره د الله تعالی د تړون له مخې هغه د هڅونې موکه ورکول شوې ده. خو ورسره ورسره الله تعالی هر غیر مسلم ته خپل پیغام هم په مخکې ایښی دی. او موخه یې دا ده چې کافر په خپله خوښه خپل دین پریږدي او مسلمان شي.نو ځکه کافر ته خپل پیغام په داسې بڼه وړاندې کوي، چې د مناسبو دلیلونو په رڼا کې د نبیانو پر شاهدۍ غور وکړي. دغه راز هر کافرته د قرانکریم د پیغام د جاج اخیستولوستلو او په کې د غور کولو لپاره ټول ژوند انتظار کیږي. دا هم څرګنده ده چې قرانکریم یهودو او نصاری هم مخاطب کوي، او د هغوی د شبهو او شکونو د ځواب ویلو هڅه هم کوي. عیسایانو ته دا هم وایي چې الله تعالی هیڅکله عیسی ع ته نه دي ویلي چې ځان خلکو ته د الله د ځوی په توګه وروپیژني.(۱۹۰)

الله تعالی د قرانکریم د لیکل نوټس( قانوني یادښتون) درلودونکو برخو کې فرمایي: چې د انساني نسل هیڅ ډله یې تر هغې پورې په عذاب نه ده اخته کړې ترڅو چې یې د رسولانو په مرسته خبر کړي نه دي. یانې د الله تعالی پیغمبر په اصل کې د دې لپاره رالیږل کیږي چې د هغه د تړون د پیغام، وړاندیز او حکم تعمیل ته خلک وهڅوي، چې د اوسمهال قانوني اصطلاح له مخې د (سمن) درجه لري.

قادر مطلق ذات بیا بیا داسې خبرداری ورکوي. په حقیقت کې هغه هاغه موخې بشپړوي چې په نوې زمانه کې ورته د قانونې لازې چارې په سترګه کتلی شو.تر څو څوک دا شکایت ونه کړي چې مخکې له مخکې خبر شوی نه و.

### له منافقانو سره د الله تعالی ژمنه:

له هر هغه منافق سره هم الله تعالی ژمنه شته چې په ښکاره سره د ایمان راوړلو څرګندونه کوي، خو په حقیقت کې یې ایمان نه دی راوړی. الله تعالی فرمایي چې داسې منافق کس ته به سخته سزا ورکوي.(۱۹۱) په دې کې ژمنې ته پر ژمن توب ټینګار شوی دی، او که چیرې یو کس د مسلمانیدو دعوه کوي، نو باید چې پر زړه او ژبه دواړو د ایمان رینبتینولي وکړي. او د زړه له کومې ټول احکام ومني. خوبیا هم د ریا کار مسلمان له دوه ګوني لوبې څخه الله تعالی خبر دی.(۱۹۲) که وکتل شي ښایي د پوهاوي ر وي چې یو کافر دوکه کونکی له منافق څخه ښه دی، ځکه چې کافر پر خپلو خبرو عمل کوي، او هغه څه ترسره کوي چې وایي یې. بل لوري ته ریا کار منافق پرله پسې دوکه کوي، نو دوه ګونی ګناهګار ورته ویل کیږي

❋ …… ❋ …… ❋ …… ❋



## دریم باب:

## ټولنیز تړونونه

د قرانکریم ځینې احکام له ټولنیز پلوه داسې دي چې په قانوني توګه ورته د ټولنیزو تړونونو په سترګه کتلی شو. اوس مونږ د دې تړونونو پر اړه خبرې کوو، او د هغې د قانوني خدوخال څرګندونه کوو. دا تړونونه نیغ په نیغه پر ټولنه اغیز شیندي. دا ټلنیز تړونونه له هغې شخصي تړونونو سره توپیر لري چې مخکې پرې وکړېدو. ټولنیز تړونونه د یوې ډلې یا ډیرو وګړو ترمنځ د مسئولیت سربیره د ټولنې پر پرمختګ او همغږۍ لوی اغیز شیندي.

### د شریعت تړون:

الله تعالی له مسلمانانو سره د اړیکې یو ځانګړې قانوني تړاو جوړوي. چې د قانون جوړونکي او د دې قانون د منونکو تر منځ د یوه تړون په توګه رامنځته کیږي.مونږ ټول د دې تړون پیروي کوو. په دې کې هیڅ شک په کار نه دی چې قران الهي حکم دی، او مونږ ټول د الهي قانونو پیرو یو. نو ځکه مونږ قران ته د یوه حاکم د حکم په سترګه هم ګورو. چې رعیت اړ دی چې دا حکم په خپل شخصي او عام ژوند کې پلی کړي. په پراخه مانا ځینې علماء قرانکریم ټول د قانون یا شریعت په مانا اخلي. دا دریځ هم ناسم نه دی، خو شریعت محدودې ماناګانې هم لري.

دا څرګندونه هم اړینه ده چې رسول الله ص پخپله هم قانون پوه و. او هم د قانون سرچینه. هغه د خپل مهال د کلیوال قانون قانون پوه و، سربېره پردې د د هغهې مهال په قبایلي بین الاقوامي قانون چې د شاوخوا عربي قبیلو چارې به یې څېړلې، او د قیامت پر ورځ چې په ځینو قوانینو اطلاق کیږي، هم پوهیده. رسول الله ص چې په خپلمهال کې کوم قوانین او ضوابط وړاندې کړي و، د هغې په راټولولو اختلاف کیدی شي. خو د هغه بنسټیز حیثیت داسې دی چې، تر کومه ځایه چې د الله د رسول په توګه هغه د قانون رسونکی و، تر هماغې ځایه په خپل ذات کې قانون جوړونکی هم و.

لکه مخکې مو چې وویل شریعت په محدوده مانا کې د سزاګانو په ګډون د عدالت د انتظام لپاره د یوه رسمي نظام په توګه تر سترګو کیږي. هغه ایتونه چې د رسمي قانوني احکامو ځانګړتیاوې لري، د شمیر پر اړه یې د علماؤ ترمنځ اختلاف شته دی. (۱۹۳) که د ایتونو د شمیر پر اړه بحث یوه لوري ته کړو، نو دا یو حقیقت دی چې په شریعت کې سزاګانې په ډیرو لږو ایتونو کې یادې شوې دي. ډیری ایتونه هغه عمومي چارې او لارښوونې بیانوي. چې کومه دنیوي سزا وزته نه ده ټاکل شوې، یواځې یو څو ځانګړي ایتونه د سزاګانو خبرې کوي.

داهم یوه غالبه او برلاسې نظریه ده چې، که یو ځل چاته په دنیا کې سزا ورکول شوه، نو په اخرت کې نوره سزا نه ورکول کیږي.(۱۹٤) د شریعت د پلې کولو لاره چاره تل روښانه موضوع پاتې شوې ده. دا خبره



هم تر بحث لاندې ده چې سزا هغه مهال ورکول کیږي چې حکومت اسلامي وي. دا بحث او لړۍ په پرله پسې توګه روانه ده.

مونږ د شریعت قانون د یوې ژمنې په توګه ولې پیژنو. او د دې ترون په تحقیق کې یې د یوې ژمنې په توګه ولې ورګډوو؟ د دې یو لامل دا دی چې کله یو مسلمان د یوه حکم پیروي چې هغه یې شرعي بولي، د دې لپاره کوي چې د الله تعالی رضا لاس ته راوړي. یا ثواب ترلاسه کړي، نو دې نیت ته کانسیډریشن یا پاملرنه وایي. او د الله د حکم سربېره دا چاره له الله تعالی سره د یوه اضافي تړون بڼه هم غوره کوي. د بیلګې په توګه که یوو مسلمان په کوم اوروپايي هیواد یا امریکا کې شراب څښل پر ځان حراموي، نو ګواکې د هغه په تصور کې نیغ په نیغه له الله تعالی سره یوه شرعي ژمنه او بدل کې یې د ثواب هیله په څرګنده توګه لیدل کیږي. په دې ډول سره به د حکم پیروي د ثواب د تړون بڼه هم غوره کړي.

## د دولت او ملکي کس ترمنځ ژمنه:

مونږ پر یوه سیاره اوسیږو. او د یوې ځانګړې مودې لپاره ژوند راکړل شوی دی. دا سیاره په ښکاره توګه او اعلان شوې توګه د الله تعالی هیواد یا شتمني ده.(۱۹۵) او مونږ د دې هیواد اوسیدونکي یو. له دې څخه یو بل قانوني تړاو رامنځته کیږي. یانې د یوه حکومت او ښاري اوسیدونکي اړیکه. مونږ په دې حقیقت پوهیږو چې د الله تعالی په

حومت کې د اوسیدونکي په توګه مونږ ته ټولې اړتیاوې، د سراومال ساتنه، د پرمختګ مساوي موکو په څیر اسانتیاوې راکول شوي دي. د دې په بدل کې له مونږ څخه د وفادارۍ غوښتنه کیږي. یانې مونږ به د حکومت د ګټو او موخو پر ضد کار نه کوو. او قران کریم به پر ټوله ځمکه د الله تعالی د پلي شوي حکومت د قانون په توګه منو.دا کومه غیر معقوله غوښتنه نه ده. ځکه چې د اوسمهال د حکومتونو ټولې قانوني اډانې د دې ډول وفادارۍ غوښتنه کوي. لږ وډیر په ورته بڼهحکومت ته وفاداري د آیني او ټولیز مسئولیت په توګه پلی کیږي. او په بدل کې یې د وسائیو رامنځته کول، ښاري اسانتیاوې او حقوق ورکول کیږي. د اوسمهال د قانون یا مرکزي او حکومتي قانون مادې د ورته خدو خال درلودونکې وي. د بیلګې په توګه (۱۹۶) د امریکا او هندوستان قانون،(۱۹۷) او ورسره د پاکستان قانون(۱۹۸) کې دا ډول مادې ترسترګو کیږي، چې له مخې وګړی د قانون وفادارۍ او پیروۍ ته اړ دی. دا یو بنسټیز ټولنیز ترون دی. چې ښاري وګړی په کې له حکومت سره شریک دی. ان تر دې پورې چې کوم خلک د دې حکومت تر ولکې لاندې نه دي، یا د بل هیواد اوسیدونکي خو دې هیواد ته راځي، پر هغوی هم دا ډول کړنې پلې کیږي، او د حکومت د قوانینو تعمیل باید وکړي.

هیواد یا حکومت د الله تعالی ملکیت دی. هغه د خپل حکومت پاچا دی، دا اعلان په قرانکریم کې شتون لري. پاچا چې کوم لیکلي



احکام( قران) وضع کوي، پر ځای کول یې قانوني دنده او فرض دی. د کایناتو څښتن یواځې الله تعالی دی، بل هیڅوک نه دی. همدا لامل دی چې په کیناتو کې هر څیز په ډیر احتیاط او ریاضیکي اصولو خپل کار پر مخ بیایي.

په یوناني افسانو کې مونږ د ډیرو خدایانو د شتون له کبله ستونزې، د خدای ګوټو تر منځ جګړې، او د خیالي کایناتو له بې ترتیبۍ څخه رامنځته کیدونکی کړکیچ لیدلی شو. (۱۹۹) خو قران الله تعالی یواځینی ریښتینی پاچا او خدای بولي. (۲۰۰) دغه راز مونږ د خپل رب ، الله تعالی رعیت یو. او دا تصور زمونږد پاچا او د هغه د هیواد د اوسیدونکو په توګه زمونږ ترمنځ د پیروۍ یو بل تړون رامنځته کوي.

## د امانت لرونکي ژمنه:

د پراخ لرلید له مخې قرانکریم له مسلمان سره د امانت قانوني تړاو له بل لیدلوري څخه څیړي.(۲۰۱) الله تعالی د ځمکې کره مونږ ته امانت راکړې ده. د ځمکنیو وسائلو د منظمې کاروني لپاره هغه پر مونږ باور کړی دی. او مونږ ترې نیغ په نیغه ګټه اخلو. مونږ هوا تنفس کوو، پر ځمکه ګرځو، هغه توکي ترې راوباسو، چې زمونږ صنعت پیاوړی کوي، پر څارویو سپریږو، غوښې یې خورو، او له څرمنې څخه یې کار اخلو.

یو مشهور لاتیني قانوني متل دی چې وایي( کوم کس چې د کوم

ځیز څخه ګټه پورته کوي، نو مسئولیت به یې هم پر غاړه اخلي.) ۲۰۲ دا متل له مونږ سره په دې پوهاوي کې مرسته کوي چې که مونږ د انساني نسل په توګه د خپلي سیارې له توکو څخه ګټه پورته کوو، نو دا زمونږ مسئولیت دی چې ساتنه یې هم وکړو. دې وسائلو ته مونږ (ګلوبل کامنز) وایو. (۲۰۳) یانې ځینې ځیزونه د عامو انسانانو د ګټې اخستنې لپاره دي، او هر هیواد مکلف دی چې د ځمکې هغه وسائل خوندي کړي، چې د هغوی تر ولکې لاندي دي. ځکه چې په دې کې ناکامي به نور ټول اغیزمن کړي. پر همدې اړه په ملګرو ملتونو کې د میزان په نوم یو پروګرام پیل شوی دی. چې موخه یې د قران له مخې انسان ته د یوه امانت لرونکي کس په بڼه د فرائضو او مسئولیتونو څرګندونه ده.

امانت یا ټرسټ ته په عربي ژبه کې (امانه) ویل کیږي. په قران کریم کې پر دې اړه ډیرې لارښووني شته چې د ژمني ساتنه په کار ده، او که کوم توکي له چا سره امانت کیښودل شي، د غوښتنې پر وخت باید ورکړل شي. په قرانکریم کې د یادو شویو مسئولیتونو له ډلې یو دا دی چې له چا سره د امانت په توګه ایښودل شوي توکي باید په هماغه بڼه وروسپارل شي، څنګه چې هغوی ایښي وو.(۲۰٤)

د امانت لرونکې ژمنه مونږ ته دا هم څرګندوي چې، که یو څوک پر کومه څوکۍ یا منصب ناست وي، نو دا هم په حقیقت کې د خپل منصب او څوکۍ امانت لرونکی دی. ځکه چې هره څوکۍ او منصب په حقیقت کې یو امانت دی. او په عمومي توګه د هرې



حکومتي دندي د لوړې پر مهال د امانت لرونکي ټکي کارول کیږي.د دې مانا دا شوه چې پر هر حکومتي منصب او دنده لرونکي کس لکه کاتب، مرستیال سکرتر، سکرتر، رییس او نورو باندې لازم دي چې خپل واکونه له الله تعالی سره د کړې ژمنې له مخې د یوه امانت لرونکي کس په توګه وکاروي.

د الله تعالی او مسلمانانو ترمنځ د امانت درلودل (ټرسټ) یو نه بلکې ډیر ډولونه لري. او هر ډول یې پر خپل ځای یو تړون او ژمنه ده. د بیلګې په توګه دا چې هیڅوک به د امانت دارۍ ضد چاره نه ترسره کوي. دا یو داسې ځانګړی تصور دی چې د بې شمیره قانوني تړاوونو د بیانولو لپاره کارول کیږي. په رسمي مانا کې د (ټرسټ) کلیمه یا اصطلاح د هغه ځانګړي قانوني توکي لپاره کارول کیږي، (۲۰۵) چې په لیکلې بڼه پیدا کیږي. دې ته اسلامي فقهاؤ وقف ویلی دی، د بیلګې په توګه: وقف علی الاولاد(۲۰٦)

## د ټولنیز ژوند تړون:

تر کومه ځایه چې قرانکریم له هر کس سره نیغ په نیغه د الله تعالی تړون دی، په هماغه کچه د هر ډول ټولنیز نظم ایین هم دی.

دا د ټولنیز ژوند تیرولو یو لاسوند دی. او په ټولیزه توګه د اوسیدو د عمراني تړون په توګه کار کوي. او موخه یې د ټولو ډلو لپاره د یوه سټنډرډ آیین، یوه ټولنیز منشور او ټولیز قانون یا دین په توګه کار

تړون شوی دی، نو په دې ډول چې هر مسلمان د الله تعالی د رضا او انعام لاسته راوړلو په موخه دا ګامونه پورته کوي، نو ټوله ټولنه به د نیکۍ په کولو او سمو ګامونو په پورته کولو سمیږي.

په عمومي توګه سیاسي نظام له بره تپل کیږي. خو قرانکریم له هر مسلمان سره تړون کوي، او په انفرادي او ځانله توګه د ټولنې د بریالیتوب کاري چوکاټ جوړوي. چې ورو ورو په خپله پاس اوچتیږي، او لوړې سطحې ته رسیږي. او په دې ډول د ژوند یو ټولنیز نظام راپورته کیږي، چې قران کریم ورته دین ویلی دی.

## د دودیزو قوانینو د برلاسۍ ژمنه( اولوالامر ):

کله چې قرانکریم دا لارښوونه کوي چې ایمان لرونکي باید د هغې خلکو پیروي وکړي چې واک یې په لاسونو کې دی. ( یا هغه څوک چې د اولوالامر درجه لري) نو دا حکم د یوه حکومت د ولکې لاندې اوسیدونکي ملکي کس او چارواکو ترمنځ یو تړون رامنځته کوي. الله تعالی غوښتنه کوي چې،۱: د الله تعالی،۲: د هغه د رسول، ۳:او خپلو چارواکو پیروي وکړئ.(۲۱۹) په عمومي توګه چارواکي د حکمرانانو او پاچایانو په توګه پیژاندل کیږي. په تاریخي ډول داسې کیږي. په اوسمهال کې د ټاکنیزو قوانینو له مخې وزیر اعظم، ولس مشر او وزیران ګومارل کیږي. دا ټول منصبلرونکي د قانون په مرسته ( ورکړل شوي) واکونه کاروي. او له قانون څخه پورته واکونه نه شي



کول دي. که دا ډله وړه وي، که لویه، یوه کورنۍ وي، که د ښار اوسیدونکې وي، او که د یوه هیواد یا ډیرو هیوادونو اوسیدونکي وي. د قرانکریم د تلاوت پر وخت انسان پوهیږي چې په یوه وخت هم یوه کس ته او هم سترې ډلې ته مخاطب دی. په بنسټیزه توګه قرانکریم خلکو ته د ډلو په بڼه نصیحت کوي. په بله وینا سره له دې لارښوونې یې د یوه کس لپاره بریښي، خو قران د ټولنیز انساني ژوند لپاره یوه عملي لایحه ده، که مسلمان وي او که نه.

د همدې لرلید په رڼا کې قران کریم د شخصي معاملو (۲۰۷)، خپل منځي درناوي(۲۰۸)، له نورو څخه د ناوړه ګټې نه اخیستنې او ورته درناوی کول (۲۰۹) ، عادلانه اقتصادي کړنچارې (۲۱۰) ، د تړونونو له مخې د منتقله او غیر منتقله جایدادونو ورکړې( ۲۱۱) او نورو چارو پر اړه ځانګړې اصول ټاکلي دي.

پر وراثت(۲۱۲) پوځ او دیواني عدالتي نظام(۲۱۳) د رازدارۍ معیارونو(۲۱٤) د مشورې له مخې پریکړه کول د ښځو ماشومانو او سپینږیرو او کمزورو خلکو(۲۱۵) حقوق(۲۱٦) په اضافي شتمنیو کې ګډون(۲۱۷) د ژمنو او تړونونو ساتلو،( ۲۱۸) او نورو په هکله یې تفصیلي احکام ورکړي دي.

دا داسې چارې دي چې د ټولنیز نظم او ضبط له پلوه خورا اړینې دي. او ډیره اغیزناکه کړنلاره ورته خپله شوې ده. یانې لومړی له هر مسلمان سره ځانله ځانله د هر لارښود اصل له مخې نیغ په نیغه د انعام ژمنه او

کارولی.

ګواکې د اوسمهال (اولوالامر) اینونه او لیکل شوي قوانین دي، چې دود شوي دي. د همدې له امله هر مسلمانله قانون سره سم د یوې قاعدې (۲۲۰)(ده رول آف لاء) پیروي کونکی دی. دا واکونه تل د قوانینو په مرسته کارول کیږي. قرانکریم پر مونږ ټینګار کوي چې د مشورې په مرسته او بنسټ پر چمتو شوي قانون او آیین عمل وکړو. په قرانکریم کې داسې احکام شتون لري چې د مشورې پر بنسټ پریکړه کول غوره ګڼي. او د همدې له مخې د خبرواترو په پایله کې قانوني او آیني مسوده چمتو کیږي. (۲۲۱) چې بیا د امر په توګه پلې کیږي. د مسلمانانو نمایندګانو ته واک ورکول شوی دی چې د داسې کسانو د ګومارلو لپاره قوانین وټاکي. په دې ډول سره دودیز قانون په اصل کې اولوالامر ګرځي.

## د چارواکو د پیروی ژمنه( امر با المعروف ):

په قرانکریم کې د یوه مسلمان او چارواکو ترمنځ یوه ژمنه شوې ده، چې دنیکیو یانې معروف(۲۲۲) چارو پلې کولو ځواک لري. چارواکې چې پریوي یې پرمسلمان لازمه شوې ده، په اصل کې مسلمان د رول اف لاءپر پیروی مجبوروي، او بل پلو یې د هغو چارواکو د خبرو اوریدو او منلو ته پابند کوي، چې په حکومت کې دي.(۲۲۳) د جرمونو (چې لومړی د ګناهونو په نوم پیژاندل کیږي) د مخنیوي ځواک په نوې حکومتي اډانه کې د قانون پلې کونکې اداري لکه پولیس، د مخدره



موادو پر ضد مبارزه کونکې، د ترهګری ضد پولیس، د پیسو د قاچاق د مخنیوي دولتي مامورین، یا کسټم مامورینو سره دی. نو ځکه هر مسلمان باید د دولتي محاکمو اصولي خبرې ومني. دا هم کره شوې ده چې که کومه دولتي اداره خپل واک په ناسمه او ناجایزه توګه کاروي، نو ننګول کیږي.

دا باید څرګنده شي، چې دولت د لمانځه او روژې غوندې دیني چارو ته اړوند قراني لارښوونې نه شي پلې کولی. ځکه چې د دې له امله د فردي ازادی(فري ویل) پر ضد د زور کارونه رامنځته کیږي. او داسې کړنه په کار نه ده. دلته یوه بله پوښتنه راپیدا کیږي هغه دا چې ایا عام نیک عملونه چې د سم او ناسم قراني تصور سره تړاو لري، پلې کیدی شي او که نه؟ یا دې د خلکو خوښې ته پریښودل شي؟ دلته حالت بدلون مومي، ځکه چې نیک او بد کارونه د نوي قانون له مخې پیژاندل شوي دي.او ډیر اخلاقي موضوعات په داسې قانون بدل شوي دي چې د عمل کولو وړ دي. او دولت به یې پلې کوي. قرانکریم د دې کار ترسره کولو لپاره د یوې جلا ادارې(۲۲٤) رامنځته کیدو هڅونه کوي. چې په نوې زمانه کې به یوه منل شوې دولتي اداره وي،او خلک به له ناسمو کارونه څخه منع کوي، او د سمو او ښو کارونو کولو ته به یې هڅوي، دې ته د نوې زماني پولیس ویلی شو.

د ناسمو او بدو کړنو پر ضد په زور سره چاره سازي کیدی شي. یوه مذهبي ډله په رضاکارانه ډول د دعوت له لارې هم دا چاره پر مخ

بیولی شي، او ګټوره به هم وي. خو دا چې له هغوی سره د حکم کولو ځواک نه وي،(۲۲۵) نو د ایت د حکم په نافذولو کې به اغیزناک رول ونه لوبولی شي. نو د دې لپاره د هر دولت ټوله ګومارل شوې اداره به دا کار کوي، چې خلکو ته به د نیکو کارونو دعوت او هڅونه کوي، او له بدو کارونو څخه به یې منع کوي.

## د جهاد ژمنه:

قرانکریم خوځایه د هغه چا لپاره د اجر ضمانت کړی دی چې جهاد کوي.(۲۲٦) او په دې لاره کې د خپل سر ښندنې ته چمتو وي. دا د الله او جاد کونکي مسلمان ترمنځ یوه ژمنه ده. او یو تړون دی. جهاد په نیت، شتمنۍ،جایداد او وسایلو هم کیږي.(۲۲۷) دا خبره هم په یاد ساتل په کار دي چې د ابلیس او نفس د فتنو او نفسي غوښتنو له منځه وړل او پر ضد مبارزه هم جهاد دی.(۲۲۸)

له جوشه ډک او جذبه لرونکی مسلمان چې د جهاد هیله من وي، ځینې وخت د داسېډلو په لټون ګرځي چې د د جهاد اعلان کوي. خو اوسمهال په جهاد کې برخه اخیستنه انفرادي او شخصي چاره نه ده. بلکې د دولت د قوانیو، او نظم وضبط پیرو ده. او اړینه ده چې د حاکم خبره په کې واوریدل شي. په اوسني مهال هیڅ مومن په انفرادي توګه د جهاد دنده پر مخ نه شي وړی. ځکه چې هر هیواد پوځ، هوایي ځواک، ځمکنی ځواک او مدافع ځواک لري، چې له مخې یې د ځواک کارونې



دنده روزل شویو کسانو ته سپارل کیږي. هر ځوان چې د جهاد لیوال وي، نو د خپل مسلمان هیواد په پوځ کې د شمولیت غوښتنلیک به ورکوي. د اړوندې وړتیا درلودلو پر مهال به یې ټاکنه او روزنه کیږي. او بیا به په جنګي جهاد کې د ونډې اخستو جوګه ګرځي. پر هر حال دا یوه پراخه موضوع ده، او ډیر څه پرې لیکل شوي دي، خو پر دې اړه دومره ویل بسنه کوي، چې په قرانکریم کې چې د جهاد پر اړه هرخومره اصول بیان شوي دي، له اوسني نړیوال قانون او نظریاتو سره ټکر نه کوي. د بیلګې په ډول چې بل هیواد ته ننوتل ممنوع دي، خو که هلته بې ګناه خلک وژل کیږي، نو د هغوی د ژغورنې په نړیوال قانون د ننوتلو اجازه ورکوي. د هجاد شرطونه هم نړدې همدې ته ورته دي.

## د سوګندونو ژمنه:

الله تعالی په قرانکریم کې پر ډیرو ژوندیو او ناژوندیو مخلوقاتو سوګند یاد کړی دی.(۲۲۹) قسم یا لوړه کول یو بیل اضافي قانوني جواز رامنځته کوي، چې موخه یې د هغې څیز سم ثابتول دي چې په قرانکریم کې بیان شوي دي. سره له دې چې په قرانکریم کې د بیان شویو حقیقتونو د سم والي لپاره ایتونه د ثبوت په توګه وړاندې کیدی شي. ځینې خلک پط فکره او سوچه په قران سوګند کوي، نو په دې توګه د سوګند کونکي او مقابل لوري ترمنځ د لوړې یوه قانوني ژمنه ترسره کیږي.(۲۳۰)

سوګند کول د یوه حقیقت او یا یوې پیښې د ثبوت د حمایت یوه لاره چاره ده. دا چې قرانکریم د ډیرو داسې حقایقو پر اړه خبره کوي، چې انساني سترګو لا لیدلي نه دي، یا یې تجربه کړي نه دي، لکه د اخرت ورځ، یا د الله تعالی ذات اقدس، چې مونږ نه دي لیدلي، دغه راز مونږ پرښتې هم له اسمان څخه ځمکې ته یا برعکس د الوتلو په حالت کې نه دي لیدلي، یو عام انسان د حقیقتونو د منلو لپاره د خپلې حافظې، لیدلو او اوریدلو پر ځواکونو انحصار کوي. حال دا چې د الله تعالی ذات او پرښتې نالیدلي حقیقتونه دي. تر دې پورې چې د اوس زماني انسانانو پیغمبران هم نه دي لیدلي. نو سوګند یا لوړه د دې ډول نالیدلو څیزونو او حقیقتونو د اثبات لپاره یوه قانونیلاره چاره ده. پر داسې موکو د پیغام نازلونکی پخپله مداخله کوي، او د هغې څیزونو پر نومونو سوګند کوي چې په قرانکریم کې د یادو شویو دعوو د سموالي د ټینګار لپاره یې پیدا کړي دي.(۲۳۱)

### د مشورې ژمنه:

د ژوند د عامو کړنچارو پر اړه د مشورې کولو یوه څرګنده لارښوونه شتون لري. او د دې په مرسته مونږ پر داسې لایحه باندې یوه خوله کیږو چې ټولو اوړوندو خلکو ته اړینه ده چې نیغ په نیغه یا د نماینده ګانو په مرسته په مشاورتي چارو کې ګډون وکړي. (۲۳۲) د دې ډول مشورې پایله د یوې پریکړې، تړون، قانون جوړونې، یا بله بڼه



راڅرګندیدی شي، چې د ژمن توب پر اړه یې ټول مشوره کونکي یوه خوله وي. قرانکریم د هرې پریکړې لپاره د مشورې کولو وړاندیز کوي.(۲۳۳) او بیا یاده پریکړه د هغې ټولو کسانو لپاره د منلو وړ ګرځي چې په مشوره کې یې ګډون کړی وي. په دې ډول سره مشوره یوې پریکړې یا ژمنې ته د رسیدو لامل ګرځي. چې عملي کول یې د ټولو اړوندو کسانو لپاره پیاله درلوودونکی او تعمیري چاره ګرځي.

قرانکریم پر دې خبره ټینګار کوي چې که هره دنیوي معامله وي، لکه د حکومت جوړونه، د نماینده ګانو ټاکنې پالیسي، او که د قواعدو او ضوابطو تشکیل وي، باید مشوره په کې وشي. (۲۳٤) هر کس چې مجلس ته راځي، نو له ځان سره جلا ډول بصیرت، مهارت او تجربه راوړي. او کله چې دا ټول( یانې د ډیرو خلکو پوهه، مهارت او تجربه) سره رایوځای شي، نو پایله یې ډیره ګټوره ګرځي. چې د یوه کس د پریکړې پر ضد په کې د مسئلې ټول اړخونه راټولیدی شي. نو د همدې لپاره د ورځني ژوند په ټولو چارو کې د مشورې هڅونه کیږي. د کورنۍ د غړو ترمنځ ماشومانو او نویو ځلمکو ته په مشوره کې د ګډون حق ورکول په کار دي، ځکه چې دوی د تازه او نوي شعور څښتنان وي.

مونږ د رسول الله په ژوند کې داسې بې شمیره بیلګې لیدلی شو چې د ځانګړو پریکړو لپاره یې مشورې کړې دي.د مشورې په پایله کې کیدونکې ژمنه په اصل کې د ټولنیزې پرمختیا، او دنیوې ګټې او غوره والي لپاره وي. مونږ وینو چې ځینې وخت د دیني چارو پر اړه هم

علماؤ او پوهان مشوره کوي، چې د اجماع (۲۳۵) په نامه يادېږي.

خپل منځي مشوره د رايو د يو کيدو لپاره يو بنسټ ګڼل کيږي. او دا وړلنديز الله تعالی کړی دی.(۲۳٦) او په دې کې هيڅ شک نه شته چې کله هم له يوه څخه د ډيرو انسانانو غور او فکر يوځای شي، نو خپل منځي پوهه لوړيږي، او مسئله د هواري لوري ته ګام اخلي.

## له دريم ګړي سره ژمنه:

الله تعالی له هر هغې کس سره ژمنه کوي، چې په رضاکارانه ډول د خپلوانو، دوستانو يا کاري ځای کې او يا په سوداګريزو چارو کې د خلکو ترمنځ د خپلمنځي شخړو کې د هواري په موخه د دريم ګړي (۲۳۷) رول لوبولو ته چمتو کيږي. د دې کار په بدل کې به هغه ته غير معمولي انعامونه ورکول کيږي. مونږ ټولو ته په شخړو کې د دريمګړيتوب واک راکول شوی دی. او د شخړو د دواړو لوريو له خوا د دريمګړيتوب ټاکلو انتظار ته اړتيا نه لرو. پر دې اړه په قرانکريم کې د همدې نظريې ستاينه شوې ده.(۲۳۸) او الله تعالی د دې چارې ترسره کولو په بدل کې غير معمولي انعاماتو ژمنه کړې ده. له يوه مسلمان څخه هيله کيږي چې په سوداګريزو شخړو کې مداخله وکړي، او د مصلح ياني سوله راوستونکي کس رول ولوبوي.

د بيلګې په توګه سوداګر په چيمبر اف کامرس( اطاق تجارت) کې د شخړو د هواري کميټه جوړه کړي. او ځينو خو جوړې کړې هم دي. په



ځينو مارکيټونو کې هم د راکړې ورکړې د شخړو لپاره دريمګړتوب کيږي. دغه راز هر مسلمان دريم ګړی له الله تعالی سره د ژمنې له مخې د اجر او انعام حق دار دی.

نړيوال سوداګر دا چاره منل شوې دريمګړې اداري لکه د لندن (کورټ اف اربټريشن او انټرنيشنل چيمبر اف کامرس) ته راجع کوي. په سوداګريزو چارو کې د دريمګړي رول لوبونه پر قراني لارښوونه عمل کول دي. که دا کړنه په دې نيت وشي چې د دواړو غاړو ترمنځه فساد کمولو کې مرسته وشي، نو د بدل ژمنه يې شوې ده. دريمګړتوب يا پوهاوی دې ټکي ته اشاره کوي چې، د سوداګريز ترون يو لوری هم د ناسم پوهاوي له امله د فساد رامنځته کولو يا شخړې جوړولو ته ليوال نه دی.

نوې محکمې هڅه کوي چې قانوني چاره سازان د متبادل غير رسمي دريمګړتوب لوري ته ليوال کړي. قرانکريم دا سپارښتنه هم کړې ده چې د حکومتونو ترمنځ شخړې دې هوارې شي. نو په دې دول بايد په نړيواله سطحه داسې انتظامي او عدالتي چوکاټ جوړ شي، چې د هر لوري لپاره د ترجيح درلودونکی وي، او د شخړو د لا پرمختګ مخ ونيول شي.

الله تعالی د ناسم پوهاوي يا شخړې په حالت کې د ميړه او ميرمن ترمنځ کړکيچ کې د متبادل حل او هواري خبره کړې ده. قرانکريم چې د دريمګړي د ټاکلو لپاره کومه کړنلاره ښودلې ده، د

اوسمهال له هغه دوديز منهج او کړنلارې سره همغږې ده چې مصالحتي ادارو ټاکلې ده. رسول الله ص په مدينه منوره کې ډيرې قومي او قبايلي شخړې هوارې کړې وې.

الله تعالی له هر دريمګړي رضاکار کس سره د اجر ژمنه د دې لپاره کړې ده چې هغه نه غواړي چې مخلوق يې په خپل منځ کې شخړې او جګړې وکړي. د جګړو په پايله کې خرابي رامنځته کيږي، او دا خرابي او بغض يا کينه د الله تعالی د مخلوق د پرمختګ جذبه د ويانې په توګه خوري. او په دې ډول به د الله تعالی دا دعوه چې غوره مخلوق يې نسل په نسل پرمختګ کوي، له خنډ او ځنډ سره مخ شي. او ابليس همدا غواړي چې د انساني نسل وړتياوې څه ډول د جنګونو ښکار او پڅې شي، او بيخي پرمختګ ونه کړي، او په دې ډول سره د ابليس دا دعوه سمه ثابته شي، چې انسان به په ځمکه فساد وکړي. د دې دعوې د د له منځه تللو لپاره الله تعالی له هر دريمګړي خيرغوښتونکي کس سره ترون کوي، چې د دوو کسانو تر منځ راپېرته شوې شخړه دې هواره کړي.

## د نيک عمل د مشورې ورکولو ژمنه:

الله تعالی مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې خپلو قومي ورونو، دوستانو، ملګرو، خپلوانو او په کوم ځای کې چې اوسيږي، يا کار کوي، د هغې ځای خلکو ته د نيکۍ کولو نصيحت وکړي. نيکو کړنو ته يې



وهڅوي، او څوک چې نيک عملونه کوي، اجر او بدل به يې ورکول کيږي، او زيان به نه وررسيږي.(۲۳۹) دا حکم د هغې نومول شوې چارواکې ډلې( حکمران) څخه جلا دی، چې د ځواک په کارولو سره منبنته باوري کوي. البته په دې ترون کې د ځواک کارولو اجازه نه شته، يواځې د خولې وينا به کوي.

د دې ترون مانا دا نه ده چې منوړ خلکو پسې شو، پيغورونه ورکړ يا يې پريشانه کړو. په دې کې د ويرونې او ګواښونې عنصر شتون نه لري.(۲٤۰) له مسلمانانو څخه هيله کيږي چې يو بل ته نصيحت وکړي، او په سمه لار تللو کې له يو بل سره مرسته وکړي.

قرانکريم اوسمهاليزو قوانينو سره سمون خوري، او ژبه د يادولو وړ داسې انعطاف پذيري لري چې د نوي زمانې له قواعدو سره په اسانۍ سره همغږې کيدلی شي. د بيلګې په توګه کله چې د نيکو اعمالو پر اړه خبره کوي، نو په حقيقت کې دا داسې اصطلاح ده چې هغه کړنې په کې شاملې دي چې ( پرته له ځين استثناآتو څخه) په اوسنۍ ټولنه کې هم جايزې او مشروع دي. (۲٤۱) دا نوي نيک عملونه دې ته اړتيا نه لري چې د پخوانيودلايلو او قياسي رايو پر مرسته يې ثابت کړو. ځکه چې اوس په خوسوه کلن انساني تهذيب کې دا چارې مشترکې او څرګندې شوې دي. د بيلګې په توګه دا صالح عمل دی چې غلط بياني يا بده وينا ونه شي. ځان او نور له دوکې، فريب غلا او ډاکې څخه ايسار شي. غور وکړئ! دا ټولې د قران او سنت په رڼا کې ممنوعه چارې اوس د

هیوادونو د پوځ په قانون کې نیغ په نیغه د جرمونو په لست کې شاملې شوې دي. پر دې اړه د هر هیواد جوړ شوي قانون ته رجوع په کار ده، چې د ښو او بدو روڼاوی په کې شوی دی.

د اوسنیو حکومتونو جوړ شوي قوانین اوس مستعار دي، چې په ټولنه کې کوم کوم کارونه د نیکو عملونو په توګه وپیژاندل شي. د همدې لپاره الله تعالی مونږ پر دې پابند کړي یو چې نور خلک له ګناه او جرم څخه ایسار کړو. همدا په نیک عمل کولو ټینګار دی. په بله وینا د دودیزو قوانینو پیروي هم د نیک عمل مشورې او نصیحت د ترون برخه ده.

د یادولو وړ ده چې کوم قوانین چې د قران او سنت ضد دي، څرګنده خبره ده چې هغه له دې څخه مبراء دي. خو شمیر یې ډېر لږ دی.

## د نیک عمل ژمنه:

په لومړۍ برخه کې مو نورو ته د نیک عمل د نصیحت د ژمنې پر اړه خبرې اترې وکړې. دلته مونږ د نیکو اعمالو یا صالح عمل د ژمنې پر اړه خبرې کوو. چې هر مسلمان یې په انفرادي توګه ترسره کوي. په قرانکریم کې پر دې اړه خبرې اترې شوې دي، او سرته رسونکې ته یې د اجر ورکول باوري شوي دي. (۱٤۲) دا د الله تعالی له لوري په لیکلي ډول ژمنه ده. او د عهدالله (الهي ژمنې) په نوم یادیږي. (۱٤۳) ښه عملونه د قیامت پر ورځ نه ضایع کیږي. څکه چې د دې ډول هر وګړي



د اجر مسئولیت الله تعالی پر خپله غاړه اخیستی دی. (۱٤٤)

دا ترون هم الله تعالی نیغ په نیغه له هر مسلمان سره کړی دی. یانې که زه او ته نیک عمل کوو، نو د الله تعالی له پیروۍ سربیره له هغه سره کړی ترون هم پر ځای کوو. اوس نو خاطر جمع شئ، څکه تاسو الله تعالی پر دې پابند کړ چې اجر درکړي او په انعامونو مو ونازوي، او دا ډیره ستره خبره ده.

## د انساني درناوي ژمنه:

که مونږ د خپل ملګري انسان درناوی او احترام کوو، نو الله تعالی یوه ژمنه کړې ده چې د هغې له مخې د دې ډول کړنې ترسره کونکې کس سره د اجر وعده کړې ده.(۲٤۵) د درناوي او عزت کولو مانا دا نه ده چې مونږ یو کس ته ښاغلی، یا آغلې یا دې ته ورته بل لقب وکاروو. د دې مانا دا ده چې د انسان د ذات او وجود درناوی وشي، او داسې چاره ترسره نه شي چې هغه ته پرې زیان ورسیږي، د جذبو درناوی یې وشي، او داسې کړه وړه ورسره وشي چې د الله تعالی د غوره مخلوق له شان سره وړ او مناسب وي. هر انسان، چې د هر دین پیرو وي، له هرې ډلې سره تړاو ولري، له هر نسله وي، او له ځای څخه راغلی وي، د بشپړ درناوي وړ دی. څکه چې قرانکریم په خپله هم له هر یوه سره یوډول چال چلند کوي. تر دې چې د مجرم بندي درناوی هم کوي. له غیرمسلمو سره هم د ښه چال چلند غوښتنه شوې ده.مونږ وینو چې د

هندو مذهب په څېر په ځینو دینونو کې دوه ګوني چال چلند منل شوی دی.سره له دې که یو برهمن( په هندوانو کې تر ټولو لوړ ذات لرونکی کس) خپل شودر( یانې ځلورم ذات لرونکی کس) ملګري ته په سپکه سترګه ګوري. نو برعکس الله او قران منونکی کس به له دواړو سره یو ډول چال چلند کوي. دغه شان د مسلمان لپاره یهودي او مسیحي دواړه د یو ډول درناوي وړ دي. همدا د قرانکریم لارښوونه ده.

الله تعالی په قرانکریم (۲٤٦) کې درناوی او عزت هر انسان ته د یوه حق په توګه ورکړی دی.(۲٤۷) او لامل یې اسان دی، دا چې انسان د هغه تخلیق دی. د انساني حقونو په نړیوال قانون(۲٤۸) کې وقار او درناوی د بنسټیز حق په توګه پیژاندل شوی دی. (۲٤۹) څومره د عالي ظرفۍ خبره ده، چې مونږ د الله تعالی احکامو ته په ځلونو ځلونو د بېغورۍ او بې فکرۍ په سترګه کتلي دي، خو هغه د دې ټولو بې ادبیو سره سره بیا هم زمونږ د وقار او درناوي پر اړه دومره حساس دی. د انسان درناوی خالق ته ډېر ګران دی. نو ځکه هره هغه پیښه او کړنه چې پایله یېبدېدرناوي ته نه رسیږي، د هغه خوښه نه ده. الله تعالی نږدې ټول هغه کارونه ناخوښه ګڼي چې د چا په ظاهري بڼه، ټولنیز حیثیت، ژبه او نظریه پورې ملنډې وهي.(۲۵۰) تر دې چې مسلمان د خپل کافر ملګري له سپکاوی څخه هم منع شوی دی. پر چا ملنډې وهل، داسې کټ کټ خندل چې خلک ترې په تکلیف شي، او داسې نورې کړنې قرانکریم په په څرګنده توګه په بیلابیل ډول تورو منع کړي دي.



(۲۵۱) په دې خبره پوهیدل په کار دي چې پر تخلیق ملنډې وهل په حقیقت او اصل کې پر خالق ملنډې وهل دي.

د الله تعالی له لوري د دې چارې اجازه نه شته. (۲۵۲) او وایي چې د هیچا پر اړه قضاوت مه کوئ، مه رایې ورکوئ، او مه یې په بدو نومونو یادوئ.(۲۵۳) ځکه ښایي هغه له تا څخه غوره وي، او له بې ځایه تجسس څخه یې هم منع کړي یو. (۲۵٤)

تر دې پورې چې قرانکریم هغه څه په ځان کې رانغښتي دي چې اوسمهال ورته د غیر مهذبو خلکو کړنې( این سویلیټي) ویل کیږي. (۲۵۵) یانې دا ډول کړنې جرمونه نه دي، خو بې دلیله خلک ناکراره کوي.قرانکریم هر کس ته د شخصي حریم یا( پرایویسي) ورکولو خبره کوي، ځینې نیغ په نیغه او ځینې بالواسطه، لکه وایي چې سترګې مو ښکته واچوئ. (۲۵٦) په دې کې د بل چا په چارو کې بې اړتیا مداخله نه کول هم راځي. په قرانکریم کې د رازدارۍ او شخصي حریم درناوی د تهذیب او اخلاقیاتو برخه ده. غیر مهذبې کړنې د جرمونو پر پرتله سپکې وي، خو د په هر حال د تکلیف او پریشانۍ لامل ګرځي. او د بد چلند او کړکیچ لامل کیږي. کله کله دا ډول چلند د بې ادبۍ بڼه غوره کوي، یایه کې د مشرانو درناوی په پام کې نه نیول کیږي. ځینې وخت د دې له امله د کارځای اخلاقیاتو ( ورک پلیس نورمز)(۲۵۷) څخه هم سرغړونه کیږي. د دندې په ځای کې د یو بل درناوی به هم د انساني درناوي د تړون برخه وشمیرل شي.

## د حقوق العباد(بندګانو د حقونو ) ژمنه:

د قراني ژمنې له منلو وروسته مسلمان ته په کار دي چې د ټولو خلکو درناوی وکړي، یا ښوکړنو ته خلک وهڅوي، او په خپله هم نیک عملون وکړي، خو له دې پرته یوه بله ژمنه د حقوق العباد پر اړه ده، یانې د خلکو پر اړه د ځینې څیزونو په پام کې ساتل، او ورسره احسن او غوره چلند کول.(۲۵۸) د خپل چاپیریال له خلکو سره باید ښه چلند وکړي، د دې چارې ترسره کولو لپاره ورسره الله تعالی د انعام ژمنه کړې ده. مونږ دا چاره د حقوق العباد تړون په نامه پیژنو. ځکه چې د دې ټولو تړاو له انساني ملګرو سره دی، نو وړ بریښي چې په لنډ ډول پرېخبرې وشي.

په مجازي توګه د اعمالو په دې لیک لړ کې ریښتیا ویل، د نورو خلکو نه بدنامول، غوسه نه کول، په خپلو چارو کې روښتیا، په نرمۍ سره خبرې کول، د تړونونو مخالفت نه کول، د کمزورو خلکو پر حق خیټه نه اچول، له یتیمانو سره د مور او میرې چلند نه کول او نور راځي. د مسلمان لپاره اړینه ده چې په شخړو کې د سولې هڅې وکړي، غیبت ونه کړي، بې وزلو ته خواړه ورکړي، په بې پروایۍ لګښت ونه کړي، له صدقې ورکولو وروسته شیخي ونه کړي، میلمه پال واوسي، بې ایمانه ایمان راوړلو ته مجبور نه کړي، تیری ونه کړي، پر کاریګرو له توان پورته بار وانه چوي، بخیل و نه اوسي، قتل ونه کړي او نور. او اړینه ده چې د ټولو دینونو له پیروانو سره له عدالته کار واخلي. (۲۵۹) مسلمان ته



دا هم اړینه ده چې د بیلابیلو دینونو د پیروانو سپکاوی ونه کړي، تر څو بل څوک د خپل حق رب سپکاوي ته اړ نه باسي.(۲٦۰) په دې لړ کې یوه بله ژمنه دا ده چې، له هر هغه چاسره باید انصاف وکړي. چې بالواسطه یا بې واسطه د ده په کنټرول کې دی او که نه.(۲٦۱) ځینې علماؤ همدې ته احکام القران یا اخلاقیات ویلې دي. څو سوه کاله وړاندې به په یقیني توګه دا یواځې اخلاقي اصوی ګڼل کیدل، خو اوسمهال په دې کې ډیری اخلاقي اصول په نوي قوانینو کې شامل شوي دي. لکه په قرانکریم کې پر چا ملنډې وهل اخلاقي مسئولیت و، خو اوس د (ډیفامیشن) یا افتراء قانون دا چاره د عمل نه کولو وړ قانوني چاره ګرځولې ده. دغه شان د چا پر اړه اوازه ګډول چې یو اخلاقي ارزښت دی، نن سبا د هیوادونو په فریډم اف انفارمیشن( د معلوماتو ازادۍ) قانون کې ممنوع العمل چاره ده. نن سبا د تلویزیون او راډیو د لایسنس په مادو کې دا هم یوه ماده ده، چې له کره توب او څیړنو پرته خبر خپرول جرم دی. د حقوق العباد تړون پر اړه د رسول الله ص په یوه ښکلي حدیث کې حیرانونکې لنډیز سره د نن ورځې ټول نوي قوانین رایوځای شوي دي، فرمایي چې: مومن هغه څوک دی، چې د لاس او ژبې له زیان څخه یې نور خلک ژغورل شوي وي.

## د مسیحیانو او یهودو اړوند قراني ژمنې:

قرانکریم ډیری وخت په بایبل او تورات کې د یادو شوېو

ژمنلیکونو حواله ورکوي.(۲۶۲) حال دا چې یهود او عیسایان داسې انګیري چې د تورات او بایبل له مخې هغوی نه باید کوم بل نبي ومني، او نه کوم بل الهي کتاب. ښکاره ده چې دا نظریه بیخي پر ناسم پوهاوي ولاړه ده. او د قرانکریم نزول په حقیقت کې په هغې تیرو شویو تړونونو کې د ناسم پوهاوي سمونه کوي. دا هم باید څرګنده شي، چې مونږ د مسلمان په توګه باید پر دې باور ولرو چې بایبل هم د الله تعالی پیغام دی، او تورات هم حق دی. او پر هغو تړونلیکونو چې په یادو کتابونو کې د نوح ع ، ابراهیم ع عیسی ع او نورو پیغمبرانو اړوند راغلي دي، هم ایمان راوړل لازمي او اړین دي. قرانکریم د الله تعالی د پیغامونو د دې لړۍ یوه کړۍ ده.(۲۶۳)

نو په دې توګه قرانکریم هم د بایبل او تورو اسماني کتابونو د نزول تصدیق کوي. خو په هغې کې د شته ټولو موادو د سموالي وثیقه نه ده، لکه قرانکریم چې د بایبل د ځینو موادو په حواله وایي چې په هغې کې تحریف او لاس وهنه شوې ده. نو ځکه قرانکریم په خپل ځان کې هغه غلطۍ سمې کړې دي، چې د وخت په تیریدو سره د بایبل په متن کې راغلي دي. لکه نوی قانون چې ذ پخوانیو قوانینو د ناسمو یا پرېښودل شویو مادو رد یا سمونه کوي. نو په همدې ډول اسماني صحیفې یو بل د غلطۍ تر بریده منسوخوي. قران کریم هم همدا چاره ترسره کوي، تر ټولو لومړی چې کومه لویه غلطي سموي، هغه دا څرګندونه ده چې د الله تعالی هیڅ زوی نه شته. نو په دې ډول سره



قرانکریم د غلطو او ناسمو عقیدو سمونکی یو کاریګړم یا اصلاح کونکی لاسوند هم دی.

په دې توګه سره قرانکریم یهود او مسیحیان هم د خپلو اوریدونکو په ډله کښې شاملوي، قراني ژمنه د بایبل او نورو الهامي صحیفو د اوسنۍ بڼې لپاره د سمونې او اصلاح کار کوي. لکه څنګه چې اسماني وروستۍ صحیفې له ځان څخه مخکې هغه منسوخوي، قران کریم هم همدا چاره ترسره کوي. دا څرګندوي چې الله تعالی هیڅ زوی نه لري، لکه په ځانګړې توګه عیسایان چې دا ناسم تصور لري.(۲٦٤)

* ...... * ...... * ...... *

## څلورم باب:

# پراخ تړونونه

په دې برخه کې مونږ د وخت د لا محدودې لړۍ او د بوختياوو د کاري دايرې او موضوع په پام کې نيولو سره په لويه کچه د شويو تړونونو پر اړه بحث مباحثه کوو. د پورته ځيرل شويو ډيرو تړونونو په ځير دا هم د قرانکريم له متن څخه راخستل شوې دي. سره له دې چې په کې ځينې يې د قرانکريم له نزول څخه وړاندې ترسره شوې دي.

## د کايناتو چلولو ژمنه:

الله تعالی په قرانکريم کې له خپل اړخه له خپل ځان سره کړې ژمنې او اعلان کړې دی. دې ته په اوسنۍ قانوني ژبه کې په اسانۍ سره يونيليټرل ډيکلريشن يا يو اړخيزه اعلاميه ويل کيږي. دا په بيلابيلو ډولونو سره ترسره کيږي. ځينې اعلانونه دي، ځينې ژمنې دي، ځينې ضمانتونه دي، او ځينې تړونونه دي. دا رپريزينټيشن يانې د الله تعالی د ځواک، حاکميت لوړې مرتبې او وقار پر اړه دعوې بيا بيا په قرانکريم کې ترسرګو کيږي.دا يو اړخيز اعلانونه سم دي، او د ايمان لرونکو ايمانونه ځواکمنوي، د هغوی اړيکه له يوه ډير ستر او لوی ذات سره ده. هسې خو دا بې شميره دي، خو مونږ په دې کې د بيلګې په توګه د يوې داسې مهمې ژمنې يادونه کوو، چې له مخې يې الله تعالی دا ټوله مادي نړۍ، او په دې کې شته ټول شيزونه لکه ستوري، سپوږمۍ، لمر، سيارې او اسمانونه پيدا کړي



دي،(۲۶۵) همدې ژمنې به په ژمنتوب هغه ځمکه اسمانونه او په دې کېشته ټول شيزونه پيدا کړي دي.(۲٦٦) د دې شيزونو ډيزاين او رول يې هم څرګند کړی دی.(۲٦۷) د بيلګې په توګه پرځمکه ژوند يې د لمر پر رڼا منحصر کړی دی. دغه راز د همدې ژمنې له مخې يې نور کهکشانونه له لمر يا ځمکې سره له ټکره ژغورلي دي. د ستورو، سيارو او کهکشانونو مداريز انتظام کومه وړه خبره نه ده.(۲٦۸) پوښتنه دا پيدا کيږي چې، د کايناتو ته تخليق ته په بنسټيزه توګه د الله تعالی د پريکړې په سترګه کتل کيږي، نو دا ډول پريکړې ژمنه څنګه کيدلی شي؟ دا پريکړه ژمنه ځکه ګرځي چې دا د يوې څرګندې مودې يانې قيامت پورې منسوخيدلی او بدليدلی نه شي؟ (۲٦۹) نو ځکه دا پريکړه له يوې مودې سره نښتې ده. په راتلونکې کې د پيښيدونکې پيښې يانې قيامت په مرسته دا بيا نه راتلونکې پريکړه د الله تعالی له لوري د يوارخيزې ژمنې او باور ورکونې اعلان ګرځي.

## له انساني روحونو سره د الله تعالی تړون ( د الست ژمنه ):

دا ژمنه چې په قرانکريم کې د لاسوند په بڼه شتون لري، او ډيره مشهوره هم ده، يوه داسې ژمنه ده چې د الله تعالی او ټول انسانيت د روحونوترمنځ تر سره شوې ده، او موخه يې دا ده چې ټول انسانان به الله تعالی د خپل خالق په بڼه مني، او د هغه پر پيغام به عمل کوي،(۲۷۰) دا د الست تړون دی.

د دې ژمنې د کولو پر مهال الله تعالی د ټول انساني نسل روحونه مخاطب کړي وو.(۲۷۱) په دې ډول سره زمونږ د یوه یوه د روح له الله تعالی سره نیغ په نیغه جلا جلا ژمنه شتون لري. په ښکاره توګه روحونو شعور درلود، او د سوچ او فکر دومره وړتیا یې درلوده چې د الله تعالی د دې پوښتنې ځواب وویلی شي، چې ستاسو رب څوک دی؟ او ټولو روحونو شاهدي ورکړه چې (زمونږ رب الله تعالی دی) علماؤ په دې خبره یوه خوله نه دي چې ایا روحونه د خپلې خوښې څښتنان وو، او که نه. دا ریښتیا ده چې مونږ ته دا پیښه نه یادیږي. د الست ژمنه زمونږ ټولو په دننه کې پټ د خالق یاد دی. او په منږ ټولو کې دننه یو مهر ثبت شوی دی. تر څو پر ځمکه د ځان پیژاندنې له لارې هغه ومومو.

له دې به تیر شو چې مونږ کوم لورې ته سفر کوو، مونږ څوک پرمخ بیایي، یا مو چیرته بیایي، خو په هر حال کې مونږ له ځان سره د الست هغه مهر لیږدوو، چې زمونږ دننه په روح یا زړه کې چیرته په ژورو کې ډوب پروت دی.(۲۷۲)

د وحې او رسولانو د رالیږلو موخه د پوهې راویښول دي، او ټولو خلکو ته د دې خبرې وریادول دي چې له الله تعالیسره د کړې ژمنې ساتنه وکړي.(۲۷۳)

## له ابلیس سره ژمنه:

د دې ژمنې ځرګندتیا په قرانکریم کې شتون لري. خالق د کایناتو لپاره د خپل ستر پلان د یوې برخې په بڼه له ختې څخه یو



ځانګړې ډول مخلوق پیداکولو پریکړه وکړه. بیا یې له اور او رڼا څخه پیداکړیو خپلو مخلوقاتو( پرښتو او پیریانو) ته وروپیژانده. او دعوه یې وکړه چې نوی پیداکړی مخلوق به له ټولو مخکنیو مخلوقاتو څخه غوره وي، اشرف المخلوقات او هوښیار به وي. او پر ځمکه به د هغه د ځای ناستي په بڼه کار کوي. دا یې ورزیاته کړه چې دا مخلوق به د ازاد فکر او ازادې رایې څښتن وي، او دا چاره به یې له نورو مخلوقاتو څخه ځانګړې کړي. الله تعالی پرښتو او پیریانو ته امر وکړ، چې ادم ع ته سجده وکړي، چې په هاغې مهال کې یواځنی انسان و. خو ابلیس د ادم ع مخې ته له ټیټیدو څخه انکار وکړ. د هغه دا کار د الله تعالی خوښ نه شو، ځکه چې دې انکار د هغه پر حکمت د پوښتنې نښه ولګوله. وړاندې تر دې چې هغه ته سزا ورکول شي، نافرمانه ابلیس د وخت غوښتنه وکړه. چې د الله تعالی دا ارزښتناک مخلوق به د هغه له لارې او احکامو څخه د وسوسو پر مټ لیرې کوي.(۲۷٤) الله تعالی له خپلې کړنلارې سره سم په لوی زړه د هغه شرطونه ومنل، او یو تړون تر سره شو. او په دې توګه ابلیس ته وخت ورکول شو چې د قیامت تر ورځې د الله تعالی منونکو د بې لارې کولو هڅې وکړي. د دې چارې لپاره هغه د مسلمان او نامسلمان په مغزو کې د هغه د عقل او دلیل د ځواک په منفي کارولو سره بدګوماني او اړودوړ پیدا کوي. په مقابل کې به الله تعالی خپل رسولان رالیږي چې خلک سمې لارې ته راوبلي. خو ابلیس به د دې چارې پرعکس کار کوي. دا تړون اوش هم شته، او مونږ ټول د دې کارې دایرې په اړانه کېږوند تیروو.

## دانساني نسل د رزق ورکولو ژمنه:

تر دې وړاندې مونږ د الله تعالی پر یوه ستره ژمنه خبرې اترې وکړې چې له مخې یې هغه دا ټول کاینات جوړ کړل، او د چلولو ژمنه یې وکړه. په دې برخه کې به پر هغې ژمنې خبرې وکړو چې د بېشمیره مخلوق له ډلې یې یواځې له یوه سره کړې ده. یانې د ځان او انساني نسل تر منځ ژمنه. الله تعالی ټول انسانان یانې مونږ او تاسو پیدا کړو، او پر ځمکه یې د خپل خلیفه په توګه وټاکلو.(۲۷۵)

هغه له ټولو انسانانو یانې مونږ ټولو سره په انفرادي توګه ژمنه وکړه، چې زمونږ د پالنې اهتمام به کوي، او پر ځمکه به راته هوا، رڼا ، پرله پسې خواړه او د شتون لپاره یو وړ چاپېرچل رامنځته کوي.

انسان د الله تعالی یواځینی مخلوق دی چې د دې ډول لیکلې اصولي تړون ژمنه ورسره الله تعالی کړې ده. الله تعالی د انسان له هر وګړي سره د رزق ژمنه کړې ده. الله تعالی هغه ذات چې کهکشانونه یې پیدا کړي دي، او څښتن یې دی، او پرې حکومت کوي، له مونږ سره چې په دې کایناتو کې د ذرې برابر یو، ژمنې کولو ته چمتو دی. مونږ په جسماني توګه ډېر ناتوانه یو، او پر ځمکه د یوې ځرګندې او محدودې مودې لپاره ژوند کوو. له دې سره سره الله تعالی له مونږ سره د بخښنې، رحم (۲۷۶) ځانګړو انعامونو(۲۷۷) راکولو، او د هغه له شتون څخه د انکار لپاره د خپلې ازادې رایې کارولو ژمنه کړې ده.(۲۷۸) الله تعالی پر دې هیله چې دا د ذرې برابر کمزوری خو بې سره او بې عقله مخلوق



به یوه ورځ په بڅپله د الله تعالی پر پیغام ځان پوه کړي، او پر سمه لار به روان شي، نیوکه زغمي، او په بشپړ صبر سره انکار هم زغمي، او کلونه کلونه انتظار کوي.

نسل په نسل د فطرت د نعمتونو غوښتنه انسان په خپله نه ده کړې، ما او تا هم نه ده کړې، دا هوا، باران، ونې بوټي، څاروي، خواړه او نور ټول د هغه ورکړه ده. دا د الله تعالی له لوري څخه د غور او فکر په موخه رامنځته شوي دي، چې انسان له هغې نعمتونو څخه خوندواخلي، چې د دوی ژوند ورپورې تړلی دی، او پر دې خبره سوچ وکړي چې دا پراخ معدني چاپېرچل همغې ذات راکړی دی.(۲۷۹) هیله دا ده چې هغه انسان چې دا نه مني، د الله تعالی احسان محسوس کړي، بیا د الله تعالی یووالی ومني او پر هغه ایمان راوړي.

الله تعالی له غوښتنې پرته انسان ته دومره څه ورکړي دي. چې ایمان راوړل پرې د الله تعالی حق ګرځي. د مسلمانانو لپاره هم دا د سوچ ځای دی.(۲۸۰) دلته باید دوی عاجزي وکړي او شکر وباسي. هغه د ځمکې کره پر ځناورو او مرغیو اباده کړې ده او روزي ورکوي.(۲۸۱)

سربېره پر دې الله تعالی د اعلی او غوره مخلوق په توګه د انسان د پیدا کولو ژمنه هم کړې ده.(۲۸۲) په قرانکریم پرشتو ته په خطاب کېدا ژمنه شتون لري. (۲۸۳) د رایو ازادي د انسانانو ځانګړتیا وښودل شوه، تر څو هغوی معلومات راټول کړی شي، اوریدل وکولیشي، سوچ وکړی شي، رایه ورکړی شي، خیالات رامنځته کړی شي، او په نړۍ کې

سیالي وکړی شي.

د انساني نسل د پایښت لپاره یې ورته د روزۍ ګټلو په موخه د سوداګرۍ د وسایلو د لټون ځانګړې مهارتونه او وړتیاوې ورسپارلي دي.(۲۸٤) الله تعالی په معلومو کایناتو کې دوی غوره نسل وګرځاوه، خو شیطان غواړې چې دا خبره ناسمه ثابته کړي.(۲۸۵)

## د واکمنۍ ژمنه:

قرانکریم داسې لاسوند دی چې دا اعلان کوي چې ځمکه او ټول کاینات د هوا،خلاء او اسماني څیزونو په ګډون ټول هرڅه د الله تعالی شتمني ده.(۲۸٦) نو له همدې امله قرانکریم د ټولې نړۍ او جهانونو د واکمنۍ د اعلان ژمنه ګرځي.(۲۸۷) یا په ساده ټکو داسې چې قرانکریم د الله تعالی د واکمنۍ او ملکیت د حق مستند لاسوند دی. همغه ذات خالق او مالک دی، الله تعالی په ډیر باوقاره توګه او ښکلي انداز سره په قرانکریم کې پر دې اړه دلیلونه وړاندې کړي دي. هغه د یوه هاغه څیز نوم اخلي چې پیدا کړي یې دي. هغه جامع خو لنډ بیان ورکوي، چې هر څه چې پر سترګو لیدل کیږي ټول د هغه مخلوقات دي. هغه د خپلو مخلوقاتو له ډلې یواځې د یو څوهغو نومونه اخلي، د بیلګې په توګه د اسمان، ستورو، سپوږمۍ، ورځې شپې او نور. او پاتې نور څیزونه په دې لیک لړ کې ورګډیږي.

د دې دعوې د مقابلې لپاره تراوسه کومه پرځای ننګونه نه ده رامخې ته



شوې، مونږ دا خبره حقیقت ګڼو چې له څو سوه کالو راپدیخوا تر اوسه پورې هیچا پر اسماني څیزونو یا پر ځمکه د واکمنۍ دعوه نه ده کړې. دغه شان د الله تعالی له لوري په لیکلي ډول کیدونکې دعوه پرله پسې توګه پر ځای پاتې او بې مخالفته دعوه ده.

## د استونکي او لاسته راوړونکي ژمنه:

قرانکریم د دې لپاره نازل شوی دی چې مونږ ټول د انساني نسل د برخې په توګه د هغې پیروي وکړو، نو له دې پلوه الله تعالی استونکی، او مونږ هر یو لاسته راوړنکي یو. په دې توګه د پیغام د استونکي او لاسته راوړنکي ترمنځ یو تړون ترسره کیږي. دا د یوه سنډر او ریسیور( لیږونکي او لاسته راوړونکي) یا د یوه کانسیني او کانسنر( استونکي او وصولونکي) اړیکه ده.

رالیږونکی اړ ترلاسه کونکی دواړه په یو قانوني تار تړلي دي. په حقیقت کې ترلاسه کونکي مخلوق د قرانکریم ترلاسه کولو فریضه پر غاړه اخیستې ده، حال دا چې نور ټول مخلوق د تذبذباو دوه زړه توب ښکار شوی و.(۲۸۸)

رالیږونکی د زړه له کومې غواړي چې پیغام یې هرلاسته راوړونکی ولولي او ځان پرې پوه کړي. د قرانکریم په لوستلو او پوهیدلو کې توپیر شته. لوستل یو محدوده کړنه ده، خو پوهیدنه د ټول ژوند چاره ده. مونږ هر یو باید په شخصي ډول قرانکریم مطالعه کړو،

او غور او فکر په کې وکړو. سوکه سوکه د دې د نازلیدو تر شا هم همدا موخه پټه وه، چې ورو ورو پرې خلک ځان پوه کړي. ښايي دا يواځينی کتاب وي چې مرکزي متن يې پر دې ټينګار کوي چې ورو ورو او په دمه دمه ولوستل شي، او په يو وار ونه لوستل شي، ځکه يو وخت کې له لوستونکي سره د شعور او تفکر يوه محدوده لړۍ شتون لري، خو د دې د مانا په پراخوالي د پوهې د جذب لپاره دمه او وخت اړين دی.

د رسول اکرم ص له رحلت څخه وروسته د پيغام د ترسيل او رسونې يو بل پړاو پيل شو، چې ليرې او نږدې ټولو خلکو ته بايد په يو ډول ورسول شي. د رسول الله ص اصحابو او پيروانو په تدريج سره د قرانکريم د خپرولو لپاره بيلابيلې لارې چارې خپلې کړې. کله به يې د اسونو پر شاګانو فارس پورې ليږداوه. مسلمانو عالمانو د اوسني لبنان پوربراورساوه. سوداګرو په خپلو کښتيو کې هندوستان او اندونيزيا پورې ويوړ. کله کله به رومي پاچايانو ته د شاهي ډالۍ په توګه استول کيده. د قرانکريم ليکلې نسخه د نړۍ بيلابيلو برخو ته ورسيده، تر دې چې د اروپا امريکا او ان برصغير به ارشيفونو کې يې هم نښې ليدل کيږي.

زمونږ غوندې خلکو لپاره چې په مسلمانو کورنيو کې نړۍ ته راغلي يو، د دې پوهاوي اړتيا شته چې د الله تعالی کلام زمونږ کورونو ته رارسيدلی دی. نو تلاوت او مطالعه يې پر مونږ لازمه ده. که هره ورځ يو څو ايتونه هم وي. نو په دې توګه به د دې په پای ته رسولو کې له څوو



مياشتو ډېر وخت نه لګيږي. د دې نازلونکی له مونږ څخه همدا غوښتنه لري. په مونږ کې هر يو د دې راليږل شوي پيغام محتويات لوستلی او پرې پوهيدلی شي. له دې وروسته دا په مونږ پورې اړه لري چې پر دې څومره باور کوو، او څومره عمل پرې کوو.

## د سنبالونکي ژمنه:

الله تعالی د انسانانو لپاره قرانکريم ته د ژون قانون او دين ويلی دی. د دې ليدلوري له مخې قرانکريم ته د يوه سنبالونکي او تنظيمونکي د ژمنې په بڼه کتل په کار دي. دا مونږ د خپل وخت، توان او وسايلو له بې ځايه لګښت څخه ايساروي. او پر ځای يې د ګټورو موخو لپاره د کارولو لارښوونه کوي. لکه د خپلوانو، اړمنو، ګاونډيانو او مساپرو د ګټې لپاره.(۲۸۹) قرانکريم مو له بيشميره څيزونو څخه منع کوي، او پر بيشميره چارو بنديز لګوي. او وينا وال وايي چې انسان په بشپړه توګه ازاد پيدا شوی دی، او چې څه يې زړه غواړي کوي يې. اصل خبره دا ده چې د بشپړې ازادۍ حق خو په اوس وخت کې د هيڅ هيواد قانون هم نه ورکوي، تر قانون لاندې اوسنۍ يوه ټولنه هم د بشپړې ازادۍ اجازه نه ورکوي.(۲۹۰) ټولنې د ټوليزنظم او ضبط په موخه پر تګ راتګ، وړلو راوړلو او بيان هم بنديز لګيږي. دا ډل بنديزونه او قانوني مخنيوي لکه د سفر لپاره د ويزې لاسته راوړل، د موټر چلولو لپاره د لايسنس درلودل، د درملنې لپاره د شهادتنامې درلودل، د تذکيرې

جوړول بندیز او نور په هره تولنه کښشتون لري. مونږ دا ټول په خوشالۍ سره منو. نه یواځې دا بلکې د ډیری تنظیمونکو چارواکو بیلابیلې برخې، او کمپنۍ د تنظیم په موخه له ګڼو کارونو، پروژو او کاروبار څخه مخنیوی کوي. او لامل یې د خلکو عمومي ګټه او ښه والی وي. په همدې توګه منوږ باید د قرانکریم د ایتونو بندیزونه هم د یوه سنبالونکي د لایسنس د مادو په بڼه ومنو، چې عمل کول پرې د ټول نظام او ټولنې لپاره د غوره پایلو درلودونکی وي.

## د پیغبرانو د درناوي او وقار ژمنه:

لکه څنګه چې د نن ورځې استاځی یا سفیر له هر ډول سپکاوي، جبر او قانوني چارو څخه استثنی ترلاسه کوي،(۲۹۱) له دې دودیز نړیوال قانون له مخې مونږ په دې پوهیدلی شو، چې د الله تعالی پر وړاندې ولې د هغه د سپیڅلو استاځو او انبیاء کرامو درناوي مهم دی. او ولې د هغوی درناوی او عزت نه ایل کیدونکی دی. که سپکاوی یا بې حرمتي یې وشي، نو دا چاره یوه لویه غلطي او بدي ګڼل کیږي. دا یوه زمنه ده، چې الله تعالی یېیادونه په قرانکریم کې کړې ده. او د بې شمیره بیلګو و پیښو په مرسته یې څرګنده کړې ده. چې د الله تعالی عذاب پر قومونو او قبیلو د دې لپاره راغلی دی چې د هغه د پیغمبرانو او پرښتو بې عزتي او سپکاوی یې کړی دي.(۲۹۲) د الله تعالی پر ټولو نبیانو ایمان راوړل یه لازمي چاره ده. چې سترګې ترې پټیدی نه شي. الله تعالی



خپلو استاځو ته ډېر درناوی او عزت ورکوي. سره له دې چې هغوی انسانان وو، او سره له دې چې یواځې د پیغام رسونکي وو، خو بیا هم د وحې په لړۍ کې مهمې کړۍ بلل کیږي. هغوی د الله تعالی سفیران وو. (۲۹۳) او هر سفیرد حیثیت پیژاندنې او استثنی دواړو حقدار دی.(۲۹٤) د بیلګې په توګه قرانکریم وایي چې څوک د رسول الله ص جذبو ته لږه ضربه هم ورکړي، په دې نړۍ کې به ورته سزا ورکول کیږي. بیا قرانکریم د الهي استاځو پر اړه طنز او ټوکې لونکو جملو باندې هم خبرې کوي، تر څو څرګنده کړي چې دا ډول سپک توري زغمل د رسول الله ص لپاره د تکلیف وړ ګرځي. نو ځکه الهي سفیرانو ته په سپکه کتونکي خلک د سزا وړ ګڼي. الله تعالی یواځې په دې ناراضه کیږي نه چې د هغه وفادارو پرښتو د انتظامي ګروپ سپکاوی خلک کوي، یا وریورې ملنډې وهي، بلکې هغه خلک د خپلو هغو تورونو ځواب ورکوني هم بولي چې د دې اتنظامي ګروپ پر ضد یې لګولي دي.(۲۹۵) د الله تعالی او هغه د استاځو منل او درناوی کول د ایمان غوښتنه ده.

د نبي کریم ص لپاره یو څه ځانګړی اهتمام شوی دی. الله تعالی د محمد ص په زمانه کې هغو کسانو ته د خپلې ناراضګۍ څرګندونه وکړه چې له هغه سره یې ناوړه چلند کاوه. دغه راز هغه خلک یې تنبیه کړل او خبرداری یې ورکړ چې له محمد ص سره یې په لوړ غږ خبرې کولې. چې بې له اړتیا دې خپل غږونه نه اوچتوي.(۲۹٦) کومه خبره

چې د څرګندونې وړ ده هغه دا ده چې کله یو څوک مسلمان شي، نو هغه ته په کار دي چې د الله تعالی پیغمبرانو ته درناوی ولري.

## له هر پیغمبر سره ژمنه:

لکه څنګه چې مونږ ته په قرانکریم کې ویل ش،ی دي چې هر نبي، پیغمبر او رسول ته جلا جلا لارښوونې ورکول شوې دي.د هر پیغمبر زمانه جلا ده، او حالات او پیښې یې جلا جلا دي، نو ځکه له هر یوه سره د لارښوونو او احکامو جلا جلا تړونونه شوي دي. نو په دې توګه دا نړدې یو لک او څلیریشت زره تړونونه کیږي. د الله تعالی له لوري پلي شوي څرګند احکام شته چې مونږ ته په قران کریم کې یاد شوي دي، چې له مخې یې هر نبي بل او جلا قوم ته د پیغام رسولو لپاره د رسول په توګه لیږل شوی دی. د رسولانو پر اړه ویل شوي دي، چې هغوی به یوازې پیغام رسونه کوي، او دپیغام رسونې له پایلو او اغیزو سره یې هیڅ اړیکه نه شته. د اوسني قانون له مخې د پرنسپل او نماینده یا امر او استاځي ترمنځ اړیکه هم همدا ډول ده. چې استاځی په کې د امر له لارښوونې سره سم د چارو پر مخ بیولو ته ژمن وي. خو امر یې هیڅکله د پایلو مسئول نه ګڼي. الله تعالی نه غواړي چې پر خپلو استاځو، رسولانو او پیغمبرانو د پیغام رسونې د پایلو مسولیت وربار کړي.



## د وروستي پیغمبر سره ژمنه:

لکه مخکې مو چې وویل د الله تعالی له لوري ټاکل شوی استاځی هم د ژمنې درجه لاس ته راوړي. کله چې الله تعالی دا بیان کوي چې محمد ص ټول انساني نسل ته لیږل شوی رسول دی، (۲۹۷) نو دا اعلان د یوېژمنې درجه لري، ځکه چې له دې څخه انکار د الله تعالی او مسلمان ترمنځ د بنسټېزې مادې څخه سرغړونه ده. (هغه وروستی رسول دی) دا ډېر حساس بیان دی. الله تعالی دا ژمنه لا کلکه کړې ده او ویلي یې دي چې د دې کتاب یانې قران په مرسته مېدین بشپړ کړ. پیغام بشپړ شو، او پر رسول نازل شو، چې بیا نیغ په نیغه لیکوالانو ولیکه، او د محمد ص پر اړه د وروستي نبي کیدو اعلان وشو. د الله تعالی د یووالي د عام کیدو لپاره د (نبوت د پای ته رسیدو اعلان) اړین و. قرانکریم وروستی پیغام دی چې انساني نسل ته په باقاعده توګه رسیدلی دی. له دې وروسته هیچا ته دا اجازه نه شته چې ځان ته د الله تعالیرسول ووایي. دا اعلان د پیغام د ساتنې لپاره هم دی.نو ځکه په څرګنده توګه ویل شوي دي چې محمد ص د انبیاؤ پای ته رسونکی دی.او د نبیانو (خاتم ) دی.(۲۹۸) کټ مټ هغسې لکه منوږ چېیو لیک ولیکو یا لاسوند جوړ کړو او په پای کې یې مهر ولګوو، نو له دې څخه دا څرګندیږي چې

الف: پیغام پای ته ورسیده.

ب: دا خوندي دی.

ج: د هیڅ زیاتونې ځای په کې نه شته.

## د الله تعالی د خبرتیاوو او ضمانتونو ژمنه:

لکه مخکې مو چې وویل په ټول قرانکریم کې د الله تعالی له لوري ورکړل شوې

باورونه داسې دي چې د نوې زمانې د تړونونو د قانون له مخې ورته رپریزنټیشن او وارنټیز یا خبرونه او ضمانتونه ویل شو. د دې خبرتیاوو او ضمانتونو په منلو سره انعامونه او ګټې لاسته راتلیشي.

قرانکریم د د تړونونو د کتاب په توګه د الله تعالسی له لورې د شویو ژمنو پر اړه ضمانتونو نه ډک دی، چې هغه ژمنې به بشپړوي چې په قرانکریم کې یې یادونه شوې ده.په قرانکریم د الله تعالی د وړتیاوو او ځواک تفصیلي یادونه شوې ده. ټول قران کریم د الله تعالی په درځنو نومونو پیژاندل کیږي. د هغه هر نوم د هغه د صفتونو او په ټولیزه توګه د هغه اړوند افعالو او ځواکونو جلا جلا استاځولي کوي. یو څو نومونه یې دا دي:

**السمیع، البصیر، الواسع، المحیط، علام الغیوب، الشاکر، البر، التواب، الرؤوف، اولي، المولی، الرب، الخآلق، القدیر، النصیر، الغني، الحمید، المجید** او نور.

## د جزا د ورځې د راتلو ژمنه:

د قرانکریم په مرسته مسلمانان او کافران خبر کړل شوي دي چې قیامت به یوه ورځ راځي. چې په دې نړۍ کې به انساني نسل پای ته



رسوي. او په پایله کې به خلک جنت ته بوځي، اه له بده مرغه بدکاران به دوزخ ته بوځي.

قیامت به په راتلونکي کې کله راځي؟ اوسمهال خو د الله تعالی له لوري په قرانکریم کې د قیامت راتلل یو خبرداری دی. او په دې ډول سره د یوې ژمنې دوه ګونی حالت خپلوي. دا په دې حقیقت پورې تړلې ده چې دا پړاو به په راتلونکي کې یو وخت پیښیږي. او پر مسلمانانو لازم دي چې د دېراتګ د خپل ایمان د لازمي برخې په توګه ومني، او په خپل ژوند کې ورته تیاری او چمتووالی ونیسي. دا د الله تعالی لپاره یوه مهمه پیښه ده، او هغه غواړي چې مسلمانان او کافر هم ورته په همدې سترګه وګوري. هغه د حشر د ورځې پر اړه اعلان یو مهم کار ګڼي. او داسې پیښه یې بولي چې ژمنه یې په تخلیق کړیو انسانانو کې له هر یوه سره کړې ده. د همدې له امله په قرانکریم کې په ګڼ شمیر ځایونو کې د جزا ورځې ته د ژمنې یا وعدې ورځ هم ویل شوي دي.(۲۹۹)

یا هغه ورځ چې الله تعالی به په کې خپله ژمنه پوره کوي. دا ورځ د دې لپاره هم مهمه ده چې د الله تعالی او ابلیس ترمنځ د ادم ع د تخلیق پرمهال شوی تړون په کې پای ته رسیږي.

* ...... * ...... * ...... *

پنځم باب:

# قراني ترونونه: نوربحث

پر ګڼ شمیر ترونونو له خبرواترو کولو وروسته یو څو اړوندې نکتې داسې هم شته چې غور غواړي. په دې برخه کې پر هماغو نکتو لنډې خبرې کوو.

## د قران کریم نښې یا ایتونه:

مهمو او پیچلو ترونونو پورې اړوند (ماسټر کنټرکټ)(۳۰۰) اصلي ترون سره کله کله ځینې لاسوندونه یا ضمیمې هم ملګرې وي. چې تخنیکي تفصیلات په کې وي. او د مرکزي ترون د مادو یا برخو روڼاوی کوي. په ځینو حالاتو کې دې ته ایګزیبیټس یا انیکسچرز( نښې او ایتونه) یا اضافي ثبوتونه ویل کیږي،(۳۰۱)( په عربي ژبه دې ته ایت وايي، چې په پښتو کېورته نښه ویلی شو. ژباړنه) ایتونه هم ورته ویل کیږي. هسې هم د قرانکریم پر ژبه د ایت مانا جمله یا فقره نه ده، بلکې نښه، ثبوت یا ایګزیبیشن دی.

لکه څنګه چې مونږ په دې څیړنه کې ګورو چې قرانکریم یو مهم ترون دی، او له مسلمان او غیر مسلم سره په پراخه توګه اړوند شرطونه بیانوي، د الله تعالی د ځواک پر اړه اعلانونه هم په کې شته. نو د یادو موادو او استاځولیو د څرګندونې او ټینګار لپاره الله تعالی په قرانکریم کې په بیلابیلو ځایونو کې د ځینو خلکو، موادو او مخلوقاتو



حواله ورکوي. او دا دعوه کوي چې هغه د دې ټولو څښتن دی. هم هغه د دوی بنې او وړتیاوې پیدا کړې او جوړې کړې دي.

په حقیقت کې دا ټول د نښو او انیکسچرونو په توګه کار کوي. چېد الله تعالی له لورې د دې ټولیزو ځواکونو پر اړه شوې وعدې او د هغه د استاځو تائید او تصدیق کوي. که دې ثبوتونو ته په غور وکتلی شي، چې په دې کې هر یو څنګه رامنځته شو، نو پر اړه یې تفصیلات، معلومات او ډیټا روښانه کیږي. دا هر یو په قرانکریم د یوه ثبوت او نښې په توګه وړاندې شوی دی.(۳۰۲) د اوسني قانون د اصولو له مخې هم ضمیمه د بنسټیز لاسوند د لازمي برخې په توګه منل شوې ده. نو له دې کبله دا خبره بیخي سمه او د استدلال وړ ده چې د اوسني مهال د ایګزیبیټس پرحقایقو ولاړو تفصیلاتو په پام کې نیولو سره دا نښې د قرانکریم د مانا په توګه ولوستل شي. د دې نښو ډیټا یا معلومات له هرې ورځې سره خپریږي، څکه چې ډیره څیړنه د حیرانونکو تخنیکي تفصیلاتو په پیدا کولو کې مرسته کوي.

په دې مقاله کې د دې ضمیمو بشپړه پیژانده او لیک لړ ناشونی دی.، نو څکه مونږ دا چاره بل وخت ته پریږدو. خو په دې ضمیمو او ایتونو کې، انسان، وخت یا مهال، قرآني ایتونه، سنت او حدیث، مادي څیزونه، ژوندي مخلوقات ، ستوري، سیارې او نور راتللی شي.

## د تړونونو پلي کول:

د دې څېړنې مرکزي نظریه دا ده چې قرانکریم ته د یوه تړون د لاسوند په سترګه کتل کیږي، او هرکلی یې کیږي، چې مسلمان یې مني او غیر مسلم ته د یوه خپلواک ووړاندیز په توګه د لاسرسي وړ دی. د نوې زمانې د قانون کې د یوې ژمنې یا رسمي تړون د محدود تعریف له مخې په ترجیحي توګه یوه ژمنه د عدالتي، انتظامي یا بلې لارې چارې په مرسته پلې کیږي. اوس پوښتنه دا پیدا کیږي چې ایا د قرانکریم د داډول انفرادي او ځانګړو تړونونو پر اړه د پلي کولو کوم کاري چوکاټ شته؟ ځواب یې هو دی. قران کریم د مسلمانانو لپاره د ژوند د یو بشپړ قانون، یا د ټولنیز ژوند لپاره د یو قانوني تړون په توګه ځان وړاندې کوي. په دې رضاکارانه عنصر شتون لري، چېښايي د قران کریم د نفاذ او پلي کولو ترټولو اغیزناکه بڼه وي. بله دا چې د انعام لاسته راوړلو هڅونه او ترغیب دا رضاکارانه جذبه لا پیاوړې کوي. له یوه مسلمان څخه هیله کیږي چې هغه د تړون پر کتاب په بشپړ باور سره ایمان راوړي، نه د کوم زور له مخې. کله چې یو مسلمان د قرانکریم د لارښوونو سره سم په خپل مسئولیت ادا کولو کې پاتې راځي، لکه د لمانځه یا روژې پرېښودل، نو خبرداری ورکول کیږي چې په اخرت کې به له څه ډول سزا سره مخ کیږي. دغه ډول په اخرت کې له عذابونو او سزاګانو څخه د ژغورنې په موخه مسلمان د قرانکریم پر احکامو تعمیل ته اړ کیږي. قرانکریم په خپله وایي چې مسلمانانو ته د تړون د درناوي په موخه



رنګارنګ نصیحتونه کوي. او په دې لړ کې یې کله کله له دنیوي مصیبتونو سره هم مخامخ کوي. چې دا چاره انتباهي یا د خبرداري بڼه لري. او موخه یې له سمې پولې څخه اوښتي مسلمان ته خبرداری ورکول دي، چې ځان سمولو ته یې پام شي.(۳۰۳)

الله تعالی دا معلوموي چې مونږ په خپله خوښه په قرانکریم کې د شویولارښوونو لکه لمونځ روژې یا صدقې پابندۍ ته څومره چمتو یو؟ که مونږ د حکومت یا پولیسو یا بلې کومې چارواکې ډلې له لوري د لمانځه کولو ته اړ شو، نو په رضاکارانه ډول د ژمنې د پلي کولو ټول فکر او مرکزي خیال به له منځه لاړشي. بیا به په کې غور او فکر د الله تعالی د مینې او خوښۍ لپاره نه وي، بلکې د چارواکو له ویرې به وي.

په سیاسي ساینس کې د قانون په تعریف کې رضاکارانه عنصر شامل دی. او ډېر شمیر خلک یې تعمیل کوي. مونږ وینو چې ډېری هغو مسلمانانو تړون یې منلی دی، د همدې جذبې له مخې د قراني ژمنې د اړوندو تړونونو او مادو تعمیل په راضاکارانه ډول کړی دی. سربېره پر دې په هر تړون کې د نیک نیتۍ یا (ګوډ فیت) عنصر هم یوه مهمه برخه وي.

د مسلمان زړه ته دا پوښتنه راتلی شي، چې ولې له الله تعالی په څیر لویې هستۍ سره ژمنه ترسره کړي؟

لومړی دا چې د قراني ژمنې له مخېغه مسئولیتونه چې الله تعالیپر خپله غاړه اخیستي دي، بې له خنډه اداکوي. یو ځل چې مونږ د

قران ژمنه ومنو، نو په باوري توګه د الله تعالی د کلام ځواک هم وینو او منو یې. بیا هم د کوم شک، یا دې فکر په درلودلو سره چې مونږ ډیر حقدار یو، نو مونږ ته حق راکول شوی دی، چې نیغ په نیغه تر هغه پورې ځان ورسوو، خپل دریځ ورته وړاندې کړو او غوښتنه ترې وکړو،( دعا ترې وغواړو) الله تعالی نه یوازې دا چې د هغې ژمنې یو لوری دی، چې له مونږ هر یوه سره یې کړې ده، بلکې له دې سره سره یو لوی عادل هم دی. د قیامت پر ورځ به د استغاثې یا مطالبې مشري هم کوي،( دا یو دوه ګونی رول دی چې په اوسمهالیزو حکومتونو یې هم ځینې قاضیان پر مخ بیايي)(۳۰٤) سربیره پر دې الله تعالی د خپلو ژمنو لپاره د ضامن رول هم لوبوي، او د خپل کلام د درناوي لپاره خپله رضامندي او خوښه کلکوي، او په څرګنده توګه دا روښانه کوي چې الله تعالی هیڅکله خپله وعده او ژمنه نه ماتوي.

## د رسۍ ژمنه:

رسۍ (العروة الوثقی، حبل الله)( ۳۰۵) الله تعالی په قرانمجید کې دا څرګندونکې نښه د دې لپاره کارولې چې مسلمانانو ته په اغیزناکه توګه ووايي چې پر خپلو قراني تړونونو ولاړ پاتې شئ. ځکه چې دا د مسلمان او الله تعالی تر منځ یو تړاو ګرځیدلی دی.(۳۰٦) د رسۍ د بیلګې کارونه د بصیرت له مخې تر ټولو ژوره او له مانا ډکه بیلګه ده. چې دا ترې څرګندیږي چې کله چې قران ومنل شي، نو د الله تعالی او زما او ستا ترمنځ یوه نیغ په نیغه ژمنه رامنځته کیږي. د رسۍ یو سر د مسلمان په لاس کې دی او بل سر یې له الله تعالی سره دی.(۳۰۷) یاده تشبیه د قراني ژمنې د پلي کیدو د باورمندۍ ځانګړتیا څرګندوي. نو باید چې اهل ایمان د تړون په پلي کیدو کې د شک ښکار نه شي. دا د رسۍ د نیونکو دواړو لوریو تر منځ د نیغ په نیغه اړیکو او قاعدو استاځولي هم کوي. دا انساني لوري ته د له خپل خالق سره د پرله پسې اړیکو باور ورکوي. باید څرګنده شي چې پر تړون د عمل کولو د څرګندتیا لپاره تر رسۍ غوره تشبیه نه موندل کیږي. اوسمهال د دې لپاره د ګوډ فیت ( نیک نیتۍ) اصطلاح کارول کیږي. او د تړونونو په چارو کې د پکټا سنټ سروینډا(۳۰۸) یا (هغه قراردادونه چې په شخصي توګه د څو کسانو تر منځ د دیني او اخلاقي چارو پر اړه لاسلیک کیږي. ویکیپیډیا) اصطلاح هم دود ده.

د قرانکریم د منونکو تر منځ یوه ځانګړې اړیکه وي. نو په دې توګه قرانکریم د ټولې نړۍ د مسلمانانو لپاره نو نړیوال تړون ګرځي. چې خپل منوکي او پیروان د یوه ځواکمن ټولې په توګه وړاندې کوي. هر مسلمان د قرانکریم رسۍ ښه ټینګه نیولې ده. یاده دې وي چې د قرانکریم د نازلیدو پر مهال هیڅ قوم او قبیلې سره آیین یا دې ورته کوم لیکلی لاسوند نه و، چې د قوم په ښه دې یې منلو ته اړ وي. قرانکریم داسې ژمنه وګرځیده چې د محمد ص پیروانو او منونکو ته

يې د اهل کتابو په څېر د راڅرګندېدو بنسټ جوړ کړ. دا اصطلاح قانوني حيثيت لري. او قرانکريم د داسې لاسوند په توګه وړاندې کوي چې هر قوم له ځمکني ويش پرته د تړون برخه ګرځوي، او استحکام يې باوري کوي. اوسمهال هم سره له دې چې مسلمانان په ښکاره سره په يوپنځوس هيوادونو کې ويشل شوي دي، خو د ټولو تر منځ قرانکريم د يو نړيوال او بين الاقوامی تړون په توګه منل شوی دی.

## ايا تړونونه د الله تعالی واک محدودولی شي؟

څرګنده دې وي چې د الله تعالی ازاده پريکړه کول، ځواک او صفات په هر حال کې قائم او دايم دي. که هر څه وشي. هغه يو بشپړ خپلواک چارواکی دی. او دومره واک هم لري چې له هر چا سره خپل کړی تړون بيرته له منځه يوسي.په اصولي توګه دا تړونونه د هر ډول پريکړې کولو لپاره د هغه خپلواکه وړتيا نه محدودوي او نه يې محدودولی شي. بيا هم له مسلمان سره د بيلابيلو کړيو ژمنو پر اړه پخپله خوښه پر خپل واک ځواک کې ځيني محدوديتونه ټاکي. د بيلګې په توګه که کوم مسلمان سخي وي، او صدقه کوي، نو الله تعالی ورته د اجر ورکولو اقرار کړی دی. (۳۰۹) دغه ښان که کوم مومن د بخښنې ژمنه کوي، نو الله تعالی خپل ځان د بخښنې د ژمنې پوره کولو ته اړ کړی دی. (۳۱۰) نو د همدې له کبله پر هغو قراني تړونونو پوهيدل چې الله تعالی په کې خپل ځان د يوه لوري په توګه ورګډ کړی دی، په اصل کې د هغو قوانينو پوهاوی دی چې هغه له خپل مخلوق سره د اړيکو د انتظام لپاره ټاکلي دي.



**د دې مطالعې ګټه:**

په دې څېړنه کې بيلابيل اړخونه په نښه شوي دي. چې په مرسته يې الله تعالی له مسلمانانو او غير مسلمو دواړو لوريو سره اړيکه ټينګوي، او دا چې څه ډول هره اړيکه د يوې بيلې قانوني اړيکې او انتظام په توګه پيژاندل کيږي. له مسلمان څخه هيله کيږي، چې په خپله کړنلاره کې د ازادۍ او خوښې له مخې اصلاح باوري کړي. چې پر بنسټ يې نيغ به نيغه د الله تعالی پر وړاندې ځواب ويونکی دی.

دا څيړنه چې له مسلمانانو سره د کومو شخصي تړونونه جوتوي، سره له دې چې دا تړونونه انفرادي دي، خو پلې کيدنه يې ژورې ټولنيزې پايلې رامنځته کولی شي. د بيلګې په توګه د انسانانو د وقار ساتنې ژمنې( کووينټ ټو اب هولډ ده ډيګنيټي اف هيومنز) له مخې هيله کيږي، چې هيڅ ډول نامستند معلومات بايد خپاره نه شي.دا ناسم کار دی، او د نوي قانون له مخې دا کار غندل کيږي. او په اوسمهال کې د دې يوه مانا داهم کيدی شي چې تړون ته د ژمن مسلمان له لوري په ټولنيز چوکاټ کې د پيغامونو په ناتصديق شوي ترسيل او رسونې باندې بشپړ بنديز ولګول شي.

له ناراضه ښځې او سړي سره د تړون (کووننټ ويد ايچ انګري مين اينډ وومين) له مخې الله تعالی د صبر په پايله کې د اجر ژمنه کوي، او په دې ډول سره مسلمان له دې څخه ايساروي چې قانون په خپل لاس کې واخلي. بې سوچ او فکره په هر ډول شخړه کې هر ډول انتقامي

چاره په هر ډول چې وي، د قانون د سرغړونې لامل کيږي. په دې توګه د ترونو دا کاري چوکاټ د دوستانو، خپلوانو ان تر دې چې د پرديو تر منځ په کار ځای کې د اړيکو د خرابيدو د مخنيوي هڅونه کوي.

له رضاکاره دريمګړي سره ژمنه(کوونټ ويد وولنټري اربيټريټرز) په پيلز پړاو کې د شخړې د له منځه وړلو هڅونه کوي. دا بخښنه د بدلې ژمنه بشپړوي. خلک پرمختګ او د ناخوښې چارې له ياده ايستلو ته هڅوي. که خلک پر دې ژمنه عمل وکړي نو رسمي قانوني چارې به تر ډيرې کچې راکمې کړي. او په ډيری هيوادونو کې به په لکونو قضيې لرې او له منځه يوسي.

د باور ژمنه (کوونټ اف ټرسټ) پر داسې کس د مسئليت بار اچوي چې باور پرې کيدی شي. بيا دا د هغه فريضه ګرځي چې د باور ساتنه وکړي. په باوري توګه به دا ژمنه پر هغو خلکو اغيز وکړي، چې ليږد راليږد او توکو د رسولو دنده پر غاړه لري. او پر کوم خلکو چې د قانون جوړونې په لړ کې باور وشي، نو بايد چې د بيلابيلو انتظامي کارونو د سرته رسولو په موخه د باور وړ خلک وګوماري. هغه به د خپل مصلحت او چارواکو په کارولو سره په هر کار کې يو قراني لوری ومومي.

د کاروباري خلکو ژمنه(کوونټ اف انټرپرينيرز) به يو مسلمان د کاروبار سمو لارو چارو، د ارزونکو ادارو د قواعدو تعميل او کاروبار ته اړوندو ټولو چارو منصفانه سرته رسولو ته اړ کړي.



د مشورې ژمنه (کوونټ اف کانسولټيشن) به د ټولنې پر اړه په هر سطح د ګټورو پايلو درلودونکې وي.د پريکړې کولو هر واکلرونکی کس به په هغه څه خوښي ښکاره کوي چې پر دې اړه پرې ټول يوه خوله وي. سره له دې چې د سخاوت ژمنه( کوونټ اف جنيروسيټي) هغه کس د ځانګړو انعامونو وړ ګرځوي چې په پراخ زړه لګښت کوي، خو د دې په پايله کې مالي مرسته، د خيريه چارو پانګونه، او اړو کسانو ته د زده کړې اسانتيا برابرولو غوندې ټولنيزې ګټې هم رامنځته کيږي. د قانون د واکمنۍ ژمنه(کوونټ اف فالو ده رول اف لاء) خلک په خپله خوښه دې ته مجبوروي چې خپلې کړنلارې له اوسمهالسزو ځمکنيو قوانينو سره هم غږې کړي. هغوی نورو ته د نيک عمل د نصيحت ژمنه( کوونټ اف کازل ادرز ټو ډو ګوډ ډيډز) ځواکمنوي، چې له ملګرو، خپلوانواو دوستانو سره له هغو ناسمو کارونو څخه په راګرځولو کې مرسته کوي. چې د قانون له مخې جرمونه هم دي. دا ټول هغه ترونونه دي چې په يوځای کيدو سره يې هر حکومت ته په منظمه طريقه سره د چارو د پر مخ بيولو لپاره يو کاري چوکاټ چمتو کوي. د ټولنيز اغيز درلودونکې هر ترون په درناوي پاتې راتګ په نظم وضبط کې د خرابي او فساد لامل ګرځيدلی شي. او الله تعالی د فساد له منځه وړل غواړي. که د ترون کاري چوکاټ په سمه توګه وپيژاندل شي، نو ټولنيزه همغږي رامنځته کيږي، او د شخړو د مخنيوي لامل ګرځي. او په دې سره به د هرې ټولنې يا هيواد د جوړې

شوې انتظامي اډانې رضاکارانه تعمیل وشي.

بل د دې موخه دا هم ده چې مونږ چې په ورځني ژوند کې کومې ژمنې او ترونه په باقاعده رسمي ډول یا هسې د خپل ژوند د روټین په توګه کوو، باید دهغې ټولو درناوی وشي. ځکه چې قرانکریم مونږ ته د هغې د ساتنې لارښوونه کوي. دا خبره هم په پام کې ساتل په کار دي چې سره له دې چې غیرمسلم خلکو قرانکریم د ترون په توګه یا همداسې نه دی منلی، او د منلو وړاندیز یې هر وخت په لاس کې شته، خو بیا هم قرانکریم قرانکریم د دوی د حقونو د ساتنې لارښوونه کوي.

هغه حکموتونه چې مسلمانان په کې اوسیږي، د هغې ځای قوانین هم د قانون جوړونې ترونونه دي، نو ځکه د هغې د نه منلو لپاره دا عذر نه منل کیږي چې دا قوانین د شریعت یا قرانکریم له مخې نه دي جوړ شوي، مسلمان لپاره اړینه ده چې بر دا ډول قوانینو عمل وکړي، خو که کوم قانون د قرانکریم د کوم ځانګړي ایت یا له کوم حدیث سره په ټکر کې وي، نوبیا ترې انکار کولیشي.

## لنډیز:

نیغ په نیغه میثاق یا دې ترونونو ته په یو وخت کې د الله تعالی د قوانینو او لارښوونو په بڼه هم کتلی شو. خو دا چې د دې مسئولیتونو اداکولو په پایله کې د انعام ژمنه یا عنصر شتون لري، نو د یوه ترون



رول هم خپلوي. پایله دا شوه چې د ترون کاري چوکاټ د قرانکریم د بنسټیزې جوړښتیز ې ځانګړتیا له ډلې د یوې په ډول راڅرګندیږي. دا ښې پایلې هملري، د مسلمان لپاره د خالق له لوري نیغ په نیغه ژمنه د ډاډ لامل ګرځي. دا څیړنه ټولنه، حکومت او نړیواله وروګلوي په دې باوري کوي، چې یو مسلمان یواځې د دې له امله کوم دنیوي قانون نه شي رد کولی چې دا دنیوي قانون دی، تر څو چې د قرانکریم له کوم ایت یا له کوم حدیث سره ضد نه وي. دغه راز ټولې عملي موخې په پام کې نیول کیږي او د دې چارې دا ګټه هم رامخې ته کیږي، د دې په مرسته د ټولو ملکي، نړیوالو او الهي قوانینو تر منځ همغږي پیداکیږي.

پای

## د کتاب وروستۍ پښتۍ

لیکوال

احمر بلال صوفي د سهسلي اسیا مشهور نړیوال وکیل او د پاکستان د قانون پخوانی وفاقي وزیر دی. او اوس د پاریس د( دریمګړي لپاره نړیوال عدالت) غړی دی. د انصاف په نړیواله محکمه او نورو نړیوالو عدالتي چوکاټونو یې استاځولي کړې ده. څو کاله یې په بنجاب پوهنتون کې نړیوال قانون تدریس کړی دی. او په ټوله نړۍ کې یې پر دې اړه لیکچرونه ورکړي دي. د نړیوال قانون په چارو کې ورسره د (او آیي سي) جنرال سکرتر مشورې کوي. هغه د یوه مشهور فکري بنسټ( ریسرچ سوسایټي اف انټرنشنل لاء) بنسټ ایښی دی. چې د نړیوال قانون د پوهاوي د اړتیا لپاره کار کوي، د نړیوال قانون د بیلابیلو اړخونو اړوند لیکچرونه یې په ګڼو کتابي بڼو هم خپاره شوي دي، چې د لیوالو کسانو لپاره ډیر ګټور دي.

د احمر بلال صوفي دا کتاب قراني معاهدات پر اړوند موضوع یو بیخي نوی کار دی. چې مونږ اردو کړی دی. هغه غواړي چې پر دې اړه په راتلونکي کې نور کار هم وکړي. د همدې لپاره هغه د (د قراني تړونونو لپاره د څېړنو مرکز) په نوم د یومرکز د بنسټ ډبره هم ایښې ده.

**اداره:**

د مذهبي چارو لپاره د څېړنو نړیواله شوری یوه غیر سیاسي، او



ناحکومتي اداره او فکري بنسټ دی چې د شخړو او د هغوی د هواري په ګډون، د ټولنیزې همغږۍ، امنیت، ولسواکۍ، انساني حقونو او مذهبي سپارښتنو په مرسته نړیوالو امنیتي اړیکو د پیاوړتیا په موخه کار کوي. دې ادارې په مسلمانه نړۍ کې د ولسواکۍ، دیني ازادۍ او لږکیو د چارو پر اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

دې ادارې د دیني مشرانو په ځانګړې توګه علماء کرامو لپاره د مشرۍ، ولسواکۍ، قانون جوړونې او پر نړیوالو قوانینو او تړونونو د بحث لپاره له نامتو پوهانو سره غونډې جوړې کړي دي. په دې غونډه کې غوره عالم، او د نړیوال قانون قانون پوه د پاکستان د قانون پخواني وزیر احمربلال صوفي هم وینا کړې ده. اوس هغه د قرانکریم د قانوني کاري چوکاټ له لیدلوري د الله تعالی او انسان ترمنځ د اړیکو زاویي نومی په ډیره ښه بڼه په انګلیسي ژبه کې خپور کړی دی. تر لاس لاندې کتاب (قراني معاهدات) د مذهبي چارو لپاره د څېړنو نړیوالې شورا د اداراتي ټیم غړي شفیق منصور صیب له خوا اردو ژبې ته ژباړل شوی دی، او ستاسو په چوپړ کې دی.

# حاشيې

۱: د ازادۍ فیلوشیپ ورکشاپ، د مذهبي چارو لپاره د بین المللي څیړنو شورى (۲۰۲۳)

**2: quranic covenants; anintroduction- ahmer bilal soofi**

**3: quranic covenants; anintroduction- ahmer bilal soofi**

**4: joseph E B Lumbard {covenant and covenants in the Quran}journal of Quran studies 17;2(2015) 1- 23**

۵: پر دې له ۲۰۲۱ کال څخه کار روان دی او په روان کال کې يې د پای ته رسيدو هيله شته.

۶: سټنډرډ فارم کنټرکټس: په عمومي توګه له مخکې شوې ژمنه، چې ټولې برخې يې څرګندې وي. چې په کاروبار يا صنعت کې د يوه ځانګړي حالت له مخې په کې په ځينو برخو کې لاسوهنه کيږي.او بيا بيا کارول کيږي. ايس ټي پاول ام ان : توماس رويټرز ۲۰۱۹

۷: د امر او مامور اړيکه: د دوو کسانو ترمنځ اړيکه چې يو د مامور او بل د امر چوپړتياوې تر سره کوي. په بنسټيزه توګه په دې کې د کرايه لرونکي يا دريم کس تر منځ نوې قانوني اړيکې تشکيل مومي.ايس ټي پاول ام ان : توماس رويټرز ۲۰۱۹

۸: وارنټي يوه څرګنده يا غير اعلانيه ژمنه ده چې د تړون د پر مخ بيولو په ترځ کې د يو څيز د ضمانت بڼه غوره کوي. د بيلګې په توګه که يو څوک يو څيز پلوري نو ژمنه کوي چې په دې څيز کې د ځينو يا ټولو برخو ضمانت ورسره دی.

**9:browning v jhonson 70wn 2d 145 1967**

۱۰: تر دې چې نوي تړونونه هم پراخه تعريف لري. او په هغې کې د تړونونو بيلابيل نومونه لکه کنونشن، پوټوکول او نور له پامه غورځول کيږي.او د



حکومتونو ترمنځ په کيدونکو اصولو او برخو پام متمرکز کيږي. په ۱۹۶۹ کال کې د ويانا کنونشن ان لاء اف ټريټيز ارټيکل د تړون تعريف داسې کوي.( هغه بين المللي ژمنه چې د دوو حکمتونو تر منځ په ليکلې بڼه يو يا څو شرطونه او برخې درلورونکې، او د بين المللي قوانينو تر چتر لاندې وي، تړون بلل کيږي.

**11: RTS flexible system vmolkerei alois muler gmbh {2010} UKSC14 UK Supreme Court contract by conduct: lord Clarke PR 45-56 89**

۱۲: النحل ۹۱ ايت، الرعد ۲۰، الانعام ۱۵۲ ايت

۱۳: الجاثيه ۱۸ ايت

**14: Mohammad Khalid Masud, Sharia Today: Essays to contemporary issues and debates in Muslim societies (Islamabad: National book foundations 2013), pp.69-77**

۱۵: شاه ولی الله الفوز الکبير

۱۶: الروم ٦ ايت الانفال ۱۱۱ ايت

۱۷: د معياري شرايطو تړونونو ته سټنډرډ فارم کنټرکټس هم وايي. دا په تيره پيړۍ کې د تړونونو په قانون کې ومنل شو. په دې کې يو اړخ ټول تړون چمتو کوي او په ليکلې بڼه يې تياروي. او د ( واخله يا پريږده) په شرط يې بل لوري ته وړاندې کوي. نو که څوک پر قران کريم د يوه تړون په بڼه دا نيوکه کوي چې مقابل لوري ته په کې د خبرواترو چانس نه دی ورکړل شوی، نو هغوی ته دا ويل اړين دي چې د اوس زمانې د عصري تړونونو راکړه ورکړه چې معياري شرائط يې مخکې له مخکې چمتو شوي وي، ولې د منلو وړ ده؟ بيلګې په توګه وګورئ:

د بين المللي سوداګرۍ د تړونونو ان ډرويټس سيکشن ۲.۱.۱۹ چې د معيارې

شرائطو د تړون قانوني بنسټ جوړوي.

١٨: الفتح ١٠ ايت، بني اسراييل ٣٤ ايت او التوبه ٤ ايت

١٩: البقره ١٨٤ ايت

٢٠: المعارج ٣٢ ايت المؤمنون ٨ ايت او ال عمران ٧٦ ايت

٢١: بني اسراييل ٣٤ ايت النحل ١٩ ايت

**22: Jamshed A. Hamid, status of Treaties in Islam (Islamabad:Shariah Academy, 2001), 105.**

**23: Jamshed A. Hamid, Status of Treaties in Islam (Islamabad : Shariah Academy, 2001) ,109**

**24: Pakistan Law Decisions, 1987 SC (Shariat Appellate Bench) 3, 4**

**25: Pakistan Law Decisions, 1987 SC (Shariat Appellate Bench) 3, 4**

**26: Muhammad Ibn Al-Hasan Al- Shaybani, Kitab Al-Siyar Al- Saghir(Islamabad Islamic Research Institute 1998)**

**27: Muhammad Ibn Al-Hasan Al- Shaybani, Kitab Al-Siyar Al- Saghir(Islamabad Islamic Research Institute 1998)**

٢٨:يوه بيلګه (ميثاق مدينه )ده. رسول الله ص دا تړون مديني ته له مكې څخه د لومړنيو مسلمانانو له هجرت سره سم كړى و. دا تړون د مسلمانانو، يهودو او نورو هغو غير مسلمو عربو قبيلو تر منځ شوى و، چې په مدينه كې ميشتې وې.

٢٩: له قريشو سره د حديبې د سولې تړون. دا په مدينه كې د جګړمت د مشر نبي كريم ص او مكې قريشو ترمنځ شوى تړون و.

٣٠: البقره ٢٠١ او ٢٠٢



٣١: لقمان ٨، طه ١٣٢، النحل ١٢١، او ١٢٢، ال عمران ١٤٧ او ١٤٨ او الانعام ٤٧

٣٢: المؤمن ٦٠

٣٣: المؤمن ٦٠

٣٤: البقره ١٨٦ ايت

٣٥: البقره ١٨٦ ايت

٣٦: المؤمن ٦٠، البقره ١٨٧ ايت

٣٧: الشورى ٢٦ ايت

٣٨: المؤمن ٦٠ ايت

٣٩: المؤمن ٦٠ ايت

٤٠: النحل ٦٢ ايت

٤١: الانبياء ٨٣، ٩٤ ايت

٤٢: الانبياء ٨٧ ايت

٤٣: له ځينو احاديثو څرګنديږي چې د ځينو خلكو دعا د هغوى د بدو كړنو له امله ځنډول كيږي.

٤٤: الاعراف ١٥٦ ايت

٤٥: المائده ٩ ايت

٤٦: البروج ١٤ ايت، الملک ٢ ايت الحديد ٢٨ ايت الفتح ١٤ ايت السجده ٣٢ ايت ال عمران ٣١ ايت، البقره ١٩٩ او ٢١٨ ايتونه

٤٧: النصر ٣ ايت

٤٨ : بني اسراييل ١١٠ ايت

٤٩: الانعام ٥٤ ايت

٥٠: الزمر ٥٣ ايت، القصص ٦٧ ايت، بني اسراييل ١١٩ ايت، الاعراف ١٥٣ ايت،

الانعام ٥٤ ایت البقره ١٦٠ ایت

٥١: الحجر ٤٩ ایت الاعراف ١٥٣ ایت، المائده ٩ ایت، النساء ١٠٦ ایت

٥٢: الشوری ٢٥ ایت

٥٣ البقره ٢٠٢ ایت

٥٤: الزمر ٥٣ ایت

٥٥: طه ١٢٠ نه تر ١٢٢ ایت، البقره ٣٧ او ٥٤ ایت

٥٦: صحیح بخاری رقم الحدیث ٧٩

٥٧: حدیث: قال رسول الله ص : لما قضی الله الخلق، کبت فی کتلبه فهو عنده فوق العرش، ان رحمتي غلبت غضبي)

ژباړه: رسول الله ص فرمايي: کله چې الله تعالی د مخلوق د پیداکولو پریکړه وکړه، نو په خپل کتاب (لوح محفوظ) کې يې، چې له هغه سره پر عرش شتون لري، وليکل: زما رحمت زما پر غضب برلاسی دی. صحیح بخاري رقم الحدیث ٣١٤٩-

٥٨: الفتح ٢٥ ایت، یوسف ٥٦ ایت او التوبه ٢٧ ایت

٥٩: البقره ٣٥ ایت، الجاثیه ١٢ ایت، النحل ٧٣ ایت او المؤمنون٧٨ ایت

٦٠: الذاریات ٢٠ او ٢١ ایتونه

٦١: الاحزاب ٤١ ایت

٦٢: العنکبوت ٦٣ ایت، الفاتحه ١ ایت

٦٣: البقره ٢٧٦ ایت

٦٤: المنفقون ١٠، الحدید ٧، ١٠، ١١، او ١٨ ایتونه

٦٥: التغابن ١٦ او ١٧ ایت

٦٦: اللیل ٨، ١١، الحدید ٢٤، النساء ٣٧، آل عمران ١٨٠ ایت



٦٧: البقره، ٢٦١، ٢٦٢، ٢٧٢

٦٨: البقره ٢٦١

٦٩: الفاطر ٣٠ ایت

٧٠: الفاطر ٢٩

٧١: السباء ٣٩ البقره

٧٢: التوبه ٣٤ او ٣٥ ایتونه آل عمران ١٨٠ ایت

٧٣: البقره١٧٧

٧٤: صحیح مسلم رقم الحدیث:٤١

٤٥:بني اسراییل ١١١

٧٦: البقره ٣٠ ایت

٧٧: القدر ٥ ایت

٧٨: الانعام ١٦٥ ایت

٧٩: د سامان د خرڅلاو د قانون ملکي او نړیوال قوانین د مجاز په توګه تصور شوي دي.

٨٠: التوبه ١١١ ایت

٨١: د سامان د خرڅلاو په قانون کې د خطر یا ریسک تصور ډېر مشهور دی،
**The American Journal of comparative law 27, no. 2/3 (1979): 291-310.**

٨٢: المزمل ٩ ایت

٨٣: الاحزاب ٣، ٤٨ ایت، الفرقان ٤٣ ایت، بني اسراییل ٢، ٦٨ ایت، هود ١٢ ایت، یونس ١٠٨ ایت، الانعام ١٠٢،٦٦، ١٠٧ او ١٠٩ ایتونه، النساء ٨١ او ١٧١ ایتونه، آل عمران ١٧٣ ایت،المزمل ٨ ایت، الشوری ٦ ایت، او الزمر ٤١ او ٦٢

ایتونه.

۸۴: الاحزاب ۳ ایت

۸۵: المؤمنون ۱۲، ۱٤ ایتونه

۸٦: آل عمران ۲۰، ۳۰ او ۱۵ ایتونه

۸۷: آل عمران ۱۸۲ ایت

۸۸: ص ۱۷، ٤۱ ایتونه، مریم ۲ ایت، الکهف ۱ ایت، بني اسراییل ۱، ۳ ایت، الانعام ۸۸، ۸۹ ایتونه

۸۹: ابراهیم ۳۱ ایت

۹۰: التغابن ۱۷ ایت، الحدید ۱۱، ۱۸ ایت، البقره ۲۵٤ایت

۹۱: الحدید ۱۸ ایت

۹۲: الحدید ۱۸ ایت

۹۳: الحج ٤۰ ایت

۹٤: طه ۱۲۵، ۱۲۷ ایتونه

۹۵: البقره ٤٤ ایت

۹٦: البقره ۲۸٦ ایت

۹۷: البقره ۱۵۲ ایت

**98. zainub habib, “dhikr – remembrance of allah ,” farahat Hashmi, n.d. https://www.farhathashmi.com/articles section/remembrance/dhikr-remembrance-of-allah/ . accessed at 26th December , 2023.**

۹۹: المائده ۱۳ او ۹۳ ایتونه، آل عمران ۱۳٤ ایت، البقره ۱۹۵ ایت

۱۰۰: البقره ۲۲۲ ایت



۱۰۱: الحج ۳۸ ایت

۱۰۲: آل عمران ۳۲ ایت

۱۰۳: آل عمران ۵۷ او ۱٤۰ ایتونه

۱۰٤: النساء ۱۰۷ ایت

۱۰۵: المائده ۸۷ ایت البقره ۱۹۰ ایت

۱۰٦: آل عمران ۷٦ ایت

۱۰۷: الصف ۳ ایت

۱۰۸: آل عمران ۱٤٦

۱۰۹: آل عمران ۱۵۹ ایت

۱۱۰: الاعراف ۱۷ ایت

۱۱۱: حم السجده ۳٦ ایت

۱۱۲: حم السجده ۳٦ ایت

۱۱۳: سورت الفلق او سورت الناس

۱۱٤: البقره ٦۲ ایت

۱۱۵: النساء ۱۵۲ ایت

۱۱٦: البقره ۲٦۲ ایت

۱۱۷: الجمعه ٤ ایت

۱۱۸: المائده ۹ ایت

۱۱۹: الکهف ۳۰ ایت، یوسف۵٦ ایت، الاعراف ۱۷۰ ایت

۱۲۰: النازعات ۱۹ ایت، طه ۲ او۳ ایت ابراهیم ۱٤ ایت او الانفال ۲ ایت

۱۲۱: الانشقاق ۲۵ ایت

۱۲۲: التین ٦ ایت

۱۲۳: البيينة ۸ ايت

۱۲٤: صحيح مسلم رقم الحديث۷۹

۱۲۵: حم السجده ۱٦ ايت

۱۲٦: الزمر ۲٦ ايت

۱۲۷: القمر ۳۰ ايت او الفاطر ۲٦ ايت

۱۲۸: النساء ۱۰۲ ايت

۱۲۹: الفرقان ٦۹ ايت الاعراف ۳۸ ايت

۱۳۰: العنکبوت ۲ ايت

۱۳۱: البقره ۱۵۵ ايت

۱۳۲: البقره ۱۵۷ او ۱۵۵ ايتونه

۱۳۳: البقره ۱۵۷ ايت

۱۳٤: الطلاق ۷ ايت

۱۳۵: الم نشرح ۵ او ٦ ايت

۱۳٦: الم نشرح ۵ او ٦ ايت

۱۳۷: طه ٤۰ ايت

۱۳۸: مريم ۵۹ ايت

۱۳۹: البقره ۱۵۲ ايت

۱٤۰: البقره ۱۵۲ ايت

۱٤۱: البقره ۲۱٤ ايت

۱٤۲: الشورى ۳٦ او ۳۷ ايتونه الزمر ۱۰ ايت

۱٤۳: الشورى ۳۹ او ٤۰ ايت الحج ٦۰ ايت او النحل ۱۲٦ ايت

۱٤٤: الزمر ۱۰ ايت



۱٤۵: الشورى ٤۳ ايت النحل ۱۲٦ ايت

۱٤٦: الروم ۲۱ ايت النحل ۷۲ ايت

**147: 6 Anderson, Jane. "The impact off family structure on the health of children Effects of divorce." The Linacre Quarterly 1:4 (2014): 378-387**

۱٤۸: الاحزاب ۳٦ ايت

۱٤۹: النساء ۳٤ ايت

۱۵۰: الفاطر ۲۸ ايت

۱۵۱: خطبات مولانا مودودي ۳۲ تر ۳۵ پورې

**152: sayed ameer ali the spirit of islam: a history of the evolution and ideals of islam with a life of the prophet (Lahore: sang-e-meel publications, 2012). Pp. 361.**

۱۵۳: سنن ابن ماجه رقم الحديث ۲۱۹

۱۵٤: الرعد ۳ ايت او آل عمران ۱۹۱ ايت

۱۵۵: الحج ۳ ايت او آل عمران ۱۹۰ ايت

۱۵٦: العنکبوت ۲۰ ايت

۱۵۷: النحل ٦۲ ايت

۱۵۸: المجادلة ۲۰ ايت القمان ۱۸ ايت

۱۵۹: الکهف ۲۸ ايت

۱٦۰: البقره ۲۰۰ او ۲۰۱ ايتونه

۱٦۱: الجاثيه ۱۲ ايت

۱٦۲: النحل ۹۱ او ۹۲ ايت

۱٦۳: الرحمن ۹ ايت، الشعراء۱۸۱ ايت او بني اسرايیل ۳۵ ايت

۱٦٤: نعيم بن عبدالرحمن بيان کوي چې رسول الله ص وفرمايل: د رزق نويمه

برخه له سوداګرۍ څخه لاسته راځي.

۱۶۵: تخریج الاحیاء رقم الحدیث ۱۵۸۸

۱۶۶: صحیح البخاري رقم احدیث ۲۵

۱۶۷: الاحزاب ۷۱ ایت

۱۶۸: النور ۵٤، ۵٦، او ۵۹ ایتونه

۱۶۹: النور ٦۳ او ٦٤ ایتونه

۱۷۰: الانبیاء ۱۰۷ ایت

**171: Ziad Elmarsafy, The Enlightenment Qur'an: The Politics of Translation and the Construction of Islam (London: One World Publications, 2009). Pp. 121-122 [(Chennai: Chennai Micro Print, 2011])**

۱۷۲: النساء ۵۹ ایت

۱۷۳: الاحزاب ۲۱ ایت

۱۷٤: الم نشرح ٤ ایت

۱۷۵: الانبیاء ۱۰۷ ایت

۱۷٦: یاني درود شریف

۱۷۷: حم السجدة ۵٦ ایت

۱۷۸: په هر لمانځه کې پر ابراهیم ع هم درود ویل کیږي.

۱۷۹: الحج ۲۹ ایت

۱۸۰: د داسې ځانګړیو ټکو او شرطونو یادونه چې یوه ځانګړي تړون ته ځانګړي وي. دا خالص موارد په ځانګړو حالاتو، لوازماتو او اړتیاوو کې کیږي. چې په عامو تړونونو کې نه وي.

۱۸۱: الانعام ٦۱ ایت



۱۸۲: الانعام ۵۹ ایت

۱۸۳: التوبه ۱۲۰ او ۱۲۱ ایتونه

۱۸٤: الاعراف ۱۸۵ ایت

۱۸۵: الاعراف ٤٤ ایت

۱۸٦: الحج ۷۲ ایت

۱۸۷: جنیوا کنونشن ۱۹٤۹ کال

۱۸۸: الفتح ۸ ایت

۱۸۹: الکهف ۲۹ ایت او البقره ۲۵٦ ایت

۱۹۰: التوبه ٦۸ او ۷۳ ایتونه

۱۹۱: ۷٤ او ۷۸ ایتونه

۱۹۲: البقره ۱۵، ۱۳، ۷٦ او ۷۷ ایتونه

**193:M,A,S Abdel Haleem The Qur'an ;A New Translation by M,A ,S Abdel Haleem (New York: Oxford University Press 2004) pp.xviii**

**194: Wael B Hallaq An Introduction To Islamic Law (Cambridge: Cambridge University Press, 2016) pp 16**

۱۹۵: المائده ۱۷ ایت

۱۹٦: امریکایي کوډ ۱٤٤۸

۱۹۷: بهارتي آیین ارټیکل ۵۱(ای)

۱۹۸: پاکستاني آیین ارټیکل ۵

۱۹۹: د بیلګې په توګه یونانی، مصري او هندي تهذیبونه

۲۰۰: الناس ۲ ایت

۲۰۱: الانفال ۲۷ ایت

۲۰۲: خوک چې ګټه پورته پیټې هم باید پروته کړي.

**(St. Paul MN ; Thomson Reuters ,2019)**

۲۰۳: د هر هیواد له ولکې څخه وتلې برخه لکه ژور سمندر، خلا یا انټرکټیکا.

**(St. Paul MN; Thomson Reuters ,2019)**

۲۰٤: النساء ۵۸ ایت

**205: Eggen, Nora S. "Conceptions of Trust in the Qur'an." Journal of 225,2 Qur'anic Studies (2011): 56-85**

**206:**الرعد ۲ ایت

**Kahf, Monzer. "The role of waqf in improving the ummah welfare. In International Seminar on waqf as a Private Legal Body, pp. 6-7. 2003.**

۲۰۷: الحجرات ۱۲ ایت، البقره ٦۰ ایت النساء ۳٦ ایت

۲۰۸: لقمان ۱۸ ایت

۲۰۹: الحجرات ۱۱ ایت

۲۱۰: الشعراء ۱۸۱ ایت، الکهف ۳۵ ایت او النساء ۲۹ ایت

۲۱۱: البقره ۲۸۲ او ۲۸۳ ایتونه

۲۱۲: النساء ۱۱، ۱۲ او ۱۷٦ ایتونه

۲۱۳: آل عمران ۱۳۰ ایت، البقره ۲۳۰ ایت، او البقره ۱۷۸ او ۱۷۹ ایتونه

۲۱٤:الحجرات ۱۲ ایت، النور ۲۷ ایت

۲۱۵: الشوری ۳۸ ایت آل عمران ۱۵۹ ایت

۲۱٦: بني اسراییل ۲۳ ایت البقره ۲۷۳ ایت

۲۱۷: المنافقون ۱۰ ایت، النساء ۳۷ایت او البقره ۲۷۳ ایت

۲۱۸: البقره ۱۷۷ ایت

۲۱۹: النساء ۵۹ ایت



۲۲۰: رول اف لاء: غوره دا ده چې د څواک د مقابلې په قاعده کې د برلاسو ملکې کسانو لپاره د قانون د واکمنۍ درناوی په کار دی.

۲۲۱: النساء ۵۹ ایت

۲۲۲: آل عمران ۱۰٤ ایت

۲۲۳: النساء ۵۹ ایت

۲۲٤: آل عمران ۱۰٤ایت

۲۲۵: آل عمران ۱۱۰ او ۱۱٤ ایتونه

**226: Asma Afsaruddin "Jihad | Meaning, Examples, & Use in the Quran | Britannica," in encyclopedia Britannic, 2019, https://www.britannica.com /topic/jihad. Accessed 12th December 2023**

۲۲۷: التوبه ۲۰ ایت او النساء ۹٦ ایت

**228: Surkheel Sharif, Jihaad Al-nafs: The Greater Struggle, (United Kingdom: The Jawziyyah Institute, 2006)**

۲۲۹: الصفت ۱ او ۳ ایتونه

**130:Tariq Mahmood Hashmi, A Study of Qur'anic Oaths An English Translation of Iman Fi Aqsamal-Quran by Hamid al Din Farahi (Lahore; A l- Mawind , 2009) pp. 63-68**

۲۳۱: العصر ۱ ایت، العادیات ۱ ایت، التین له ۱ څخه تر ۳ ایتونه، واضحی ۱ او ۲ ایتونه،الشمس له ۱ څخه تر ۷ ایت پورې، البلد ۱ او المدثر ۳۲ـ ۳٤ ایت

۲۳۲: الشوری ۳۸ ایت آل عمران ۱۵۹ ایت

۲۳۳: الشوری ۳۸ ایت آل عمران ۱۵۹ ایت

۲۳٤: الشوری ۳۸ ایت آل عمران ۱۵۹ ایت

۲۳۵: د مسلمانو فقهاؤ پر یوه مسئله همغږي کیدی،

**Ali, Abdullah bin Hamid. "Scholarly consensus; Ijma: between use and misuse." Journal of Islamic Law and Culture 12:2 (2010): 92-113.**

۲۳٦: الشوری ۳۸ او آل عمران ۱۵۹ ایت

۱۳۷: دریمګړی: هغه بې پرې پریکړه کونکی کس چې د دواړو اړخونو له لوري نيغ په نيغه يا باالواسطه د دريمګړتوب د ترون لپاره ټاکل شوی وي. تر څو د دواړو اړخونو د شخړې هوارولو لپاره پريکنده پريکړه وکړی شي.

۲۳۸: النساء ۱۲۸ ایت

۲۳۹: العصر ۳ ایت

۲٤۰: النحل ۱۲۵ ایت

۲٤۱: النساء ۵۷ ایت

۲٤۲: المائده ۹ ایت

۲٤۳: المائده ۹ ایت

۲٤٤: العصر ۳ ایت

۲٤۵: الحجرات ۱۱ او ۱۲ ایتونه

۲٤٦: بني اسراییل ۷۰ ایت

۲٤۷: الرحمن ۳ الحجر ۲۸ او ۲۹ ایتونه

**248: Universal Declaration of Human Rights, 194; International Covenant on Civil and Political Rights, 1966**

۲٤۹: ټول انسانان ازاد پيدا شوي دي، او په حقوقو کې مساوي دي. دوی عقل او وجدان لري، او يو بل سره بايد د وروګلوۍچال چلند وکړي. آرټيکل ۱، د انساني حقوقو نړيواله اعلاميه ۱۹٤۸ ز



۲۵۰: الحجرات ۱۱ ایت

۲۵۱: الحجرات ۱۱ ایت

۲۵۲: الحجرات ۱۱ ایت

۲۵۳: الحجرات ۱۱ ایت

۲۵٤: الحجرات ۱۲ ایت

۲۵۵: النساء ۱٤۸ ایت

۲۵٦: النور ۳۰ او ۳۱ ایتونه

۲۵۷: د کارځای اړوند اخلاقیاتو له سرغړونې څخه موخه هغه بد چلند دی چې د کار په ځای کې دننه وي. په دې کې د ملګرو له پامه غورځولو یا پرې د ملنډو وهلو غوندې ورو کړنو نیولې ان تر چیغو وهلو، لنډه غری یا ترهګرۍ غوندې سترو چارو پورې کړنې شاملې دي، د دې په پایله کې په دنده کې د ډاډ کمی، د کړکیچ ډیروالی، او د مامورینو په محصولي ورتیا کې کوالی راتلیشي.

۲۵۸: الحجرات ۱۲ ایت، القمان ۱۹ ایت، التوبه ٦ ایت، النساء ۲۹ او ۳٦ ، آل عمران ۱۳٤ ایت او البقره ۲۸۰ ایت

۲۵۹: الممتحنه ۸ ایت

۲٦۰: الانعام ۱۰۸ ایت

۲٦۱: النساء ۱۳۵ ایت

**262:Seyyed Hossein Nasr, The Study Quran ; Anew Translation and Commentry (New York ; Harpei One , An Impint of Harpie Collins Publishers , 2017) Joseph Lumbard, the Quranic View of Sscerd History and Other Religions.**

۲٦۳: البقره ۹۷ او ۹۸ ایتونه

۲٦٤: الاخلاص ۱ نه تر ٤ ایت

۲٦٥: الاعراف ۹٥ نه تر ۹۷ ایت پورې

۲٦٦: طه ٦ ایت

۲٦۷: الدخان ۳۸ او ۳۹ ایت

۲٦۸: المؤمن ٥۸ ایت

۲٦۹: الروم ۸ ایت او العنکبوت ٥۳ ایت

۲۷۰: الاعراف ۱۷۲ ایت

۲۷۱: الاعراف ۷۲ ایت

**272: Shahran, Mohd Farid Mohd. "Primordial Covenant as the Basis of Releigion: The Quranic Mithaq of Alastu According to syed Muhammad Naquib Al-Attas."**
**TAFHIM: IKIM Journal of Islam and the Contemporary world 15:1 (2022).**
**Al-Qadi, Wadad Kadi. "the Promordial covenant and Human history in the Quran." Proceedings of the American Philosophical society (2003): 332-338**
**273: Joseph Lumbard's article the Quranic View of Sacred History and Other religions in, seyyed hossien nasr, the study Quran: A New Translation and Commentary (New York, NY: HarperOne, 2015). pp. 1765-1784**

۲۷٤: الحجرات ۳٦ نه تر ٤۰ ایت پورې

۲۷٥: یونس ۱٤ ایت

۲۷٦: الاحزاب ۳٥ ایت، الانفال ٤ ایت، المائده ۹ او ۳۹ ایت

۲۷۷: الاحزاب ۳٥ ایت، الانفال ٤-۲ ایت، المائده ۹ ایت



۲۷۸: البقره ۲٥٦ ایت

۲۷۹: القمان ۲۰ ایت

۲۸۰: البقره ۱٦۸ ایت

۲۸۱: المرسلات ۲٥ـ۲٦ ایت الحجر ۱۹ـ ۲۰ ایت، الهود ٦ ایت او الانعام ۹۹ ایت

۲۸۲: التین ٤ ایت او المؤمنون ۱٤ ایت

۲۸۳: الاعراف ۱۱ ایت، البقره ۳۰ ایت

۲۸٤: الاعراف ۱۰ ایت

۲۸٥: الاعراف ۱۷ایت

۲۸٦: المؤمنون ٦٤ ایت او ابراهیم ۳۲ او ۳۳ ایت

۲۸۷: الصفات ٥ ایت آل عمران ۱۰۹ ایت

۲۸۸: البقره ۱۸٥ ایت

۲۸۹: النساء ۳٦ ایت

۲۹۰: د ټولنې او سیاسي حقوقو نړیوال تړون: پرته له هغې پابندۍ څخه چې د قانون له لورې رامنځته شوي او د قامي سلامتۍ، عامه امنیت، صحت عامه، اخلاقیاتو یا نورو حقونو او ازادیو د ژغورنې په موخه اړین دي،او نورو منل شویو حقونون سره سمون خوري. د هیڅ ممنوعیت منل په کار نه دي.

۲۹۱: **Article 31 Vienna Convention on Diplomatic Relations, 1961 and Article 43 Vienna Convention on Consular Relations, 1963.**

۲۹۲: الکهف ۱۰٦ ایت

۲۹۳: الرعد ۳۲ ایت

۲۹٤: النساء ۱٥۰ او ۱٥۱ ایتونه

۲۹٥: الاحزاب ٥۷ یت

۲۹۶: الحجرات ۲ ایت

۲۹۷: الاحزاب ٤٠

۲۹۸: الاحزاب ٤٠ ایت

۲۹۹: الکهف ۹۸ او ۹۹ ایتونه او القمان ۳۳ ایت

۳۰۰:په ځانګړې توګه د قانوني چارو پر مهال

۳۰۱: د بیلګې په توګه د ساختماني چارو یو ماستر کنټرکټ یا تړون وي، چې بې شمیره ضمیمې ورسره وي. او په کې د ډیزاین تفصیلات، د موادو تفصیلات، د پیروپلور چارې، زره کیدل،د دننه کار تفصیل او دې ته ورته نورې خبرې روښانه شوې وي.

۳۰۲: حم السجده ۳۷ ایت

۳۰۳: الفتح ۱۰ ایت، النحل ۹۱ ایت البقره ۱۷۷ ایت او البقره ۲۷ ایت

۳۰٤: د بیلګې په توګه د ټولنیز قانون د واک په دایره کې د سوتزرلینډ قاضیان د تفتیش واک هم لري.

۳۰٥:په قرانکریم کې د الله تعالی د رسۍ لپاره دوه کلیمې کارول شوط دي، یوځای فرمایي(واعتصمو بحبل الله جمیعا ولا تفرقوا) او بل ځای داسې راغلې دي: فمن یکفر با الطاغوت ویؤمن باالله فقد استمسک با العروة الوثقی.

۳۰٦: آل عمران ۱۰۳ ایت

۳۰۷: له سیدنا ابو شریح خزاعي رض څخه روایت دی چې رسول الله ص مونږ ته تشریف راوړ، او ویې فرمایل: خوشاله شئ، خوشاله شئ. ایا تاسو دا شاهدي نه ورکوئ چې الله تعالی بر حق معبود دی،او زه د الله تعالی رسول یم. اصحابو وویل ولې نه.بیا هغوی ص وفرمایل: دا قران یوه رسۍ ده، چې یو سر یې د الله تعالی په لاس دی، او بل سر یې ستاسو په لاس کې دی. دا کله ونیسئ، ځکه



چې له دې وروسته تاسو هیڅکله نه بې لارې کیږئ، او نه هلاکیږئ. صحیح ابن حبان ۱۲۲

۳۰۸: د پکټ سنټ سروینډا مانا ده،(د تړون ساتل او پرځای کول اړین دي)
**(St.paul, MN: Thomson-reuters, 2004)**

۳۰۹: الروم۳۹ ایت او البقره ۲۷۲ ایت

۳۱۰: النساء ٦٤ او ۱۰٦ ایت